
# د مـــارکس ژوند

## د انقلابي تیورۍ او عمل په جریان کې



لیکوال: مـلا انــور
بیا ټایپ: بریالی خواریکښ

# د مارکس (۱۸۱۸- ۱۸۸۳م.) ژوند
# د انقلابي تیورۍ او عمل په جریان کښې

لیکونکی: ملا انور

۱۳۵۹ل. کال

د کتاب نوم: د مارکس ژوند د انقلابي تیورۍ او عمل په جریان کي

لیکوال: ملا انور

بیا ټایپ: بریالی خواریکښ

ډیزاین: هوبر سپنتا

لومړی چاپ: ۱۳۵۹ ل. کال

د برېښنایي خپرولو نېټه: ۱۴۰۰ ل. کال

## د لیکوال پېژندنه

کاندید اکاډمیسن محمد انور نومیالی د ۱۳۰۶ ل کال د سلواغې پر ۲۹ مه په کندهار کې زیږېدلی دی. په ماشومتوب کې یې د عصري علومو پر ځای دیني زده کړو ته مخه کړل او د ملایۍ تر حده پکښې ورسېدئ. د زده کړو پر وخت یې د مطبوعاتو سره اړیکه پیوند او له شعر و شاعرۍ سره مینه پیدا سول. د کندهار په طلوع افغان ورځپانه کې یې وخت ناوخته شعرونه او لیکنې خپریدلې، خو د وخت په تیریدو سره یې تر شعر د نثر لیکل خوښ کړل او د ښه نثر لیکلو د شوق او لېوالتیا په سبب یې پراخو مطالعو ته مخه کړه. د نړۍ د مترقي نظریاتو او فلسفو سره تر آشنا کېدلو وروسته، د مارکسیستي فلسفې سره هم آشنا سو او د وخت په تیریدو سره یې د ملایۍ د بې گټې او بې سوده کسب و کار پر ځای، د علمي څېړنو او ژباړو ډگر ته ودانگل او د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړیتوب او کاندید اکاډمیسن رتبې ته ورسېدئ.
نومیالی د ۱۹۹۱م. کال د نومبر د میاشتې په اوایلو کې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د ازبکستان د تاشکند پر خوا رهي سو، چې هدف ئې د والټر بیلیو د ( An Inquiry into the Ethnography of Afghanistan) اثر لاس ته راوړل وو. پر همدې مهال، په وطن کې د جهادي تنظیمونو تاړاک را پیل سوی وو او نومیالي و نه سوای کولای، چې بیا خپل پلرني هیواد ته را وگرځي. د ۱۹۹۲م. کال د اپریل پر پنځلسمه له تاشکند څخه د تاجکستان پر خوا رهي سو او له هغه ځای څخه د ۱۹۹۲م. کال د اکټوبر په پای کې روسیې ته ولاړی. نومیالي خپل اکثره آثار په روسیه کې ترتیب او چاپ کړل. تر روسیې وروسته ډنمارک ته ولاړئ او د ژوند تر پایه پوري هلته وو. استاد په ۱۳۸۵ لمریز کال کې په ډانمارک کې ومړ، جنازه یې کندهار ته انتقال سول او میت یې د کندهار پوهنتون د مشاهیرو په هدیره کې خاورو ته وسپارل سو.
د ک. اکاډیمیسن م. انور نومیالي د قبر پر شناخته لیکل سوي دي:
«د افغانستان متفکر، پوه، تکړه او ځیرک څېړونکی، خوږ ژبی لیکوال او شاعر کاندید اکاډیمیسن اراواښاد استاد محمدانور نومیالی د حاجي ملا محمدنعیم اخند زوی او د غلام محی الدین لمسی، د

۱۳۰٦ل. کال د سلواغې پر ۲۹مه (۱۹۲۸/ Feb/ ۱۹) په کندهار کي زېږېدلی دئ. استاد محمدانور نومیالي په دیني علومو، فلسفه، تاریخ، ټولنپوهنه، توکمپېژندنه، فولکلور او ادبپوهنه کي ګڼ شمېر څېړني، پنځوني او ژباړني افغان اولس او بشري ټولني ته پرېِ ایښي دي. هغه زړهسواند، سپېڅلی، رښتینی، هوډمن، شریف، حلیم، متین او هڅاند انسان وو. افکار ئې د یوې مختصري جغرافیې په حدودو کي محدود نه ول، بلکي د ټولو انسانانو دپاره ئې د میني او سولي د پراخ انسانستان فلسفه پالله.

را ځئ پاکه، تصفیه کړو له نفرته خپله وینه

په یـوه انسانستان کـي مینه ولمانځو په مینه

استاد نومیالی د ۱۳۸۵ل. کال د تلي پر دوولسمه (۲۰۰٦/ October/ ۴) د ډنمارک هیواد په البورګ ښار کي په پردېسۍ کي په حق رسېدلی دئ. روح دي ئې ښاد او یاد دي ئې تل پاته وي!»

نومیالي خپله اټو بیوګرافي د پښتو د لیکوالانو او شاعرانو د پېژندګلوۍ په مشهوره کتاب «اوسني لیکوال» کي هم خپره کړې ده، چي دلته به هغه هم کټ –مټ را واخلو:

«زما پلار د ماروپ له الیزو څخه دئ. د ده ژوند وار د واره په شپني را شروع سوی دئ، بیا ئې د خپل کور او کلي له بد حالت څخه مخ پر بره نیولی دئ او د انګرېزانو د وخت و پراخ هندوستان ته ورغلی دئ. هلته ئې د تیاري ډوډۍ لار خوښه سوې ده؛ نو ئې په طالبۍ شروع کړې ده. دی وایي: په سبق کي کوټه ذهنه وم، خو قرئت مي ښه زده کېدی.

د ده طبیعت چي له لومړي سر څخه ښورانده وو، نو د خپلي طالبۍ په سلسله کي کندهار ته راغی، دلته ئې شناخت او اعتبار پیدا کی، څو چي کتاب خرڅوونکی سو او دا کار ئې ورو ورو په خفافۍ الیش کی او تر اوسه لا هم، چي سن ئې ۹۵ کالو ته رسیږي، د ډوډۍ په ګټلو پسي دوکان ته را وځي. ده په کندهار کي هغه وخت زما مور وغوښتله، چي دمخه ئې دوې ماینې مړې سوي وې او زه ئې له دریمي کندهارۍ ماینې څخه څلورم اولاد یم، چي د امیر امان الله خان زوال زما د زوکړي سره مصادف دئ. زما پلار چي زه ګورم، د ژوند په دوران کي نسبت عادي خلکو ته اخلاقي فوق العاده ګۍ ئې درلودلي دي او مور مي ځیرکه، مذهبي، کارنده او ګټندویه ښځه ده. د دې دوو انسانانو

له مرکب فعالیت څخه زما دغه وجود منځ ته راغلی دئ، چي اوس ئې د شخصي تاریخ پر هغه اړخ یو څو خبري کوم، چي زما له خوا څخه باید وسي.

زما پلار که څه هم داسي ملا نه سو، چي هوسا ډوډۍ ور ورسیږي او د زکاتو سرې غلې په کور کي واړوي، اما د ملا په نامه ئې شهرت پیدا کی. ده د خپلي ملایۍ آرزو په دې الیشه کړه، چي باید زما زامن ملایان سي. زه چي د ده لومړی پایېدلی زوی وم، نو که څه هم زما مړام او محجوب طبیعت د ده چنداني خوښ نه وو او د توند او لچر مزاج سره ئې مینه وه، خو بیا ئې هم د خپلي آرزو په تر سره کولو کي ما ته ډېره برخه را ایستلې وه. په زور، رضا، خوشامند او په هره وسیله ئې کوښښ کاوه، چي په ما کي د ملایۍ ذوق وروزي. رشتیا هم د کندهار په ملاخېزه او ملاتوازه مځکه کي دا نامعقول کار ډېر معقول سړي ته ایسي او یوازي له دې لاري څخه د خواري طبقې یو سړی د آبادي طبقې په اجتماعي امتیازاتو کي سهیم کېدلای سي. سبق ئې را شروع کی، استاذان ئې را مقرر کړل او د ده لاس چي د امانت کارۍ په وجه د بل په روپو کي خلاص وو، نو د نورو خلکو ډېري روپۍ ئې په دې لار کي بې ځایه ولګولې. ده به اکثره ویل: ارمان به نه کوم، چي زوی مي په ماجت کي و ساړه ټوک ته ناست وي او پنځه، شپږ څو نور طالبان پر را څرخېدلي وي، دی سبق ورته وایي.

په هر کال کي چي به یو پلا مکتب ته د هلکانو د کشولو هښمه تېرېده، نو دا به زما پر پلار ډېره سخته تمامېده، خو زموږ د ناحیې سمتي مامور، چي سور پنډ سړی وو، زما پلار نهایتي ځني بېرېده او زه هم چي د ده مطلقیت را په یادوم، چي په خورا زبردستي به ئې خپله دا کوله او د بل دا به ئې نه اورېدله، نو تر اوسه له سرکاري خلکو څخه بېرېږم او تراه مي ځني کیږي. دې مامور به د خورا ډېرو پیسو په مقابل کي هره پلا زما د پلار سره مرسته کوله، چي ما له مکتب څخه خلاص کړي.

زما د ملایۍ له زمختو سبقانو سره چنداني جوړه نه وه، نو مي په ظاهره ویله او په اصل کي مي تر سر تېروله، خو په عوض کي مي خط کښې او یا مي په نورو لاسي مشاغلو سات تېراوه. که څه هم د خط پر کښلو به د پلار د توند طبیعت فشار تهدیدولم، اما زما چي د ذوق موضوع وه، نو ځني منعه کولای ئې نه سوم.

له دې جملې څخه لوی او کوچني حوادث ئې وبولئ، چي زما د ذهن حرکت ئې و یوه سمت ته اداره کاوه. پلار په نس ښه ساتلو، اما په کالو ئې ښه نه پټولو او د دغي تربيې اثر ئې وبولئ، چي اوس هم هر کله زما د نس سويه تر کالو لوړه وي.
د پلار ځيني ايله خرڅی چي ما ليدلې، نو د ده په مقابل کي ئې زما اعتراضات را وپاڅول. مجادله مي ور سره قايمه کړه او ورو ورو د ده له قهره او غضبه زما بېره کمېده، څو چي په دې سلسله کي مي داسي استقلال ځني واخيستی، چي ډوډۍ مي د ده خوړله، لاکن لار مي د ده نه پالله. ده هم د خپلو تهديداتو، هداياتو او نصايحو په عوض کي يوازي په دې کفايت وکی، چي «بې‌لاری» مي وبولي.
زما چي خودسرانه حرکت ته پښه خلاصه سوه، نو د کور، کوڅې او خپلوانو له خوا څخه هم خولې را پسي خلاصي سوې او ډېري خبري ئې را پسي کولې، خو ما چي خپل ژوند د ځان له پاره کاوه، نو مي د دوی په خبرو پسي سر نه گرځاوه او نه مي د دوی تمناوي په ځان کي تطبيقولې، بلکي پر خپل سر مي زور وو او د خپلي ارادې خپله لار مي پالله.
کله مي خطاطي کوله، کله مي په شوقيانه ډول په يوناني طبابت گوتي وهلې، گاهي مي د تعويذاتو کسب ته ميل وو، گاهي مي بيا د کېمياگرۍ لاره خوښه وه، کله مي غزلي جوړولې، کله مي نکلونه زده کول او کله کله به د حقيقت او خطا په باب کي د تفکر اشتها هم را ولاړېدله.
دغه وختي وې، چي د يوه ملگري په وسيله زما يوه غزل په طلوع افغان کي خپره سوه او سر له هغه وخته څخه نو ما کله کله غزلي ليکلې او مطبوعاتو ته مي ور لېږلې؛ لاکن د شعر ويل چي مي طبيعي نه وه، نو ما هم ژر د نثر خوا ته توجه وکړه او اوس نو تقريباً دوولس کاله کيږي، چي د خپل ذوق پر اساس باندي په خودسرانه کورس کي خپل ځان روزمه.
هغه وخت چي زما د مطبوعاتو سره علاقه پيدا سوه، نو ښه مي په ياديږي، چي يو وخت مي اخبار کتی، د ښار يو لوی ملا چي هلته نژدې ناست وو، وار د واره ئې زما هويت وپوښتی او وروسته ئې نو د پېرزويني په ډول راته وويل: هلکه! دا مه گوره، دا گرده درواغ دي او د سړي عقيده هم خرابوي. ما چي د پلار دا نه منله، د ده دا مي چيري منلای سوای. په زړه کي مي مخامخ ورته ويل، چي ملا اکا! د سواد په خوند مه سې خبر، ولا ډوډۍ خو پکښي رېزه کړې!

د مطبوعاتو سره د ارتباط په سلسله کي ډېرو خلکو زما پلار ته زما د بدي آينديې پيش‌بينی وکړې او دی به په دې هم ډېر زهيرېدی. د کندهار د غرضي خلکو چي څونه وس وو، زه ئې هم بې‌تکليفه نه يم پرې ايښی او دا د مطبوعاتو آشنايي (که څه هم مادي گټه خو مي ئې نه ده ليدلې، بلکي لا ډېر پکښي زهير سوی يم) ډېره قيمتي راته تمامه سوې ده.

د مطبوعاتي ارتباط د پاللو له پاره لومړی ما د ژبي په تقويه کولو لاس پوري کی، خو په متې د پنځو کالو په موده کي لا پوره موفق نه سوم، چي د عربي لغاتو هغه غلط تلفظونه تصحيح کړم، چي د محلي ملايانو له خوا مي پر ژبه کښېنستلي ول. اوس مي عربي هېره کړې ده او آرزو لرم، چي زما او زما د انډيوالانو د دنيا مترقي ژبي، مترقي فلسفې، مترقي ادبيات او مترقي اجتماعيات په اصولي ډول زده سي.

دا وې له هغي جملې څخه يو څو خبري، چي زما له خوا ئې په ما اړه درلوده، خو د بل له خوا چي به په ما اړه لري، هغه البته د بل چا کار دئ!»

(۱- دغه اټوبيوگرافي ک. اکاډيميسن م. انور نوميالي د «اوسني ليکوال» له پاره عبدالرؤف بېنوا ته ليکلې ده، چي د ۱۴مي لمريزي پېړۍ د پنځمي لسيزي په اوايلو کي -کله چي په افغانستان کي يو سلطنتي - ارتجاعي دولت حاکم وو- خپور سوی دئ. بېنوا ليکوالو ته وعده ور کړې وه، چي د هيڅ چا په ليکنو کي به لاسوهنه نه کيږي، خو نوميالي په خپل بل ناچاپ اثر «تخوني- چستوښکي» کي کښلي دي، چي د بېنوا له وعدې سره سره بيا هم د ده له ليکني څخه مهم موضوعات غورځول سوي دي.) (وگ: د بېنوا اوسني ليکوال، د نوميالي تخوني)

د کانديد اکاډميسن م. انور نوميالي ليدل سوي آثار په لاندي ډول دي:

١. د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي (مسکو، ۱۹۹۰م.)
٢. د کوډو سرنوشت د علمي پلټنو په رڼا کښي (مسکو، ۱۹۹۰م.)
٣. انسان او تکامل (ترجمه)
٤. د افغانستان د ايتنوگرافی په باب يوه پلټنه (د والټر بيليو د اثر پښتو ترجمه)

5. د ملي مسئلې په حل کي زموږ انقلابي لار (۱۳٦٥ل.)
6. د مارکس ژوند د انقلابي تیورۍ او عمل په جریان کښې (۱۳۵۹ل.)
7. هند له لومړي کمونیزم څخه تر مریيتوب پوري (ترجمه، ۱۳٦۴ل.)
8. د افغانستان توکمونه (ژباړه، سریزه، لمن‌لیکونه او تعلیقات)
9. هغه پلا او دا پلا (یونلیک)
10. میتودلوژی تاریخ (د ژوکوف د اثر پاړسي ژباړه، ۱۳٦۳ل.)
11. یو زر او یوه شپه (لومړی ټوک، مسکو، ۱۹۹۰م.)
12. یو زر او یوه شپه (دوهم ټوک، مسکو، ۲۰۰۲ م.)
13. یو زر او یوه شپه (دریم، څلورم او پنځم ټوکونه، ناچاپ)
14. بانډار (د تخونو ټولګه، ناچاپ)
15. زما د پوهني حدود د حقیقت په مخ کي (ناچاپ)
16. تخوني یا چستوښکي (ناچاپ)
17. هزار و یک قتقتک (د تخونو ټولګه، ناچاپ)

# سریزه

د تاریخ په بهیر کې داسې لوی شخصیتونه راځي، چې د کار او خدمتونو اغیزې ئې په کوم تاریخي پړاو یا کومي جغرافیې پوري نه محدودیږي، بلکې د بشري تمدن په حافظه کې تلپاتی ځای نیسي. د میلیاردونو انسانانو د ژوندانه د کیسو او داستانو له منځه، دا مقام د هغو خلګو په برخه کیږي، چې د خپل ځان، کورنۍ او توکم ور هاخوا ئې د ټول بشریت ښېګنې په پام کې نیولي وي او د دې نړۍ د لا ښه کېدني له پاره ئې لوی کارونه او خدمتونه ترسره کړي وي.
کارل مارکس؛ په بشري تاریخ کي د هغو لویو علمي او انقلابي شخصیتونو له ډلې څخه دئ، چې د خپل ژوند ټول علمي، سیاسي او انقلابي کار ئې همداسې یو لوی مرام ته ځانګړی کړی وو، چې هغه د انساني نړۍ او اقتصادي مناسباتو انساني کېدل ول.
مارکس په ځوانۍ کې د حقوقي علومو د ډاکتر په توګه خپل علمي کار پیلوي او په پخوانیو زمانو کي د بشري تاریخ له ټولي معنوي پانګي سره ځان بلدوي. په دې ځان پوهوي، چې له پخوا پخوا څخه د بشریت د لوی اکثریت، اصلي ورځنۍ چاره او مصروفیت د ژوندي پاته کېدلو له پاره د خپلو مادي اړتیاوو پوره کول ول، چې دا اړتیاوي ئې په طبیعت کې د تولید په وسایلو سره د کار له لاري پوره کولې.
د بشر د لیکل سوي تېر تاریخ په ډېره برخه کې که د امپراطوریو، قبایلو او سلاطینو ترمنځ د جګړو، وژنو او پاچاهانو د ماڼیو جوړولو او عیاشیو داستانونه راغلي دي، خو د مارکس پام په تېر تاریخ کې، د ټولو تېرو زمانو هغه عام زیار ایستونکي بشریت ته، چې په ډېرو سختو شرایطو کې ئې په پټیو، ماڼیو او ښارونو کې د مریي، بزګر، مزدور او کسبکار په توګه تولیدي کار کاوه او د حاکمو مناسباتو له مخې به ئې د خپل تر سره سوي کار ډېر لږ محصول لاسته راوړی؛ ته اوړي او د هغوی و ناپایه رنځونو، کړاوونو او مصیبتونو ته ئې پام کیږي. دلته وایي، چې «د بشریت ټول تاریخ د خوړو پر لور مزل دئ.»
مارکس د دغو ټولو مظالمو او کړاوونو سربېره، په تاریخ کې نه دریدونکي تکاملي حرکتونه او لوی اوښتونونه هم ویني او دلته ئې بیا پام کیږي، چې د هغو لویو اوښتونو اساس، د تولید د وسایلو له

اوښتون سره، د توليدي مناسباتو په اوښتون کي دئ. مارکس د تاريخي مسايلو اړوند ډېره دقيقه ميتوډولوجي کاروي، چي نوموتی امريکايي فيلسوف او تاريخپوه ويل ډورانټ ئې په اړه ويي: «ښايي د تاريخ په تفسير کي موږ ټول مارکسيستان اوسو.»

تر تاريخ را په دې خوا، مارکس په داسي زمانه کي ژوند کوي، چي د توليد وسايلو نسبت ټول پخواني بشري تاريخ ته ډېر تکامل کړی او انسانان له کوچنيو مايکروسکوپيکو اجسامو څخه نيولې د لويو ټلسکوپيکو اجسامو په پېژندنه کي، ورځ تر بلي نوي پرمختگونه کوي. په همدې موده کي انسانان حجره کشفوي، د انرژۍ د پايښت قانون پېژني، په طبيعي او ټولنيزو علومو کي نوي څانگي او نوي ډلبندۍ را منځ ته کيږي او دونه مادي او معنوي پانگه توليديږي، چي بشريت ئې په خپل پخواني تاريخ کي ساری نه لري. مارکس چي له وړاندي ئې لا په تاريخ او په هغه کي د اوښتونو په قانونمنديو ښه عقل پوخ وو، په بېلابيلو علومو او برخو کي، د بشريت د نويو کشفياتو او لاسته راوړنو په استناد، د خپل وخت حال او اوضاع څېړي.

هغه چي د تاريخي اوښتونونو په قانونمنديو کي ئې مادي او اقتصادي اساسات موندلي ول؛ له هماغي ميتوډولوجۍ څخه په گټي اخيستني په خپل عصر کي د پانگوالي نظام دقيق تحليل او تجزيې ته هم ملا تړي. تر بېلابيلو علمي څېړنو او شننو وروسته دې پايلي ته رسيږي، چي د پانگوالۍ نوی اقتصادي نظام سره له دې چي په بشري ژوندانه کي د ډېرو لويو کمي او کيفي بدلونونو د را منځ ته کېدو لامل سو؛ بيا هم په خپل ځان کي د تضادونو هغه زړي/ زوني لري، چي تر پانگوالۍ مخکي اقتصادي نظامونو په ځان کي درلود او د هغو تضادونو د دقيق تحليل او تجزيې څخه دا پايلي تر لاسه کيږي، چي پانگوالي نظام هم د پخوانيو اقتصادي نظامونو په دوام، پر ځبېښاک ولاړ نظام دئ او په خپل ځان کي د موجودو تضادونو پر اساس، له دايمي اقتصادي بحرانونو سره مخ کيږي، چي دا بحرانونه بيا په ځانگړو عيني او ذهني شرايطو کي، و يو نوي اقتصادي نظام ته د جوړولو لار هواروي، چي د پانگوالۍ له بطنه به راوځي او د ټولو مخکينيو طبقاتي او پر استثمار ولاړو نظامونو پرخلاف به د توليدي وسايلو د تکامل له عالي سطحي سره، له انسان څخه د انسان استثمار او اقتصادي بحرانونه له منځه وړي او هغه «کمونستي» ټولنه ده، چي لومړی فاز ئې د سوسياليستي ټولني را منځ ته کېدل دي.

د اقتصاد په علم کي دغو پایلو ته له رسېدلو سره مارکس ته پوښتنه ور پیدا کیږي، چي د یو انسان او یو فیلسوف په توګه، نو د ده رسالت څه کېدلای سي؟ د دې پوښتني ځواب دا کیږي: «د فیلسوفانو کار تر دې ځایه یوازي د نړۍ تفسیرول ول، خو اصلي خبره د نړۍ پر بدلولو ده.» ښه، اوس به نړۍ څوک بدلوي؟ په همدا نابدله سوې نړۍ کي خو ډېر خلګ جنت ته ورته د ژوندانه امکانات لري. د دې ځواب بیا دا دئ، چي نړۍ به هغه څوک بدلوي، چي کار کوي، زیار کاږي، خو د خپل کار محصول لاس ته نه راوړي او د کارګرانو او زیار ایستونکو ډلهییز کار او زیار د دې پر ځای چي نړۍ لا ښکلې، هوسا او آرامه کړي؛ د څو خلګو په شتمنۍ، عیاشۍ او د جنت ډوله ژوندانه د نامحدود خواهشاتو په پوره کولو لګیږي. نو د نړۍ د بدلولو رسالت د پرولتاریا (کارګري طبقې) او د هغه د آګاهو مخکښانو پر غاړه دئ.

همدلته دئ چي د مارکس له قول سره سم، پرولتاریا په فلسفه کي خپله وسله پیدا کوي او فلسفه په پرولتاریا کي په مادیت اوړي. مارکس د نړۍ د بدلولو امکانات په پرولتاریا کيویني او د پرولتاریا سیاسي حاکمیت را منځ ته کول، چي د تولید د وسایلو له ټولنیز کولو سره، د سوسیالیزم او کمونیستي اقتصاد د جوړېدلو لامل ګرځي؛ خپله وظیفه ګرځوي او د همدې کار له پاره خپل ټول ژوند ځانګړی کوي، چي پاته شرح به ئې تاسي په همدې کتاب کي ولولئ.

په ۱۸۸۳م. کال کي د مارکس تر مړیني وروسته، مارکسیزم د اروپا په کارګري او روښانفکرو کړیو کي پراخیږي او د دوی ټولو له منځه ئې روسی ولادیمیر ایلیچ لنین له روح سره ښه ځان بلدوي او د هماغه میتوډولوجۍ څخه په ګټي اخیستني سره، د خپل وخت مسایل څېړي. لنین، مارکسیزم له مشخصي وضعي څخه د مشخص تحلیل په توګه پېژني او له خپلي همدې پېژندني سره سم، «څه باید وکړو؟» «امپریالیزم، د پانګوالۍ د وروستي پړاو په توګه» او لسګونه نور آثار او مقالې لیکي او د روسیې بلشویکانو ته داسي دقیق مارکسیستي سیاسي او انقلابي تعلیمات او لارښووني ور کوي، چي حاصل ئې د ۱۹۱۷م. کال د اکتوبر په انقلاب کي تر لاسه کیږي. د روسیې د اکتوبر تر سوسیالیستي انقلاب وروسته، چي کله به هم د شوروي اتحاد او د هغه د سیاسي او اقتصادي سیستم یادونه کېدل؛ خامخا به د مارکس او مارکسیزم –لنینزم نوم هم ور سره تړلی وو. د اکتوبر له انقلاب او د نړۍ په نورو برخو کي د لویو سوسیالیستي او خلقي انقلابي دولتونو له جوړېدو سره چي هغه مهال د مځکي د

کُرې ٪۳۰ مساحت او ٪۳۵ نفوس پکښي شاملېدل او له چین، ویتنام، لاوس، شمالي کوریا او کوبا پرته، یوازې د اقتصادي تعاون شورا سوسیالیستي هیوادونو (شوروي اتحاد او ختیځې اروپا) د نړۍ یو ثلث صنعتي تولیدات عرضه کول او د تولیداتو کچه ئې د ۱۹۵۰م. او ۱۹۸۴م. کلونو تر منځ ۱۵ برابره زیاته سوې وه، چې همدا کچه په پانګوالي هیوادونو کې یوازې ۴ برابره وه او سوسیالیستي هیوادونو په بېلابیلو سیاسي، علمي، ټولنیزو، اقتصادي او انساني برخو کې ډېر لوی بدلونونه را وستل او ډېرې لویې لاسته راوړني ئې ودرلودې؛ نو مارکس هم له سوسیالیستي هیوادونو څخه نیولې بیا تر پانګوالي هیوادونو پورې، په ټولو کې د پېژندنې په عروج کې وو، ځکه د ده او لنین له تعلیماتو سره سم، جوړ سوي دولتونه په نړۍ کې د سولې، پرمختګ او یووالي مخکښان ول او له هر ډول استثمار څخه د بشر د خلاصون له پاره ئې مبارزه کول، خو په همدې موده کې چې کله (سړه جګړه) چې د پانګوالۍ او سوسیالیزم تر منځ د ټکر پایله او د طبقاتي ماهیت درلودونکې وه؛ را منځ ته سوه، نو د شوروي او کمونیزم ضد تبلیغاتو او بېرې په خپرولو کې په پراخ مقیاس کار پیل سو. په دې لړ کې د پانګوالي هیوادونو رسنیزو، کلتوري او علمي مرکزونو، اول پر ستالین او بیا پر لنین د توندلارۍ او ولنتیاریزم تورونه وتړل او بیا ئې مارکس هم په پخوا وختونو پورې تړلی، له علمي نظریاتو څخه لیرې او د ایټوپیایي خیالاتو درلودونکی مفکر وګڼی. هغو چې لږ به ئې ګذاره کول، نو دا به ئې ویل، چې مارکس یو لوی عالم او فیلسوف وو، خو انقلابي نه وو او که ژوندی وای، نو د اوسنیو انقلابونو ملاتړی به نه وای(!) او د کارګري طبقې سیاسي حاکمیت د ده هیله او غوښتنه نه وه (؟)
د سړې جګړې په وخت کې پر مارکس دا ډول تورونه که په متمدنو سرمایه داري هیوادونو کې لګول کېدل، خو په هغو هیوادونو کې چې د قومي او مذهبي ارتجاع د سیاسي حاکمیت پیاوړتیا پکښې ډېره وه، هلته لا تونده او ناوړه ژبه ورته کارېدل. د بېلګې په ډول، د سعودي عربستان د مفت خورو او بې فرهنګه شیخانو له ډلې، د سعودي د وخت امیر ملک فیصل، چې د امریکایي امپریالیزم په غوښتنه ئې د شوروي اتحاد پر وړاندې د اسلامي هیوادونو ټلواله جوړوله، په ۱۹۶۵م. کال کې اسلامي هیوادونو ته د خپلو سفرونو په لړ کې له هر ستېج څخه د مارکسیزم او کمونیزم ضد څرګندوني کولې او په یوه څرګندونه کې ئې وویل: «مارکسیزم یو ورانوونکی مرام دئ، چې یو پست او جاهل یهودی ئې بنسټ ایښوونکی وو.»

کله چي په ۱۹۹۲م. کال کي د لویو توطیو او پرشاتگونو په لړ کي، شوروي اتحاد او نور سوسیالیستي دولتونه په پانګوالي دولتونو واوښتل، همدا وخت مارکس هم ښه وکوتل سو او د پانګوالي هیوادونو رسنیو او روښانفکرانو د پانګوالۍ په حقانیت کي په ساعتونو ویناوي او په کتابونو لیکني وکړې. د مارکس علمي شخصیت، مارکسیستي میتوډولوجي، مارکسیستي ادبیات، مارکسیستي تعلیمات او یوې بې طبقې ټولني او له انسان څخه د استثمار خلاصون هیله او ارمان ټول تر وخت تېر وبلل سول او په ډېر شدت سره ئې پر ځای د تاریخ پای، د تمدنونو جنګ، نهیلیزم، پاسټ موډرنیزم او نور ډول ډول بورژوازي تیورۍ تبلیغ او ترویج سوې، چي دا چاره تر نن ورځي پوري هم دوام لري.
د ننني نړۍ حاکمان، د شلمي پېړۍ تجربو ته په کتو سره هڅه کوي، د رسنیو، روښانفکرانو، بحثونو او نورو ټولو عامه پوهاویو له لارو څخه داسي څه خپاره کړي، چي خلګ له مارکسیستي تیورۍ او مارکسیستي تعلیماتو څخه په پوره شدت سره لیري وساتي؛ ځکه که چا مارکس ولوستی، هغه د ټولنیزو اقتصادي مناسباتو په جوړښت او قانونمندیو پوهیږي او که ئې څوک په جوړښت او قانونمندیو پوه سي؛ هغه ئې د بدلون له پاره اقدام کوي، چي همدا ځای د نړۍ د حاکمانو ګټي له ګواښ سره مخ کوي!
زموږ په هیواد کي هم د ثور تر انقلاب وړاندي لا د مارکسیستي فلسفې اړوند کتابونه لوستل کېدل، د ثور تر انقلاب وروسته، ډېرو اپرچونیستو عناصرو په ویاړ سره ځان ته مارکسیسټ – لنینیسټ وایه او په ۱۳۷۱ل. کال کي د افغانستان د ډموکراټیک جمهوریت تر سقوط وروسته، چي د دین په نامه سیاست کوونکي ډلي، د لیبرالو تکنوکراتانو سره یو ځای میدان ته راغلې او تر نن ورځي د دې ډګر مخکښ لوبغاړي دي؛ په سیاسي او فرهنګي ډګر کي مارکس او مارکسیزم بېخي متروک دي.
د شوروي اتحاد تر له منځه تللو دېرش کاله وروسته، نړۍ له چټکو علمي او تخنیکي پرمختګونو سره سره د ورځ تر بلي ډېرېدونکو ستونزو سره مخ ده. د ملګرو ملتونو د سازمان له خوا د خپرو سویو ارقامو له مخي، کال تر بله کاله د لوږي او بې وزلۍ کچه لوړیږي، شاوخوا ۵ ملیارډه انسانان د ټولنیز ملاتړ له سیاستونو څخه بې برخي دي، د چاپېریالي بدلونونو په ترڅ کي یو میلیون ډوله حیوانات او نباتات د انقراض له ګواښ سره مخ دي، د اخلاقي او فرهنګي زوال له کبله د ټولنیزو ګډوډیو او جرایمو کچه ورځ تر بلي پر زیاتېدو ده، د بې تدبیره سیاستوالو په واکمنیو کي، د نویو جګړو د

پیلېدلو اټکلونه ډېر دي او فاشیزم، راسیزم او توکمپالونکو سیاسي بهیرونو بیا ځلي سر را پورته کړی دئ.
دا ټول داسي لوی گواښونه دي، چي د بشري تمدن ثبات او امنیت په ټینگه سره گواښي او پرته له شکه د دې ټولو ستونزو واحده ریښه د پانگوالي نظام په حاکمو تولیدي مناسباتو کي ده، چي مارکسیستي تعلیماتو په ډېر ښه توگه سره تحلیل او تجزیه کړي دي. د بېلگي په ډول، د اکسفام اداري د راپور له مخي، که د ۱۹۹۵م. کال راهیسي، تر دا اوسه د نړۍ د ٪۱ خلگو په شتمنۍ کي، د نړۍ د ٪۵۰ خلگو د شتمنۍ په نسبت ۲۰ برابره زیاتوالی راغلی دئ، خو د کرونا وبا د خپرېدو له پیله تر اوسه، د نړۍ د لسو تر ټولو زیاتو شتمنو کسانو شتمني لا پسي دوه برابره سوې ده او په هرو ۲۶ ساعتونو کي یو میلیارډر د میلیاردرانو په ډله کي زیاتیږي، په داسي حال کي چي د نړۍ د ٪۹۹ اوسېدونکو په عاید کي د پام وړ کموالی راغلی دئ؛ په هرو څلورو ثانیو کي یو کس د کرونا او هر کال له لوږي څخه ۲,۱ میلیونه انسانان خپل ژوند له لاسه ور کوي. د اکسفام اداري د همدې راپور له مخي، د نړۍ د ۲۰ شتمنو کسانو اقتصادي فعالیتونه، د یو میلیارډ انسانانو د فعالیت په نسبت، د ۸۰۰۰ برابره زیاتو غازاتو او فلزاتو د تولید لامل سوي دي. درانه لوستونکي دي همدې ارقامو ته په ځیر کېدو سره فکر وکړي، چي په نړۍ کي د ډېرو ستونزو له جملې، د دا دوو اصلي ستونزو (لوږي او چاپېریالي بدلونونو) اصلي لامل د پانگوالۍ مناسباتو پرته څه کېدلای سي؟
همداسي په وروستیو ورځو کي د نړۍ ۵۰ نوموتو ساینسپوهانو په گډه یو لیک خپور کړی او په هغه کي ئې یادونه کړې ده، چي زموږ سیاره نوره ټوله مصرف سوې ده او د دولتونو د نویو طرحو د عملي کولو، چي په هغه کي چاپېریالي ښه والی او د لوږي او بې وزلۍ له منځه وړل شامل دي؛ عیني امکانات نه سته. مارکسیستي تعلیمات دلته موږ ته را ښیي، چي پوښتنه وکړو، آیا ځمکه په بالقوه ډول سره د زیات و کم ۸ میلیارډو انسانانو د ښه ژوندانه له پاره، داسي چي د دوی لومړني مادي او معنوي اړتیاوي، لکه: کور، کالي، ډوډۍ، امنیت، زده کړي، روغتیا او کار پکښې تامین سي؛ امکانات نه لري؟ طبیعي علوم دا پوښتني ته منفي ځواب ور کوي او وایي، چي په مځکه کي تر دې د زیاتو انسانانو له پاره لا هم د ښه ژوندانه امکانات سته، خو دا چي ولي نه برابریږي، دا پوښتنه بیرته مارکسیزم – لنینزم ځوابوي او د هغه ځواب دا دئ، چي مځکه تر دې ډېرو انسانانو ته د ښه ژوندانه

برابرولو امکانات لري، خو د پانگوالۍ د مناسباتو د حاکمیت له کبله، چي د مځکي د شتمنیو او سرچینو ډېره برخه د محدودو کسانو په مالکیت کي راغلې او د آزاد بازار په ځنگل ډوله نظم کي، په نامنظم او بې پلان سوي ډول، د پانگوالو د حرص د پوره کولو له پاره پر کار اچول سوې ده، نو ځکه موجوده انسانانو ته لا هم د مناسب ژوندانه امکانات نه دي برابر سوي. طبیعي شتمنیو او د مځکي سیارې ته د پانگوالو دا ډول حرص که همداسي پاته سي، نو نه یوازي به مځکه په پوره ډول مصرف سي، بلکي څو نوري سیاري به لا هم د انسانانو تر گذارې وباسي. بې ځایه نه وه، چي روزا لوکزامبورگ به ویل: «یا سوسیالیزم، یا بربریت!» د سوسیالیزم (چي په هغه کي د ټولني اړتیاوو او د طبیعت امکاناتو ته په کتو سره، پلان سوی اقتصاد را منځ ته کیږي) پرته به پانگوالي بې له شکه بشري ټولنه د بربریت دوران ته ورسوي.

د پانگوالۍ مناسباتو، تر لوړي او چاپېریال ور هاخوا په نورو سیاسي، فرهنگي، اخلاقي او رواني برخو کي بشریت د ډېرو لویو گواښونو سره مخ کړی دئ، چي د بشر د نن ورځي علمي، تخنیکي او فرهنگي پرمختگونو ته په کتو سره دا ټولي ستونزي سل په سلو کي حل کېدلای سي، خو د پانگوالۍ د حاکمو مناسباتو له کبله ناحله پاته دي. په همدې ځای کي موږ ته د مارکس هغه کشف را په یادیږي، چي په پانگوالي نظام کي ئې د کار او پانگي، تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو تر منځ تضادونه موندلي ول. همدلته لنین هم وایي:

«هر ځای چي ستونزي او کړاوونه وگورئ، ټولي حل کېدونکي وي، خو د پانگوالۍ مناسباتو حاکمیت ئې د حل مخه نیولې وي.» (د جملې ژباړه زموږ ده).

دا چي ولي د تخنیک او علومو د لا زیاتي ودي سره بیا هم د بشریت د دردونو درملنه نه کیږي؛ ستونزه د پانگوالۍ په هماغو اقتصادي مناسباتو کي ده، چي مارکس څېړلي دي.

په پوره ټینگار او ډاډ سره دا ویلای سو، چي که موجود اوسني سوسیالیستي دولتونه هم ټول له منځه ولاړ سي او یا د پانگوالي هیوادونو علم او تخنیک هر څومره پرمختگ وکړي او د پانگوالي هیوادونو رسنۍ، کلتوري مرکزونه او روښانفکران پر مارکسیزم باندي هر څومره پوچ او بې ځایه انتقادونه او گوتڅنډني وکړي، خو پر طبقاتو او له انسان څخه د انسان پر استثمار ولاړه ټولنه، چیري چي کار ټولنیز خو گټه ئې انفرادي وي؛ هلته به خامخا ورانوونکي او گواښوونکي ټولنیز تضادونه

موجود وي او د ټولني او طبیعت د عمومي قانونمندیو په اړه، د مارکسیزم علمي، ساینسي، انقلابي او تاریخي حقانیت او کره والی له منځه نه سي تللای.
پر ځای ده، چي دلته د مارکسیزم د سرسخت دښمن فرانسوي لیکوال رمون آرون یادونه هم وکړو، چي مارکسیزم د «روښانفکرانو افیون» بولي او تر همدې سرلیک لاندي ئې یو کتاب هم لیکلی دئ. رمون آرون، د مارکسیزم پر ضد له خپلو ټولو څرګندونو او فکري فعالیتونو سره سره بیا هم په خپلو لیکنو کي دا مني، چي د مارکسیستانو له خوا طرحه کېدونکي بحثونه دقیق او کره دي.
په دې شرایطو کي چي زموږ نړۍ د پانګوالۍ مناسباتو له کبله، له لویو ستونزو او ننګونو سره مخ ده او د هغه په لړ کي، زموږ ګران او محبوب هیواد افغانستان د لړي ودي، تېل سویو جګړو، امپریالیستي پوځي اشغال، د دیني ارتجاع د سیاسي او ټولنیز حاکمیت او امپریالیستي مالي بندیزونو له کبله تر نورو زیات ځوریږي او د ننني بشري نړۍ د وجود د هغه غړي په ډول، چي ټول وجود ئې له یوې ناروغۍ کړیږي، خو د ځینو غړو کړاو ئې تر نورو زیات وي؛ د پښتنو ځوانانو د علمي، سیاسي، فلسفي او انقلابي ویښتیا او پوهاوي په موخه مو «د مارکس ژوند د انقلابي تیورۍ او عمل په جریان کي» کتاب بیا ځلي ټایپ او خپرولو ته چمتو کړی دئ او د دې کار اصلي موخه په موجوده شرایطو کي، د مارکس له شخصیت او مارکسیستي تیورۍ سره د ځوانانو آشنا کېدل دي، تر څو دا لوی انقلابي فیلسوف وپېژني او له ګټورو انقلابي تعلیماتو څخه ئې برخمن سي.
دا کتاب د مارکس د ژوند، انقلابي تیورۍ او عمل په اړه، د ګټورو علمي او تاریخي محتویاتو درلودونکی دئ. دا کتاب لومړی ځل په ۱۳۵۹ل. کال کي چاپ سوی دئ او لیکوال ئې د هیواد نوموتی څېړونکی، علمي او اکاډیمیک شخصیت کاندید اکاډیمیسن محمد انور نومیالی دئ. استاد نومیالی چي په پیل کي، د دیني علومو ملا وو، په همدې دلیل ئې د کتاب د لیکوال په توګه د «ملا انور» نوم غوره کړی دئ- د خپل ځیرک ذهن درلودلو او پراخي مطالعې سره د میني په سبب، د نړۍ له مترقي ادبیاتو، فلسفو او نظریاتو سره آشنا سو. که څه هم په ژوند کي د ډېرو سیاسي بدلونونو شاهد پاته سوی وو، خو په خپلو وروستیو آثارو کي ئې لا هم علمي نړۍ لید ته ژمنتیا ساتلې ده، په دې اړه مو نوره شرحه د لیکوال د پېژندني په برخه کي را اخیستې ده.

د کتاب د بیا ټایپ په برخه کې، د قدرمن ملګري بریالی خواریکښ د زیار او هڅو ډېره مننه او درناوی په کار دئ او له خپله اړخه ورته په راتلونکې کې، د ډېرو زیاتو مادي او معنوي بریالیتوبونو هیله کوم.

توریال

# د محتوياتو لړ

پیل: ........................................................ ۱
د مارکس زیږېدنه:........................................................ ٤
مارکس او هیګل:........................................................ ٥
د رینش زیتونګ جریده: ........................................................ ٦
د اینګلس سره شناخت:........................................................ ۷
د اقتصاد پوهنه: ........................................................ ۸
ازدواج:........................................................ ۹
په پاریس کې:........................................................ ۹
سیاسي تمایلات:........................................................ ۱۰
لومړنی مارکسیستي دوکتورین:........................................................ ۱۱
انقلابي تیوري: ........................................................ ۱۷
لومړنۍ کنګره:........................................................ ۲۰
دوهمه کنګره: ........................................................ ۲۱
د ټولي نړۍ خواري‌کښانو لاس سره ور کئ!........................................................ ۲۳
د المان- بروکسل زیتونګ جریده: ........................................................ ۲٤
ډیموکراټیک المان:........................................................ ۲٦
د کولون ډیموکراټیک سازمان:........................................................ ۲۹
د عامه امنیت کمېټه: ........................................................ ۳۰
محاکمه: ........................................................ ۳۲
کمونیستي لیګ:........................................................ ۳٤
بې‌ساري کار: ........................................................ ۳۷

د مارکس گوښه کېده: ........ ۳۹
چارټیزم: ........ ۴۰
سیاسي اقتصاد: ........ ۴۱
مارکس او روسیه: ........ ۴۵
د مارکس کاپیټال: ........ ۴۶
لومړی بین الملل: ........ ۴۶
د کاپیټال چاپ ته تیارېده: ........ ۵۱
اضافي ارزش: ........ ۵۳
ایزناخران: ........ ۵۴
د سوسیال ډیموکراسۍ اتحاد: ........ ۵۵
د ایرلېنډ مسئله: ........ ۵۶
د روسي ځانګي افتخاري مشري: ........ ۵۶
افشاګري: ........ ۵۷
لومړنی پرولتاري انقلاب: ........ ۵۸
د پاریس تر کمون وروسته: ........ ۶۰
په امسټرډم کي ځیني مهم توضیحات: ........ ۶۲
د تیورتیکي څېړنو ادامه: ........ ۶۳
د ګوتا پر پروګرام انتقاد: ........ ۶۴
انتي ډیورینګ: ........ ۶۶
مارکس د ناروغۍ په بستر کي: ........ ۶۸

## پیل:

مارکسیزم زموږ د عصر هغه پیاوړې ایډیالوجي ده، چي د نړۍ په خورا پرله پسې سیاسي، اقتصادي او فلسفي جریاناتو کي موږ ته د علمي حقایقو او علمي مبارزو لوری را ښوولای سي.
دا ایډیالوجي په خپل وخت کي د فلسفې، سیاسي اقتصاد او سوسیالیزم د هغو درو لویو جریاناتو له تکاملي ترکیب څخه منځ ته راغله، چي په ترتیب سره ئې د آلمان، انګلستان او فرانسې په پرمختللو هیوادو کي یو شمېر انکشافي مراحل وهلي ول. د دې ایډیالوجي ډېر غټ توپیر له نورو سره دا دئ، چي ټولني ته د طبقاتي تنازع په هنداره کي ګوري او ټولنیز تحولات د همدې تنازع پر بنا باندي د تاریخ پر لار وړاندي بیایي. په همدې دلیل دغه ایډیالوجي هر چیري د «قبول» او «رد» په دوو مخالفو محاذو کي خورا حاد سنګر نیسي. خو هغه ټوله زیارونه چي تر یوې پېړۍ په زیاته موده کي د دې ایډیالوجۍ د باطلېدو دپاره کښل سوي دي، په آخره کي ئې د دې ایډیالوجۍ د حقانیت پر انکشاف باندي نوره هم روڼا اچولې ده. د دې خبري واقعي رمز دلته دئ، چي مارکسیزم یو علمي حقیقت معرفي کوي او په هره اندازه چي په دې لار کي موافقي او مخالفي څېړني کیږي، د همدې حقیقت د روښانه کېدو دپاره لا زیات وسایل منځ ته را ځي.
که اوس د نړۍ سرمایه دارانو او استثمارګرانو ته داسي څوک ور پیدا سي، چي سرمایه داري او استثماري نظامو ته له هغه حتمي ړنګېدو څخه نجات ور کړي، چي دې ایډیالوجۍ ئې پر علمي اساساتو باندي پیش بیني کړې ده، نو به د دنیا ټوله نعمتونه د هغه په اختیار کي کښېږدي. خو د علم له ټولو عصري اکتشافاتو سره دا بریالیتوب تر اوسه د چا نه دئ په برخه سوی؛ بلکي هغه پوهان لا چي د دې ایډیالوجۍ په مسایلو کي په تحقیقي توګه څېړني او پلټني کوي، نو ژر یا وروسته ډېر یا لږ د دې ایډیالوجۍ پر واقعیت باندي ارو مرو اعتراف ته اړیږي.
خو دا چي څوک بې له څېړني او بې له پلټني یا بې له واقعي اثباته په تش او مبهم انکار ځان خوشاله وساتي، دغه راز چلند د علمي حقایقو په مخ کي بې سابقې کار نه دئ. د علمي حقایقو په مخ کي وچ انکار، چي په اصل کي روحیاتي او اجتماعي علتونه لري، د علم په تاریخ کي په زرهاوو مثالونه لري.
یوه مشهوره خبره ده، چي وایي: که د هندسې متعارف اصول له بشري ګټو سره تضاد وکړي، نو ارو مرو به دا هڅه شروع سي، چي هغه باطل کړي. زموږ په اوسنۍ نړۍ کي داسي څوک ډېر لیدلای

سو، چي حتی د طبيعي ساينس زياتره مقولې چي د مشاهدې او تجربې تـر لابراتـواري تصـديق هـم وتلي وي، يا د جهالت او يا د منفعت له مخي نه مني، خو دا چي په دې انکار سره نو دوی د حقيقت سرنوشت ته تغير ور کوي؛ هيڅ کله داسي نه ده. پـه دې حسـاب نـو د مارکسـيزم ايـډيالوجي چـي د سرمايه داري او استثماري نظامو هغه ټوله گټي په خطر کي اچوي، چي د سلهاوو کلو په دوران کي د هغو پر تثبيت باندي د بېلا بيلو ايډيالوجيو او حاکمه وسايلو مېخونه وهل سـوي دي؛ سـړی پـوهيږي چي نو بايد د څونه احمقانه انکار او مخنيوي له تدابيرو سره مخامخ سي.
له ټولو هغو حوادثو سره چي موږ تر شا پرې ايښي دي، بيا هم زه په دې بـاور لـرم، چـي پـه هـيڅ راز شرايطو کي زموږ خلگ د مارکسيزم له ايډيالوجۍ څخه مستغني کېدای نـه سـي. خـو د دې مسـئلې حل چي زموږ په شرايطو کي دننه څه راز تطبيق سي، د خلگو په هغو مبارزو کـي پيـدا کېـدای سـي، چي بې‌له محدوديته پر دې ايډيالوجۍ وږغيږي، بحثونه پر وکړي او د خپل ټولنيز ژوند د تکامل پـه لاره کي ئې د استفادې امکانات وپلټي.
د مارکسيزم د لا انکشافي امکاناتو د را پيدا کېدو په هيله ما د «مارکس» دغه بيوگرافي وليکلـه؛ ځکـه زه فکر کوم، چي د يو علمي څېړني پر اساس باندي د سمي پوهېدني دپاره طبيعي لار هم دا ده، چي د مارکسيزم درس بايد د مارکس له ژونده څخه را شروع سي. هر څوک پـوهيږي، چـي د بيـوگرافۍ ليکنه يوه داسي موضوع نه ده، چي څوک ئې له ځانه وليکي؛ بلکي پر هغو معلوماتو اتکاء لري، چي يو ماخذ ته ځان رسوي. خو د ليکني اهميت ئې له دې ځايه اټکل کېدای سي، چـي هغـه بيـوگرافي څنگه واوډل سي او پر دې اوډلو ئې څه نتيجه بنا سي.
په دې ارتباط بايد ووايم، چي ما کوښښ کړی دئ، دغه بيوگرافي، چي معلومات ئې له کـره ماخـذو څخه را اخيستل سوي دي، داسي واوډم، چي د مـارکس ژونـد پـه تـاريخ‌واره توگـه د ده د نظريـې د انکشاف او عملي مبارزو سره يو ځای تر لنډي تشريح لاندي وښيي.
د نتيجې له پلوه زما په فکر دغه بيوگرافي به د مارکسيزم د کلاسيکو آثارو د مطالعې او تحقيق دپاره د يوې مقدمې کار وکړي. هغه څوک چي د مارکسيزم د کلاسيکو آثارو له مطالعې سره سر و کار پيـدا کوي، په دې ضرورت ښه پوهيږي، چي دغه راز يوې مقدمې ته زياته اړتيا پېښيږي؛ ځکه مارکسـيزم داسي تيوري نه ده، چي د مجرد تفکر په گوښه کي تر اکاډيميک تصنيف لانـدي تـدوين سـوې ده، بلکي د خپل وخت د سياسي مبارزو په متلاطمو جرياناتو کي ئې عملاً انکشاف را کړی دئ او اوس هم د پرگنو د تاريخي تجربو په نتـايجو سـره غنـي کيـږي. د دې ايـډيالوجۍ انکشـاف چـي د خپـل

وخت له نظرياتو، افکارو او جرياناتو سره د مستقيمي مبارزې په کشمکش کي منځ ته راغلی دئ، نو دې ته اړی پېښيږي، چي د هغه وخت د پېښو ماهيت سړي ته معلوم وي، څو هغه تاريخي تسلسل وليدلای سي، چي د مارکسيزم په انکشاف کي موجود وي. بې له دغه ډياليکتيکي ارتباطه د مارکسيزم مقولې تر پوره علمي درک لاندي نه سي راتلای.

هيله ده د دې ليکني په تهيه کېدو سره به مي د مارکسيزم د راتلونکي انکشاف دپاره يو کوچنوټی کار کړی وي.

## د مارکس زیږېدنه:

د نولسمي پېړۍ لومړي کلونه ول، د المان په هغه سيمه کې چې پروس Prussia نومېده، صنايعو په بېړه انکشاف کاوه. د دې سيمي د راين Rhine ولايت يو له هغو ځايو څخه وو، چې د ډېري د سکرو او اوسپني غني کانونه هلته تر استفادې لاندي راغلي ول. له بلي خوا د فرانسې بورژوازي انقلاب، چې د اتلسمي پېړۍ په آخرو کلونو کې سر ته رسېدلی وو، هم دې سيمي ته ئې اجتماعي تأثيرات را غځېدلي ول. د دې تأثيراتو له برکته فيوډالي تاديات او خدمات لغوه سوي ول. د دغو اقتصادي او اجتماعي شرايطو په جريان کې د لويي پيمانې سرمايه‌داري صنايع هلته مخ پر غوړېدو ول؛ خو د «پرولتاريانو» نوې طبقه ئې هم په هغه سيمه کې منځ ته راوړې وه.

په همدې زمانه کې د ۱۸۱۸م. کال ورځي او شپې وې، چې د مې May مياشتي پر پنځمه ئې د راين د ولايت په هغه ښار کې، چې څوک ئې تريوز Treves او څوک ئې ترير Trier يادوي، د نړۍ د پرولتاري نهضت انقلابي مشر د يو حقوقدان په کور کې وزېږېدی، چې کورنۍ ئې د کارل مارکس Karl Marx نوم پر کښېښود. د ده پلار چې هانريش مارکس Heinrich Marx نومېدی، له اصله يهود وو؛ خو په ۱۸۲۴م. کال کې ئې د مسيحي دين پروټستاني مذهب غوره کړ. د مارکس کورنۍ يوه تعليم‌يافته او له اقتصادي پلوه مړه کورنۍ وه؛ خو تر دې آنه ئې انقلابي سابقه نه درلوده.

مارکس تر ابتدايي تعليماتو وروسته له کال ۱۸۳۰م. تر ۱۸۳۵م. پوري د «ترير» ښوونځی په خپل ټاټوبي کې پای ته ورساوه. لومړۍ مقاله، چې دی اوولس کلن زلمی د تعليمي دورې د فراغت په مناسبت وليکله، د دې زيری ئې ور کاوه، چې ده ته د خپل ژوند هدف داسي ايسېدی، چې بشر ته د خدمت په لار کې له هيڅ ډول ايثاره څخه ځان و نه سپموي. وايي چې دغه مقاله ئې په دې عنوان کښلې وه: «د مسلک په ټاکنه کې د يو ځوان خيالات».

د لوړو تعليماتو دپاره مارکس لومړی د بُن او بيا د برلين په پوهنتون کې د حقوقو فاکولتې ته شامل سو. هلته ئې وار د واره د حقوقو په څانګه کې په زده کړو شروع وکړه، خو ډېر ژر ئې د فلسفې او تاريخ له مضامينو سره زياته علاقه واخيسته او خاص ئې دې خوا ته مخ را وګرځاوه.

## مارکس او هیګل:

مارکس دمخه لا د هیګل Hegel له آثارو سره شناخته سوی وو، خو کله چي برلین ته راغی، نو دلته ئې د هغې ډلي سره رابطه پیدا کړه، چي د هیګل د فلسفې د کیڼ اړخ ځوان عناصر ول او غوښته ئې، چي له دې فلسفې څخه انقلابي او ضد مذهبي نتایج را وباسي.

د دې ډلي له مشهورو کسانو څخه په کار ده، چي د برونو بایر Bruno Bauer، ارنولډ روګي Arnold Rugu، شتیرنر ماکس Stirner Max او شتراوس Strauss نومونه یاد سي. باید وویل سي، چي مارکس په دغه وخت کي که څه هم د هیګل د فلسفې طرفداره ایډیالیسټ وو، خو د افکارو تمایل ئې دې لوري ته انکشاف کاوه، چي د هیګل د تضاد له فلسفې څخه انقلابي او غیرمذهبي نتایج را وباسي. دغه نخښبي په هغه اثر کي څرګندي دي، چي مارکس د دکتورې د اخیستلو دپاره په دې نامه ولیکئ: «د ډیموکریټ Democritus د طبیعي فلسفې او د اپیکور Epicurus د طبیعي فلسفې تر منځ توپیر». په داسي حال کي چي هیګل د اپیکور له ماټریالیزم او غیرمذهبي فلسفې څخه خورا بد وړل، لاکن ځوان مارکس د لرغوني یونان د همدې فیلسوف هغه زړه‌وره مبارزه ستایله، چي د خرافاتو او مذهب پر ضد ئې په خپله زمانه کي کړې وه. مارکس خپل دغه اثر د جینا Jena پوهنتون ته وړاندي کړ او د ۱۸۴۱م. کال د اپریل په میاشت کي ئې د فلسفې دکتوره واخیستله.

له پوهنتون څخه تر فارغېدو وروسته مارکس بُن ته ولاړ. په خیال کي وه، چي هلته علمي مصروفیت ولري او د فلسفې استاد سي، خو د «پروس» حکومت چي ارتجاعي سیاست چلاوه او مترقي عناصر ئې له پوهنتونه ایستل، مارکس ته هم دا هیله نه سوه ور پاته، چي نور نو دغه خیال په خپل سر کي وروزي. د «پروس» حکومت په ۱۸۳۲م. کال لوډویګ فیورباخ Ludwig Feuerbach په پوهنتون کي له خپلي چوکۍ څخه محروم کړی وو او پرې ئې نه ښود، چي بیا په ۱۸۳۶م. کال کي بیرته پوهنتون ته ور سي. همدا رنګه ئې په ۱۸۴۱م. کال کي ځوان استاد برونو بایر له دې څخه را وګرځاوه، چي په پوهنتون کي درس ور کړي.

په دغه وخت کي چي د ارتجاعي واکمنو او مترقي عناصرو تر منځ سیاسي لانجې رواني وې، په آلمان کي د هیګل د فلسفې د کیڼ اړخ د طرفدارانو افکار په خورا چټکۍ سره خپرېدل. لوډویګ فیورباخ په تېره بیا تر ۱۸۳۶م. کال را وروسته پر مذهب باندي بې‌دریغه انتقادونه پیل کړل او مخ ئې ماټریالیزم ته را واړاوه. په ۱۸۴۱م. کال کي د فیورباخ هغه اثر په لیپزیګ Leipzig کي خپور سو،

چي د مسيحت ماهيت نومېدی. د دې تاريخي اثر له خپرېدو سره نو د هيګل ايډياليزم ماته وخوړه او په مقابل کي ئې د فيورباخ ماټرياليزم غټ بری وګاټه.
په دې فلسفي جرياناتو کي د المان مترقي ځوانان د فيورباخ د فلسفي افکارو تر غښتلي اغېزې لاندي راغلل. د دوی په جمله کـي د مـارکس نـوم پـه خاصـه توګـه د يـادوني وړ دئ؛ ځکـه ده د فيوربـاخ نظريات نه يوازي تعقيب کړل، بلکي هغه ئـې پـه خلاقـه توګـه بشـپړ کـړل او نيمګړتيـاوي ئـې ځنـي وايستلې.

## د رينش زيتونګ جريده:

دغه زمانه د راين په ولايت کي يو شـمېر سـرمايه‌داران، چـي پـه سياسـي لحـاظ ئـې راډيکـال عقايـد درلودل او د مترقي ځوانانو سره ئې ځيني نظريات مشترک ول، د کولون Cologne په ښار کي ئـې د حکومت مخالف اخبار د رينش زيتونګ Rheinische Zeitung په نامه را وايستی، چي لومړی ګڼه ئې د ۱۸۴۲م. کال د جنورۍ پر اوله خپره سوه. دا اخبار چي د مارکس د ټينګي همکارۍ پـه اسـاس منځ ته راغلی وو، په هغه کي ئې خپلي مترقي ليکني پيل کړې او د سياسي ارتجاع په مقابل کي ئې د اصولي مبارزې سنګر ونيوی.
د اخبار ادارې مارکس او برونو باير ته بلنه ور کړه، چي د همـدې جريـدې رسـمي همکـاران سـي. د ۱۸۴۲م. کال د اپريل مياشت وه، چي مارکس د دې جريدې په رسمي مامورينو کي شامل سـو. هغـه انتقادي ليکني چي ځوان مارکس د راين د ولايتي جرګي د جرياناتو په باب کـي خپرولـې، د خلګـو زياته توجه ئې جلب کړې وه. د مارکس انقلابي او جدي خپروني د دې سبب سوې، چي د ۱۸۴۲م. کال په اکټوبر کي د رينش زيتونګ د مشر چلوونکي په توګه مقرر سو او د همدې مطلـب دپـاره لـه بُن ځخه کولون ته راغی. د مارکس تر مشرۍ لاندي د دې جريدې انقلابي او ډيموکراټيک سياست نور هم د برېښنا په شان وځلېدی.

## د اینګلس سره شناخت:

پـه دې ضـمن کـې دا خبـره د یـادوني وړ ده، چـې د مـارکس ټینـګ ملګـری فریـدریک ایـنګلس Frederick Engels په همدې کال کې انګلستان ته تلی، چې د خپل سفر په لار کې په کولـون کـې معطله سو او په دې ترځ کې ئې د رینش زیتونګ دفتر ولیدی. دلته ئې د لومړي پلا دپاره د مارکس سره وپېژندل او تر هغه وروسته د دوی تر منځ منظمه مکتوبي رابطه پیدا سوه.
مارکس چې اوس د سیاسي عقیدې له پلوه یو انقلابي ډیموکراټ وو او د رینش زیتونګ پـه جریـده کې ئې د ارتجاعي دولت پر خلاف انتقادي خپروني کولې، نو هغه وو، چې د دې جریـدئ انقلابـي تاثیرات په خورا چټکۍ په ټوله پروس کې خپرېدل. له دې جریانه څخه د پروس حکومت ته بېره ور ولوېده او جریده ئې تر سانسور لاندې ونیوله؛ خو د سانسور له سختېدو سره سره بیـا هـم پـه جریـده کې انقلابي مقالې چالانه وې، څو بالآخره حکومت بې له دې څخه چې قـانوني تشـریفات پـر ځـای کړي، د ۱۸۴۳م. کال د جنورۍ پر اوله ئې داسي ابلاغیه صادره کړه، چې نور نو دا جریده په سانسـور نه را ګرځي، باید هغه د اپریل له لومړۍ نېټې څخه خپره نه سي.
د رینش زیتونګ د امتیاز خاوند غوښته، چې په دې جریده کې د خپرونو لهجه نرمه کړي او لـه دې لاري حکومت واداره کړي، چې خپله ابلاغیه بیرته واخلي. مارکس دا غوښـتنه و نـه منلـه او مجبـوره سو، چې د جریدې د بندېدو تر تاریخ دمخه له خپله کاره څخـه اسـعفاء وکـړي. خـو دې تـدبیر هـم چنداني ګټه و نه رسوله؛ ځکه هغه جریده د ۱۸۴۳م. کال د مارچ پر ۱۸ د مارکس له استعفاء سره یـو ځای له منځه ولاړه.
د هیګل د فلسفې د کیڼ اړخ د ځوانو هیګلیانو سره هغه وخت لا د مارکس د فلسـفي نظـر اختلافونـه موجود ول، چې هغو د ۱۸۴۲م. کال په دوبي کې د «آزاد» په نامه یو کلب په برلین کې جوړ کړ. کله چې مارکس د رینش زیتونګ د جریدې د لوی چلوونکي په توګـه هـم مقـرر سـو او د جریـدې پـه رسمي همکارانو کې د برلین هغو ځوانانو هم کار کاوه، چې د هیګل د فلسفې پر خوا ول، نو مارکس په دې جریده کې زیاتره د هغو مقالو له خپرولو سره مخالفت کاوه، چې د «آزاد کلب» له خوا بـه ور ته را رسېدلې. د مارکس اعتراض به دا وو، چې دغه مقـالې بې‌خونـده تظـاهري لیکنـې دي، چـې لـه واقعیت سره تماس نه لري او مجردي فلسفي شخړې پرلـه اړوي را اړوي. لـه دغـې زمـانې راهیسـته د مارکس او اینګلس مخالفتونه د ځوانو هیګلیانو سـره عمیـق سـول او نـه پخـلا کېـدونکي درجـې تـه

ورسېدل. د دې جريانـاتو اصـلي علـت دا وو، چـې د مـارکس فلسـفي نظـر لـه «ايـډياليزم» څخـه «ماټرياليزم» ته انکشاف کاوه او سياسي نظر ئې له «انقلابي ډيموکراټيزم» څخه «کمونيزم» ته لوړېدی.

## د اقتصاد پوهنه:

مارکس ته د جريدې د چلوني په کار کي څرگنده سوه، چـې د اقتصـاد پـه برخـه کـي ډېـرو اساسـي معلوماتو ته اړتيا لري. د هغه اثر په مقدمه کـي، چـې «پـر سياسـي اقتصـاد انتقـادي ليکنـه» نـوميږي، مارکس په خپل قلم دې ټکي ته داسي اشاره کړې ده: «په ۴۲-۱۸۴۳م. کـال کـي مـې د لـومړي پـلا دپاره هغه وارخطايي وليدله، چـې د ريـنش زيتونـگ د چلـوونکي پـه توگـه مجبـوره سـوم، پـه هغـو مباحثاتو کي برخه واخلم، چې په اصطلاح د مادي گټو په باره کي سوي وې. د راين په اولسي جرگه کي هغه مباحثات چې د لرگو غلا او د مځکني ملکيت د ټوټه کېدو په باب د هرفن شاپر Herr Von Schaper له خوا په هغه وخت کي د راين د ولايت له غټانو څخه وو، د رسـمي استضـاح پـه توگـه د رينش زيتونگ برخلاف د هغو راپورونو په ارتباط مطـرح سـول، چـې د موزيـل Moselle د بزگـري طبقې د ژوندانه د شرايطو په باره کي خپاره سوي ول او هم بالآخره د آزاد تجارت او حمايوي تعرفـو په باب کي بحثونه وسول. ما ته ئې د لومړي پلا دپاره دا موقع برابره کړه، چي په اقتصادي مسئلو ځان مصروف کړم.» د مارکس د هغو ليکنو په جمله کي چي د خلگو د پرگنو د اقتصادي منافعو پـه بـاب کي ئې کښلي دي، دوې مقالې ئې په دغو نومو دي:: «د راين په اولسي جرگه کي د الوارو د غـلا پـر قانوني لايحه باندي مباحثات» او «د موزيل د خبريال په دفاع کي».

اينگلس ويلي دي، چي مارکس به زياتره په را وروسته زمانه کي دا خبره ډېره يادوله، چـې د الـوارو د غلا قانوني لايحه او د موزيل د بزگري طبقې د ژوندانه حالات هغه موضوعات ول، چي مطالعې ئـې دې ته واداره کړم، چي له مجردو سياساتو څخه اقتصادي روابطو تـه هـم مـخ را وگرځـوم او پـه دې ترتيب د سوسياليزم لوري ته پام را واړوم.

## ازدواج:

همدا زمانه چي مارکس د جن فن ویستیفالن Jenney Von Westophalen سره په کروزناخ Kreuznach کي واده وکړ. دوی د شاګردی له وختو څخه خپل تر منځ رفاقت درلودی او یو له بله نامزد سوي ول. د مارکس ماینه د پروس د اشرافو یوې ارتجاعي کورنۍ ته منسوبه وه. د هغې مشر ورور په ډېره ارتجاعي دوره کي (۵۰- ۱۸۵۸م.) د پروس د کورنیو چارو وزیر وو.
مارکس د ۱۸۴۳م. کال ټوله دوبی، یو څه هم منی، په کروزناخ کي تېر کړ. هلته ئې د لومړي پلا دپاره د حقوقو په باره کي د هیګل فلسفه تر انتقادي مطالعې لاندي ونیوله. «د حقوقو په باب د هیګل پر فلسفه انتقاد» او د همدې لیکنې مقدمه هغه آثار ول، چي د مارکس ماټریالیستي نظر پکښې وځلېدی. د اصلي اثر نسخه ئې په ناتمامه شکل پیدا کېدای سي، خو مقدمه ئې د الماني- فرانسوي کلنۍ Deutsch- Franzosische Jahrbucher په خپرونه کي بشپړه چاپ سوې ده.

## په پاریس کي:

د ۱۸۴۳م. کال د اکتوبر په پای کي مارکس پاریس ته ولاړی. هلته له ارنولد روګي سره یو ځای سو. د مارکس په نظر کي وه، چي په پاریس کي یوه انقلابي مجله را وباسي. ده تصمیم نیولی وو، چي په دې مجله کي به انقلابي او سوسیالیستي تبلیغات کوي او همدا مجله به په پټه د سرحد له لاري آلمان ته را لېږل کیږي. د ۱۸۴۴م. کال د فبروري په میاشت کي د مارکس او ارنولډ روګي په ګډه چلونه دغه مجله د «الماني- فرانسوي کلنۍ» په نامه په پاریس کي را ووتله. د دې مجلې صرف یوه ګڼه چاپ سوه، ځکه له یوې خوا دې کار زیات مشکلات درلودل، چي مجله به په پټه په المان کي توزیع سي او له بلي خوا د مارکس او ارنولډ روګي تر منځ اختلافات پیدا سول.
د دې اختلافاتو ریښه په دې ځای کي وه، چي مارکس د پرولتاري طبقې په ګټه فکر کاوه، خو روګي بیا یو راډیکال بورژوازي نظر درلود. د دوی تر منځ نظري شخړي دونه انکشاف ته ورسېدې، چي دواړو یو د بل په خلاف کي مباحثوي مقالې په هغه اخبار کي نشر ته وسپارلې، چي فوروارټس Vorwarts نومېدی او په الماني ژبه په پاریس کي خپرېدی. د دوی د مباحثې موضوع د هغه پاڅون ارزیابي وه، چي د پروس د سیلیشیا Silesia په علاقه کي د هغه ځای جولاګانو د ۱۸۴۴م. کال د

جون په میاشت کې برپایه کړ. د روګې په نظر کې دا پاڅون یو کورکورانه او بې هدفه بغاوت وو، خو مارکس بیا په المان کې د پرولتاري طبقې لومړی قیام ګڼه او په هغه کې ئې د کارګرانو د طبقاتي شعور پر نخښو باندې په زیاته خوښۍ رڼا اچوله.
د الماني- فرانسوي کلنۍ په خپرونه کې یوه هم هغه مقاله خپره سوه، چې مارکس په دې نامه کښلې وه: «د یهودو مسئله». په دې مقاله کې مارکس د برونو بایر هغه ایډیالیستي نظریات تر انتقاد لاندې ونیول، چې د ملي مسئلې په باب کې ئې درلودل. مارکس دلته د لومړي ځل دپاره د بورژوازي انقلاب او سوسیالیستي انقلاب تر منځ د اساسي توپیر په باب کې یو رښتینی مجرد تعریف منځ ته راوړ. بل هغه انتقادي لیکنه د اهمیت وړ ده، چې اینګلس د سیاسي اقتصاد په باره کې دې مجلې ته ولیکله؛ ځکه د دغه لیکني په اثر د مارکس علاقه تر پخوا زیاته سوه، چې نور هم په اصولي توګه د سیاسي اقتصاد په پوهنه کې ژوري پلټني وکړي.

## سیاسي تمایلات:

کله چې مارکس په پاریس کې شپې تېرولې، نو زیاتره به د ښار هغو اطرافو ته تلی، چې هلته به کارګرو ژوند کاوه. ده د هغې پټې ټولنې له مشرانو سره لیدني کتني کولې، چې د «عدالت لیګ League of the Justice» په نامه د المان کارګرو او کسبګرو جوړ کړی وو. مارکس همدارنګه د فرانسې د پټو ډلو له زیاتره مشرانو سره ملاقاتونه کول؛ خو د دې ټولنو او ډلو په یوه کې هم شامل نه وو. همدا وخت ئې د فرانسې د تخیلي سوسیالیستانو سره شناخت پیدا سو، چې د هغو له جملې څخه پیر پرودن Pierre Prouduon، لوی بلان Louis Blane، پیر لیرو Pierre Leroux او اتین کابت Etienne Cabet ول. همدارنګه ئې د روسیې له سیاسي اشخاصو، لکه: ایم. اې. باکونین M. A. Bakunin، وي. پي. بوتکین V. P. Botkin او داسي نورو سره وپېژندل.
څنګه چې د مارکس په نظر کې وه، چې د بورژوازي سیاسي اقتصاد په برخه کې یو ستر انتقادي اثر منځ ته راوړي، نو همدا زمانه ئې د ادم سمیت Adam Smith، ډیوېډ ریکارډو David Ricardo او نورو بورژوازي اقتصادپوهانو آثار تر ژوري مطالعې لاندې نیولي ول. هغه نتایج چې له دې کتنو څخه ئې لاس ته راوړل، په هغو خطي یاداښتونو کې ثبت سوي دي، چې د ۱۸۴۴م. کال په دوران کې ئې تهیه کړي دي. بله موضوع چې مارکس ئې په څېړنه لګیا وو، هغه د فرانسې د ستر بورژوازي

انقلاب تاریخ وو، چي د اتلسمي پېړۍ په آخرو کلو کي پېښ سوی وو. همدارنګه مارکس د تخیلي سوسیالیستانو، لکه: چارلیس فوریه Charles Fourier، هنري سن سیمون Henri Saint Simmon، رابرټ اووین Robert Owen او نورو آثار په دې وخت کي کتلي ول.
د ۱۸۴۴م. کال د اګسټ د میاشتي آخره وه، چي اینګلس له انګلستانه څخه پاریس ته راغی. دلته ئې د مارکس سره هغه تاریخي لیدنه وکړه، چي د دوی تر منځ د ګډو انقلابي مبارزو اساس کښېښوولی.
د دوی فلسفي، اقتصادي او سیاسي نظریات بشپړ توحید ته رسېدلي ول او په همدې سبب ئې د ګډو فعالیتونو دپاره ټینګي ملګرۍ ته ملا سره وتړله. د دغي لیدني په باره کي اینګلس داسي لیکلي دي: «هغه وخت چي زه په مانچسټر Manchester کي وم، نو دا خبره ښېخي راته څرګنده سوې وه، چي اقتصادي حقایق، چي تر اوسه پوري ئې د تاریخ د لیکلو په مورد کي رول نه دئ درلودلی او یا په خورا سپکه سترګه ورته کتل سوي دي، په اصل کي، په تېره بیا په اوسنۍ نړۍ کي، مهمه تاریخي قوه تشکلیوي. همدا حقایق دي، چي د نن ورځي د طبقاتي تخاصماتو د را پاڅېدو اساس جوړوي. دغه طبقاتي تخاصمات په هغو هیوادو کي، چي د لویي پیمانې د صنایعو په برکت بشپړ انکشاف ته رسېدلي دي، لکه په انګلستان کي، نو د سیاسي ګوندو د جوړښت، د ګوندي مبارزاتو او په همدې سلسله کي د ټوله سیاسي تاریخ اساس جوړوي. مارکس نه یوازي دې نظریې ته را رسېدلی وو، بلکي هغه ئې پخوا لا په ۱۸۴۴م. کال کي په الماني- فرانسوي کلنۍ کي په دې عمومي الفاظو کي خپره کړې وه، چي دولت د مدني ټولني د تشکل او تنظیم عامل نه دئ، بلکي مدني ټولنه ده، چي د دولت تشکل او تنظیم ئې منځ ته راوړی دئ. په دې اساس نو سیاست او د هغه تاریخ بایډ د اقتصادي روابطو او د هغو د انکشاف په سلسله تشریح سي، نه دا چي سرچپه کار وسي.کله چي ما د ۱۸۴۴م. کال په دوبي کي مارکس په پاریس کي ولید، موږ دواړه په ټولو نظریاتي ساحو کي بشپړ توافق درلود او له همدې نېټې څخه مو د ګډ فعالیت سلسله را شروع سوه».

## لومړنی مارکسیستي دوکتورین:

د لسو ورځو په دوران کي چي اینګلس له مارکس سره په پاریس کي یو ځای وو، په دواړو ئې د یو مشترک اثر طرحه کښېښووله، چي په هغه کي ئې د لومړي پلا دپاره د مارکسیستي دوکتورین لومړني اساسات تدوین کړل. دوی دواړه د فلسفي عقایدو په ساحه کي له هیګلي ایډیالیزم څخه را تېر سوي

او ماټریالیزم ته را رسېدلي ول. د سیاسي نظریاتو په برخه کې ئې د انقلابي ډیموکراټیزم مفکورې کمونیزم ته ارتقاء موندلې وه. په دغه مشترک اثر کي چي ډېره برخه ئې مارکس او یو څو فصلونه ئې اینګلس ولیکل، د ځوانو هیګلیانو ایډیالي نظریات ئې د ماټریالیزم تر سختو انتقاداتو لاندي وځیځېرل.

دوی په خپله د هیګل ایډیالیستي فلسفه انتقاد کړه، خو د هغه ډیالیکټیک ته ئې نور هم انکشاف ور کړ. د فیورباخ د ماټریالیستي فلسفې دا نیمګړتیا، چي د طبیعت په برخه کي ئې ماټریالیزم او د ټولني په برخه کي ئې ایډیالیزم په کار اچاوه، په دې توګه بشپړه کړه، چي هم ئې د طبیعت او هم ئې د ټولني په نسبت د ماټریالیزم له اساساتو څخه کار واخیستی. په همدغه مشترک اثر کي ئې د سیاسي اقتصاد مارکسیستي نظریات هم وځېړل. دلته ئې د علمي تشریح له مخي دا خبره منځ ته راوړه، چي خصوصي ملکیت په خپل اقتصادي حرکت کي د زوال پر خوا وړاندي ځي او د عیني جبر له مخي کمونیزم بري ته رسیږي. د علمي سوسیالیزم دا اصل چي پرولتاریان د یوې طبقې په توګه تاریخي وظیفه لري، چي خپل ځان آزاد کړي او په عین زمان کي د بورژوا ټولني ګرده غیرانساني شرایط له منځه یوسي، په همدې اثر کي څېړل سوي دي. څه رنګه چي دغه مشترک اثر په انتقادي توګه د برونو بایر د نظریاتو تردید ته متوجه وو، نو هغه ئې د ټوکو په توګه تر دې نامه لاندي ولیکئ: «مقدسه کورنۍ یا د برونو بایر او د هغه د شریکانو په مقابل کي د انتقادي انتقاد تنقید». اینګلس وایي: «دغه اثر د فلسفي ایډیالیزم د یو نوي شکل په مقابل کي، چي هغه زمانه د یو لړ اشتباهاتو او خطاوو په سلسله منځ ته راغلی وو، د ټوکو په بڼه یو انتقادي اثر وو.»

مقدسه کورنۍ ئې پر هغه ډله یو ټوکي نوم کښېښووی، چي د برونو بایر، د ده د ورور ادګار بایر Edgar Bauer او د دوی د عقایدو پیروانو جوړه کړې وه او د الجمین لیتراتور- زیتونګ Allgemeine Literatur- Zeitung پر جریده را ټول سوي ول. وایي د مقدسه کورنۍ کلمات هغه وخت مارکس د کتاب په نامه کي زیات کړل، چي دغه اثر تر چاپ لاندي وو.

د دې مشترک اثر مقدمه مارکس او اینګلس یو ځای وکښه. د کتاب نوري برخي دوی تر خپل منځ سره ووېشلې. اینګلس لس ورځي په پاریس کي پاته سو او د پاریس څخه تر تګ مخکي ئې خپله برخه ولیکله. خو هغه فصلونه چي لیکل ئې مارکس ته په شلاونه کي ور رسېدلي ول، د ۱۸۴۴م. کال د نومبر تر پایه ئې پوره کړل. دغه اثر چي په دوې میاشتي کي بشپړ سو، په ۱۸۴۵م. کال کي په فرانکفورټ Frankfurt کي چاپ سو.

مارکس چي کله په پاریس کي وو، نو پر نورو فعالیتونو سربېره ئې د پروس پر حکومت باندي هم کله ناکله سیاسي حملې کولې. هغه اخبار چي د فور وارتس په نامه خپرېدی، د مارکس تر تاثیر لاندي ئې کمونیستي لاره واخیسته او د پروس حکومت ئې تر سختي غندني لاندي ونیو. د پروس د حکومت په غوښتنه مارکس د خطرناکه انقلابي په نامه له پاریس څخه وایستل سو.

د ۱۸۴۵م. کال په فبروري کي بلجیم ته راغی او هلته ئې په بروکسل کي واړول. کله چي مارکس په دې وپوهېدی، چي د پروس حکومت بیا هم هڅه کوله، چي له بروکسل څخه ئې پسي واخلي، نو ئې د ۱۸۴۵م. کال په ډیسمبر کي د پروس تابعیت پرېښود. په بروکسل کي د ۱۸۴۵م. کال د پسرلي ورځي وې، چي اینګلس هم بروکسل ته راغی. دلته بیا مارکس او ده په دواړو ګډ سیاسي او علمي فعالیتونه پیل کړل. اینګلس په دې باب لیکلي: «کله چي بیا په ۱۸۴۵م. کال په پسرلي په بروکسل کي سره یو ځای سوو، مارکس وختي لا د تاریخ د ماتریالیستي نظریې عمده ټکي.. په بشپړه توګه مطالعه کړي ول او اوس نو دې ته وجوړېدو، چي د نړۍلید دغه نوی طرز په بېلا بیلو مواردو کي په تفصیل سره په کار واچوو.»

یو شمېر هغه مهم او تاریخي فعالیتونه چي مارکس او اینګلس په دغه وخت کي سر ته ورسول، دلته د نېټې په ترتیب یو په بل پسي ښوول کیږي:

۱- د ۱۸۴۵م. کال په پسرلي چي مارکس په بروکسل کي ژوند کاوه، د فیورباخ فلسفه ئې په اصولي توګه تر انتقادي مطالعې لاندي وه. د مارکس د یادداښت په یوه کتابچه کي چي له دغه تاریخ سره اړه لري، یوولس لنډ انتقادي یادداښتونه پاته دي، چي عنوان ئې داسي دئ: «د فیورباخ په باره کي». اینګلس ویلي دي: «د فیورباخ په باب دغه یوولس تیزسونه Theses ما د مارکس د یادداښت په یوه پخوانۍ کتابچه کي وموندل؛ یقیناً د خپرېدو دپاره نه ول کښل سوي، بلکي په تلواري توګه یادداښت سوي ول، چي بیا وروسته کار پر وسي.» اینګلس زیاتوي، چي دغه اثر هغه لومړی سند دئ، چي د نوي نړۍلید زوڼي پکښي ساتل سوي دي.[1]

څه رنګه چي دغه یادداښتونه اینګلس «د فیورباخ په باب تیزسونه» بللي دي، نو ځکه ئې خپروونکو هم دا غوره کړې ده، چي دغه نوم پر دغو یادداښتونو باندي پوخ کړي. دغه یادداښتونه چي مارکس د خپرېدو په نیت نه ول کښلي او کله چي اینګلس بیا په کال ۱۸۸۸م. کي خپرول، د لوستونکو د

[1] دا بیان اینګلس د هغه اثر په مقدمه کي کښلی دئ، چي «فیورباخ او د المان د کلاسیکي فلسفې خاتمه» نومیږي.

پوهېدو له پاره ئې لفظي تغيرات پکښې را وستل. له دې يادداښتو څخه يوولسم «تيز» هغه انقلابي محتوا لري، چې فلسفه له انفعالي حالته را باسي او د نړۍ د بدلون انقلابي رافعه ځنې جوړوي. په دې تيز کي وايي: «فيلسوفانو صرف له بېلو بېلو لارو نړۍ تشريح کړې ده، خو د مطلب ټکی دا دئ، چې بايد دې نړۍ ته تغير ور کول سي.»
۲-د ۱۸۴۵م. کال په اپريل کي مارکس او اينگلس انگلستان ته يو لنډ سفر وکړ، چې د هغه په ترڅ کي ئې له چارټسټيانو او انقلابي مهاجرينو سره په گډه هغه بين المللي ټولنه جوړه کړه، چې د وړو ډيموکراټانو Fraternal Democrats په نامه پېژندل سوي دي.
۳-د ۴۵-۱۸۴۶م. کلونو په دوران کي مارکس او اينگلس دواړو په گډه يو اثر وکښی، چې پر هغه ئې د «المان ايډيالوجي» نوم کښېښود. په دې باره کي مارکس په خپله داسي ليکلي دي: «کله چي د ۱۸۴۵م. کال په پسرلي اينگلس هم په بروکسل کي واړول، نو موږ تصميم ونيوی، چې په گډه زموږ د نظريې اختلاف د الماني فلسفې له ايډيالوجيکي نظريې سره تدوين کړو او په حقيقت کي له خپل پخواني فلسفي وجدانه سره حساب تصفيه کړو. دغه تصميم په دې شکل تر اجرا لاندي ونيول سو، چې تر هيگل را وروسته فلسفه مو تر انتقاد لاندي ونيوله. هغه ليکنه چې په دوو لويو جلدو کي ترتيب سوه، وختي مو لا د چاپ دپاره ويسټفاليا Westphalia ته ولېږله، خو له هغه ځايه څخه خبر راغی، چې هلته د شرايطو بدلون دې ته اجازه نه ور کوي، چې دغه کتاب چاپ سي. دا ليکنه مو نو په خپله خوښه د موږکانو د ژوولو انتقاد ته پرېښووله، ځکه موږ خپل اصلي هدف ته رسېدلي وو او هغه دا چې موږ په خپله په موضوع ځان وپوهاوه. دا خبره بايد دلته ياده سي، چې بيا وروسته همدغه اثر په بشپړه توگه په ۱۹۳۲م. کال کي د لومړي پلا دپاره په شوروي کي چاپ سو.
«د المان ايډيالوجي» زياتره برخي په هغه دوره پوري اړه لري، چې علمي کمونيزم تکامل کاوه او په همدغه سبب نو دا اثر د مارکسيستي گوند د فلسفې او تيوريتيکي انکشاف په سلسله کي د يوې مهمي مرحلې ښکارندوی دئ. دا برخي د مارکس او اينگلس له خوا د هغو آثارو مقدمه جوړوي، چې بيا وروسته هم د کلماتو او هم د مفهوم له پلوه په پاخه او بشپړ شکل منځ ته راغله. اينگلس د دغي دورې د فعاليتونو په باره کي دې ټکي ته اشاره کړې ده، چې دوی غوښته، خپل نظريات په علمي توگه تدوين کړي، نو وايي: «موږ دواړه له وختي څخه لا په سياسي فعاليتونو اخته وو او په تعليم يافته نړۍ؛ په تېره بيا په لوېديځ المان کي مو طرفداران درلودل او د متشکلو پرولتاريانو سره مو زيات تماسونه ټينگ ول. دا نو زموږ وظيفه وه، چې د خپلي نظريې دپاره يو علمي اساس تهيه کړو.

همدارنگه راته مهمه وه، چي اروپايي او په لومړۍ مرحله کي الماني پرولتاريانو ته زموږ نظريه ثابته سي.»
څه رنګه چي د مارکس او اينګلس نوې انقلابي فلسفه د هغو مبارزو په دوران کي تدوين کېده، چي د لويو او وړو بورژوازي ايډيالوجيکانو په مقابل کي سر ته رسولې، نو ځکه دوی په «د المان ايډيالوجي» کتاب کي تر هر څه لومړی د انتقاداتو ټينګ وارونه د هيګل پر عيني ايډيالېزم او د ځوانو هيګليانو، لکه «باير» او «شټرنو» پر ذهني ايډيالېزم باندي وکړل. په داسي حال کي چي دوی د عمومي ايډيالېسټي فلسفې سره مقابله کوله، د فيورباخ د ماټرياليسټي فلسفې له اصله څخه ئې بيا مدافعه هم کوله. هغه نيمګړتياوي چي د فيورباخ په فلسفه کي له ميتافزيکي پلوه موجودي وې، هغه ئې د ډياليکټيک په اصولو پوره کړې.
همدارنګه ئې پر هغه سياسي مکتب را واچول، چي «حقيقي سوسياليزم» ئې باله، چي له وړې بورژوا طبقې څخه، کارل ګرون Karl Grun او نورو منځ ته راوړی وو. د «حقيقي سوسياليزم» طرفدارانو د کمونيزم سخت‌ګيري غندله او طبقاتي مبارزه ئې ترديدوله، خو د کارګري طبقې د واقعي تاريخي حرکت پر ځای ئې د ميني، محبت، وروړګلوۍ، عدالت او داسي نورو مفاهيمو واعظانه خطابې منځ ته راوړي وې. دغه د وړې بورژوا طبقې نصيحتونه ډېر خطرناک ول، ځکه پرولتاريا طبقه ئې له هغه نه پخلا کېدونکي تضادو څخه بې خبره پرېښووله، چي د بورژوا طبقې سره ئې درلودله.
«حقيقي سوسياليزم» همدارنګه له هغي مبارزې څخه خلګ را ګرځول، چي د ډيموکراسۍ دپاره کېدله او دا په هغه زمانه کي يو ډېر ناوړه کار وو، چي د المان تر انقلاب دمخه خلګو د باچهي او فيوډالي روابطو په مقابل کي خپلو مبارزو ته انکشاف ور کاوه.
«د المان ايډيالوجي» اثر د هغه ستر انقلاب يو ځلانده مظهر ورساوه، چي مارکس او اينګلس د هغي علمي تيورۍ په تاسيس سر ته ورساوه، چي د طبيعت او ټولني د انکشاف قوانين کښېباسي. په دې اثر کي د تاريخي ماټرياليزم د عمده اساساتو لنډيز په عمومي توګه تشريح سوی دئ. تاريخي ماټرياليزم د مارکس هغه کشف دئ، چي د تاريخ پوهني په برخه کي ئې يو لوی انقلاب منځ ته راوست. له دې کشف سره نو تاريخ د افسانو له شکله را ووت او په علمي موضوع واوښتی. پخوا دا فکر کېدی، چي د تاريخ ټوله تحولات د فلسفي، مذهبي او سياسي نظرياتو په تحول کي وپلټل سي؛ خو دا پوښتنه بې جوابه پاته وه، چي دغه نظريات د کوم عامل په وسيله تحول او تغير خوري. مارکس دغه معما له دې پلوه حل کړه، چي اصلي تاريخي پروسه بايد د ټولني په مادي ژوند؛ يعني د

تولید په طرز کي وپلټل سي. په دې اساس نو د تاریخي تحولاتو او اجتماعي تغیراتو واقعي علتونه باید په مجردو نظریاتو، افکارو یا سیاسي عقایدو کي و نه پلټل سي، بلکي د ټولني په مادي ژوند؛ یعني په هغه اجتماعي ژوند کي وپلټل سي، چي همدغه نظریات، افکار او سیاسي عقاید ئې انعکاس ګڼل کیږي.

په «د المان ایډیالوژي» کي د لومړي پلا دپاره دا خبره وڅېړله سوه، چي اجتماعي، اقتصادي نظامونه (فورماسینونه Formations) د عیني قوانینو له خوا څخه اداره کیږي او په همدې اساس نو د کمون، غلامۍ، فیوډالي او سرمایه‌داري ټولني یو په بل پسي منځ ته راغلي دي. د دې تحول فورمول ئې په دې خبره کي را خلاصه کړ، چي د تولیدي قواوو د انکشاف په وجه یو اجتماعي نظام له منځه ځي او بل یو ئې پر ځای باندي دریږي. د همدې فورمول پر بنا ئې دا ثابته کړه، چي سرمایه داري ټولنه ړنګیږي. څرنګه چي اجتماعي، اقتصادي نظامونه په اتومات ډول له یوه شکله بل ته نه اوړي، بلکي د خلګو په هڅه او حرکت پوري ارتباط نیسي، نو مارکس او اینګلس وښوول، چي د بورژوا ټولني ړنګېدل د پرولتاري طبقې تاریخي رسالت دئ، چي د سوسیالیستي انقلاب له لاري به ئې سر ته رسوي.

د راتلونکي کمونیستي ټولني په باب ئې هم په «د المان ایډیالوجي» کتاب کي ځیني ټکي څرګند کړي دي. دوی د تخیلي سوسیالیستانو پر خلاف کمونیزم د راتلونکي په باب د یوه تصوري خوب په توګه نه دئ ښوولی، بلکي هغه ئې یو عیني ضرورت او په تاریخي توګه تثبیت سوی هدف بللی دئ، چي د عملي او انقلابي مبارزو په وسیله تحقق مومي. د مارکس او اینګلس د بیان سره سم د کمونیستي ټولني هغه خاصه ممیزه دا ده، چي انسانان به په شعوري توګه له عیني اقتصادي قوانینو څخه د دې مقصد دپاره استفاده کوي، چي تولید، مبادله او خپل اجتماعي روابط تر کنټرول لاندي وساتي. یوازي به په کمونیستي ټولنه کي دا زمینه برابره سي، چي هر څوک خپل استعداد ته په بشپړه او کلي توګه انکشاف ور کړي.

چي خبره را لنډه کړو، نو ویلای سو چي په «د المان ایډیالوجي» کتاب کي د مارکس او اینګلس د علمي تیورۍ له پلوه د سیاسي اقتصاد، ژبپوهني، ښکلا پېژندني، روحیاتو (سیکالوجۍ) او داسي نورو په باب کي لږ و ډېري څېړني سوي دي.

۴- تر دې وروسته نو مارکس او اینګلس وغوښته، چي د علمي سوسیالیزم تیوري د کارګري نهضت انقلابي مبارزو ته داخله کړي. لومړی ګام چي ئې په دې لار کي واخیستی، دا وو، چي په ۱۸۴۶م.

کال کي ئې د کمونيستي مکاتباتو کمېټه په بروکسل کي جوړه کړه. په هغه کمېټه کي تر دوی علاوه نور ملګري، لکه ويلهلم ولف Wilhelm Wolff هم ور سره شامل ول. د کمېټې هدف دا وو، چي د يو ارتباطي مرکز په توګه وظيفه اجرا کړي او له هغو الماني کارګرانو سره د مکاتبې لـه لاري تماسـونه ټينګ کړي، چي په ټوله المان، انګلستان، فرانسې او سويزرلنډ کـي پاشـلي ول او همدارنګـه د نـورو هيوادونو د کارګرو له انقلابي نهضتو سره ارتباط وساتي. بايد وويل سي، چـي دغـه کمېټـه د ۱۸۴۶م. کال تر اواسطو پوري بريالۍ سوه، چي له دې لاندي سازمانو سره ارتباط قايم کړي:
په لندن کي د عدالت ليګ، په پاريس کي د عدالت ليګ څانګي، په لندن کـي د المـاني کـارګرو د ښووني او روزني ټولنه، د المان په وپرټال Wuppertal، کولون، سيليشيا او نورو برخو کي کمونيستي ډلي، په انګلستان کي د چارټيستيانو Chartists سازمان.

## انقلابي تيوري:

د مارکس او اينګلس انقلابي تيوري د بروکسل د ارتباطي کمېټې له لاري هر چيري په کارګرو پرګنو کي په برياليتوب خپرېدله. د دې تيوري په اساس له هغو ټولو بورژوازي ايـډيالوجيګانو سـره مبـارزه پيل سوه، چي په سرمايه داري ټولنه کي ئې نفوذ او تسلط درلود. همدارنګـه د وړې بـورژوا طبقـې د سوسياليزم له هغو ټولو اشکالو سره مقابله شروع سوه، چي کـارګران ئـې لـه طبقـاتي مبـارزو څخـه را ګرځول او په تخيلي خوبونو ئې مصروف ساتل. په دې لړ کي د اشخاصو او نظرياتو په لحاظ له درو کسـانو سـره تيـورتيکي او سياسـي مبـارزه ونښـته؛ يـو لـه دوی څخـه ويلهلـم ويټلينـګ Wilhelm Weitling نومېـدی. دی د تصـوري مسـاوات پـه اسـاس د تخيلـي کمـونيزم پـالونکی وو او لـه دې ضرورته سره ئې مخالفت کاوه، چي کارګران په سياسي مبارزو کـي برخـه واخلـي. څـه رنګـه چـي د ويټلينګ نظرياتو د «عدالت ليګ» په ټولنه کي زيات نفوذ کړی وو، نو مارکس او اينګلس د دې له پاره چي کارګري سازمانونه د انقلابي او سياسي مبارزو په کار کي پياوړي وسـاتي، ورتـه پـه کـار ول، چي د ده نظريات رد کړي او خپله انقلابي تګلاره نوره هم روښانه لـري. پـه ۱۸۴۶م. کـال کـي کلـه چي ويټلينګ په لندن کي د «عدالت ليګ» له غړو سره شخړه وکړه او له هغه ځايه بروکسل ته راغی، نو دلته مارکس او اينګلس ډېر زيار وايستی، چي د ده نظريات ور اصلاح کړي او په علمي کمـونيزم ئې وپوهوي؛ خو د دوی کوښښ نتيجه ور نه کړه او ناچاره سول، چي خپله رابطه ور سره وشکوي. د

بروکسل د کمېټې په یوه غونډه کي، چي د ۱۸۴۶م. کال د مارچ پر ۳۰مه دایره سوه، مارکس پـه ډېـر شدت سره د ویټلینګ کمونیزم او حقیقي سوسیالیزم وغانده او پـر دې خبـره ئـې ټینګـار وکـړ، چـي سازمان ئې تصفیه سي. وروسته کمېټې ټولو هغو کمونیستي سازمانونو تـه، چـي ارتبـاط ئـې ور سـره درلود، دا خبره ورسوله، چي له ویټلینګ سره روابط وشلېده.

مارکس او اینګلس په دې وخت کي له موقع سره برابر ځیني چـاپي یـا قلمـي ابلاغیـې خپرولـې او د نړۍ په هر ګوټ کي ئې ملګرو او ارتباطي سازمانو ته ور اسـتولې. پـه دې ابلاغیـو کـي ئـې زیـاتره د تخیلي سوسیالیزم او الماني فلسفې هغه ګډوډ نظریات په شدت سره انتقادول، چي د «عدالت لیـګ» په ټولنه کي ئې نفوذ درلود.

دوهم شخص چي د مارکس او اینګلس له انقلابـي مبـارزې سـره مخـامخ سـو، هغـه هـرمن کریـګ Hermann Kriege وو. ده په الماني ژبه په نیویارک کي د فوکس‌تربیون Der Volkstribun په نامه جریده چلوله او هم ئې هلته د عدالت لیګ په نامه د یو داسي کمونیزم تبلیغات کول، چي د میني او محبت په اساس بنا وي. د ۱۸۴۶م. کال د مې پر ۱۱مـه د بروکسـل د کمېټـې پـه یـوه غونـډه کـي یـو پرېکړه‌لیک تصویب سو او په هغه کي دا ابلاغ سوه، چي د کریګ نظریات کمونیسـتي نـه دي او دا چي دی ځان د المـاني کمـونیزم نماینـده بـولي، فقـط د المـان کمونیسـتي نهضـت بدنامـه کـوي. دا پرېکړه‌لیک ټولو هغو کمونیستي ټولګیو او ټولنو ته ولېـږل سـو، چـي د بروکسـل د کمېټـې سـره ئـې ارتباط درلود او هم د هغه سره یو ځای مارکس او اینګلس یو متحدالماله لیک واستاوه، چي په هغـه کي ئې پر دې ضرورت ټینګار کاوه، چي باید د وړې بورژوا طبقې له عناصرو سره، چي د کریګ په شان نظریات لري، اړیکي وشلول سي؛ ځکه دغه نظریات د کمونیستي نهضت او کـارګري طبقـې د ګوند روحیه کمزورې کوي. دوی د کریګ د نوع‌پرستـۍ تخیلـي او لـه مبـالغې ډک بیانونـه، چـي د کمونیزم په پوښ کي ئې وړاندي کوي، بې‌درېغه انتقاد کړل او هم د مځکو د اصلاحاتو په باب د هغه تخیلي نظریات، چي د وړې بورژوا طبقې د ذهنیت پر اساس را بنا ول، په ټینګه رد کـړل. بایـد وویـل سي، چي د کریګ او داسي نورو کسانو نظریات، چي په دې ډله کي کي‌ګرون هم شـامل دئ، هغـه مکتب جوړوي، چي د «حقیقي سوسیالیزم» په نامه یادیږي.

بل سړی چي په همدې لړۍ کي د انقلابي مبارزې هدف وګرځېدی، هغه پي. جي. پرودن وو. پرودن د وړې بورژوا طبقې مفکر وو، چي د اقتصاد او سیاست په برخه کي ئې پیروان درلـودل. هغـه وخـت چي مارکس په پاریس کي وو، نو زیاتره به ئې پرودن لیدی او شپې شپې ئې پـر اقتصـادي مباحثـاتو

ور سره تېرولې، خو د دوی لار ورځ په ورځ سره جلا کېدله. کله چي پرودن خپل هغه اثر خپور کړ، چي «د فقر فلسفه» نومېدی، نو بېخي دا امکانات له منځه ولاړل، چي د دوی په نظر کي یووالی را سي.

د مارکس هغه لیک چي د ۱۸۴۶م. کال د ډیسمبر پر ۲۸مه ئې پي. وي. انینکو P. V. Annenkov ته لېږلی دئ، پر دې ټکي دلالت کوي، چي د پرودن په خلاف کي ئې خپل نظریات تنظیم کړي دي. د اینگلس له یوه لیک څخه، چي د ۱۸۴۷م. کال د جنوری پر ۱۵مه ئې کښلی دئ، دا څرگندیږي، چي په دې وخت کي مارکس د پرودن په مقابله کي پر هغه اثر کار کوي، چي «د فلسفې فقر» نومیږي. د همدغه کال په اپریل کي دا اثر بشپړ سو او د جون پر ۱۵مه ئې مارکس یوه لنډه سریزه ولیکله. د ۱۸۴۷م. کال په جولای کي په بروکسل او پاریس کي خپور سو.

«د فلسفې فقر» هغه اثر وو، چي په خپرېدو سره ئې د ډیالیکټیکي او تاریخي ماټریالیزم د انکشاف په لار کي یو بل مهم گام مخ ته واخیستل سو. په دې اثر کي مارکس د سیاسي اقتصاد هغه نتایج، چي پخوا ئې په پاریس کي کار پر کړی وو، بیا تر انتقادي نظر تېر کړل. مارکس د ټوله بورژوازي سیاسي اقتصاد دغه بنیادي عیب میدان ته را وایستی، چي په هغه کي سرمایه‌داري ټولني او د هغې اقتصادي قوانینو ته په داسي سترگه کتل سوي دي، لکه هغه چي ابدي او غیرفاني وي. مارکس د بورژوازي اقتصادپوهانو او بالآخره د هغو د مقلد پرودن د نظریاتو پر خلاف د سیاسي اقتصاد بېلابیلي مقولې (کېټېگوری) د اجتماعي روابطو تیورتیکي څرگندوني وبللې او هم ئې په تاریخي لحاظ د داسي عبوري او موقتي مقولو په سترگه ورته وکتل، چي دوی د ټاکلو شرایطو په ایجاب منځ ته راغلي دي او کله چي هغه شرایط ختم سي، نو دوی هم ور سره ختمیږي. مارکس د پرودن دا بې اساسه نظریه شا ته ووهله، چي د سرمایه‌داري نظام د اصلاح کېدو موعظه پکښې وه او په علمي توگه ئې ثابته کړه، چي د دې نظام سره استثمار، بحرانونه او خواری تړلي شیان دي. دغه شیان یوازي هغه وخت پای ته رسېدای سي، چي د تولید سرمایه داري طرز ختم سي. مارکس په نړیواله سویه د پرولتاري طبقې د تاریخي نقش ستره مفکوره تثبیت کړه. ده د کارگرو اقتصادي مبارزو او له هغوی سره اخښلو سیاسي مبارزو ته ډېر غټ اهمیت ور کړ او د لومړي پلا دپاره ئې د پرولتاري طبقې د طبقاتي مبارزې د تاکتیک مهم ټکي وښوول.

مارکس او اینگلس په کلکه هغه نظریات ردول، چي د پرولتاري نهضت پر ضد ول او د وړې بورژوا طبقې په گڼه ئې غیرکمونیستي ماهیت درلود. دوی په دې لار کي هم مبارزه کوله، چي د عدالت

لیګ صفونه له هغو عناصرو څخه پاک سي، چي د وړې بورژوا طبقې نمایندهګان ول. د دې فعالیتونو نتیجه دا سوه، چي د عدالت لیګ د پټې تولني مشرانو د ۱۸۴۷م. کال په فبروري کي مارکس او اینګلس ته بلنه ور کړه، چي په رسمي توګه د عدالت لیګ په غړو کي شامل سي. دا لیګ چي مرکز ئې په لندن کي وو او په پټه ئې فعالیتونه کول، اوس ئې پر الماني کارګرانو سربېره د نورو ملیتونو کارګران هم جذب کړي ول. د عدالت لیګ جوزیف مال Josep Moll ته دا وظیفه ور کړه، چي په بروکسل کي مارکس او په پاریس کي اینګلس وګوري او د خپلو ملګرو له خوا ئې دوی ته بلنه ور کړه، چي د عدالت لیګ ته ور سي. اینګلس لیکي، چي«مال موږ ته دا خبر را وړ، چي د لیګ مشران زموږ د نظریې پر عمومي صحت بشپړ اعتقاد لري او نو ځکه دا ضرورت احساسوي، چي لیګ ئې له هغه پخواني تګ‌لوري څخه را وګرځي، چي غوښته ئې توطیه‌وي فعالیتونه سر ته ورسوي.»

څنګه چي اوس د لیګ غړي په خپله د هغو نظریاتو او فعالیتونو په غلطۍ پوهېدلي ول، چي مارکس او اینګلس اعتراضات پر درلودل، نو دوی مناسبه وګڼله، چي د مال بلنه ومني او لیګ ته په رسمي توګه ور شامل سي. له مارکس او اینګلس څخه دا هم وغوښتل سوه، چي د عدالت لیګ سازمان له نوي سره تنظیم کړي. تر شاملېدو وروسته مارکس په بروکسل کي له نژدې ملګرو څخه د لیګ ټولنه جوړه او اینګلس د همدې فعالیت په لړ کي د پاریس ټولنو ته ورغی.

## لومړنۍ کنګره:

د عدالت لیګ لومړۍ کنګره د ۱۸۴۷م. کال د جون په میاشت کي په لندن کي جوړه سوه. دې کنګرې ته د پاریس د ټولنو په نمایندهګي اینګلس ولاړ او د بروکسل له خوا څخه ویلهلم ولف ورغی. مارکس د مالي مشکلاتو په نسبت و نه کړای سوه، چي په کنګره کي ګډون وکړي. په دې کنګره کي تر ټولو خبرو دمخه د لیګ د دوباره تنظیم کار تر لاس لاندي ونیول سو. د لیګ مخنی نوم په «کمونیستي لیګ» واوښتی او د فعالیت نوي اصول ئې په کنګره کي تصویب سول. د دې اصولو په لومړي پراګراف کي، چي اینګلس ولیکی، د پرولتاري نهضت انقلابي تهداب داسي کښېښوول سو:

«د دې لیگ هدف دا دئ، چې بورژوا طبقه را نسکوره کړي، د پرولتاري طبقې حاکمیت برقراره کړي، زړه بورژوازي ټولنه چې پر طبقاتي تخاصماتو را بنا ده، پای ته ورسوي او داسې نوې ټولنه منځ ته راوړي، چې هلته طبقات او خصوصي ملکیت نه وي.»
د دې دپاره چې پر دغو اصولو باندې د نهایي تصویب په منظور بحثونه وسي او د نوي کمونیستي پروګرام سره یو ځای په دوهمه کنګره کې تصویب سي، نو ټولو مربوطو څانګو ته په هر ځای کې چې وې، د غور دپاره ور واستول سو.
تر لومړۍ کنګرې وروسته سمدستي د کمونیستي لیگ یوه څانګه په بروکسل کې جوړه سوه، چې د هغې مشري د مارکس پر غاړه وه او همدارنګه ئې هلته یوه محلي کمېټه تاسیس کړه. سربېره پر دې مارکس او اینګلس په بروکسل کې د المان د کارګرو یوه ځان ته ټولنه هم جوړه کړه. دې ټولني ته مارکس یوه سلسله بیانونه د سیاسي اقتصاد په برخه کې ور کول، چې د هغو مجموعه د یو اثر په توګه «د مزدورۍ کار او سرمایه» نومیږي. دغه اثر که څه هم نیمګړی خپور سوی دئ، خو بیا هم هغه برخه ئې چې په لاس کې سته، د علمي ارزښت له پلوه ډېر اهمیت لري؛ ځکه په دې لیکنه کې مارکس په ساده ژبه هغه اقتصادي روابط تحلیل کړي دي، چې د بورژوا طبقې حاکمیت پر ولاړ دئ. همدارنګه دلته د اضافي ارزښت منشاء او ماهیت څېړي او له لوستونکي سره مرسته کوي، چې دا انقلابي نتیجه ځني را وباسي، چې کارګره طبقه باید د اجرت غلامي پای ته ورسوي.
څه رنګه چې مارکس او اینګلس د خپلو مترقي اصولو په رڼا کې په دې معتقد ول، چې پرولتاره طبقه باید هر مترقي او ډیموکراټیک نهضت تائید کړي او پر اوږه ئې ودریږي، نو ځکه د نورو فعالیتونو په لړ کې هغې اتحادیې ته هم ورغلي ول، چې په بروکسل کې ډیموکراټیانو جوړه کړې وه. مارکس د همدغې «ډیموکراټیکي ټولني» د رئیس مرستیال وو. همدارنګه د فرانسې د سوسیال ډیموکراټیک نهضت له منسوبینو سره دوی خپل روابط ساتل.

## دوهمه کنګره:

مارکس او اینګلس د کمونیستي لیگ راتلونکي دوهمي کنګرې ته خورا زیات اهمیت ور کاوه، نو ځکه ئې په هغه کې د ګډون دپاره ډېره ښه تیاري نیوله. په دې وخت کې د لندن کمېټې د نوي پروګرام هغه مسوده مربوطو څانګو ته ولېږله، چې شاپر Schaper او مال کښلې وه. دغه مسوده چې

د پاریس څانگو ته وړاندي سوه، په هغه کي موسِس هیس Moses Hess لاس وهلی وو او تغیرات ئې پکښي را وستلي ول، خو اینگلس پر دې مسوده باندي داسي انتقادات وکړل، چي په آخر کي د پاریس څانگو په خپله له اینگلس څخه وغوښته، چي یوه مسوده جوړه کړي. اینگلس د دې موضوع په باب د خپل یوه لیک په ترڅ کي مارکس ته خبر ور کړ، چي ده د پروگرام سرسري مسوده جوړه کړې ده ، چي «د عقیدې د اظهار نامې[۲]» په عوض کي باید کمونیستي اعلامیه وبلله سي. د اینگلس دغه مسوده هغه اثر دئ، چي د «د کمونیزم اصول» په نامه شهرت لري.
دوهمه کنگره د ۱۸۴۷م. کال د نومبر په آخرو او د ډیسمبر په لومړیو ورځو کي په لندن کي جوړه سوه، چي د هغې غونډې لس ورځي ونیولې. په دې تاریخي کنگره کي اینگلس د پاریس د څانگو له خوا او مارکس د بروکسل د څانگي له پلوه نمایندهگي کوله. تر اوږدو او طوفاني مباحثاتو وروسته، چي د هغو په دوران کي مارکس او اینگلس خپله انقلابي تیوري په اثبات ورسوله، بالآخره هغه بنیادي اصول د رایو په اتفاق تصویب سول، چي دوی وړاندي کړي ول. همدا شان دوی ته وظیفه ور کول سوه، چي د کمونیستي لیگ دپاره یو تیوریک او عملي پروگرام؛ یعني کمونیستي اعلامیه تسوید کړي.
په لندن کي چي مارکس او اینگلس څو شپې پاته سول، نو له دې موقع څخه ئې دا استفاده هم وکړه، چي خپل روابط له کمونیستي کارگرانو او د بېلا بېلو هیوادو له ډیموکراتانو او مترقي عناصرو سره پراخ کړي. دوی د ډیموکراتو عناصرو په هغه بین المللي غونډه کي برخه واخیسته، چي د پولنډ د ۱۸۳۰م. کال د پاڅون په مناسبت جوړه سوې وه. په هغه بیانیه کي چي مارکس په دې غونډه کي ایراد کړه، دا نظریه ئې څرگنده کړه، چي د پرولتاري طبقې د بري په نتیجه کي به ټوله مظلوم ملیتونه آزادي واخلي او گرده بین المللي شخړي او جگړې به پای ته ورسیږي. اینگلس د خپلي بیانیې په ترڅ کي د پرولتاري طبقې لارښوونکی پرنسیپ وگرځېدی؛ هغه دا وو، چي: «هیڅ ملت تر هغو نه سي آزادېدلی، تر څو چي پر نورو ملتو باندي د ظلم په فکر کي وي!».

---

[۲] په هغه زمانه کي رواج داسي وو، چي کله به ئې متحدالماله پروگرامي اسناد د کارگرو تر منځ خپرول، د Confession of Faith یا Catechism په نامه یادېده، چي دغه کلمات د «د عقیدې د اظهارنامې» په عبارت ترجمه کېدلای سي.

د ۱۸۴۷م. کال د ډیسمبر په اواسطو کي دوی دواړه له لندن څخه بروکسل ته راغلل. اینګلس تر لږ پاتېدو وروسته پاریس ته ځني ولاړ او مارکس دلته د کمونیستي لیګ د پروګرام؛ یعني اعلامیې پر نهایي تسوید باندي کار کاوه.

## د ټولي نړۍ خواري‌کښانو لاس سره ور کړئ!

کمونیستي اعلامیه بشپړه سوه او د ۱۸۴۸م. کال د فبرورۍ په میاشت کي وار د واره په الماني ژبه په لندن کي له چاپه را ووتله. دغه اعلامیه چي مارکس او اینګلس په ګډه تسوید او تالیف کړه، د نړۍ و هر ګوټ ته واستول سوه او د کارګرو د انقلابي نهضتونو د لاري ډېوه وګرځېده. له دې اعلامیې سره د پخواني لیګ د هغه شعار پر ځای، چي: «ټوله انسانان سره وروڼه دي!»، دا نوی شعار منځ ته راغلی، چي: «د ټولي نړۍ خواري‌کښانو لاس سره ور کړئ!». په دې شعار کي د طبقاتي مبارزې بین المللي خصلت په څرګنده توګه اعلام سو.
کمونیستي اعلامیه چي ځیني ئې مانیفیسټ بولي، د علمي کمونیزم هغه لومړنی مرتب پروګرام وو، چي د اینګلس په قول نسبت تر نورو ټولو سوسیالیستي آثارو په بین المللي سویه خپور سو او له سایبریا څخه نیولې، تر کالیفورنیا پوري د ټولو هیوادو د ملیونو کارګرانو مشترک پروګرام وګرځېد.
لینن د دې اعلامیې په باب کي وایي: «دغه اثر په هغسي وضاحت سره، چي نابغه استعداد کولای سي، د نړۍ په باب کي نوی نظر؛ یعني پیاوړی ماټریالیزم تشریح کوي او همدارنګه د اجتماعي ژوند ساحه او ډیالیکټیک د انکشاف د بېخي بشپړ او دقیق دکتورین په توګه کښېباسي او په همدې لړ کي نو طبقاتي مبارزه او د پرولتاري طبقې نړیوال تاریخي انقلابي نقش، چي نوې کمونیستي ټولنه به جوړوي، تر څېړني لاندي نیسي.» اینګلس د کمونیستي اعلامیې محتویات په یو څو جملو کي داسي خلاصه کړي دي: «هغه بنیادي نظریه، چي سر تر پایه په دې اعلامیه کي څېړل سوې ده، له دې خبري څخه عبارت ده، چي د هري تاریخي دورې اقتصادي تولید او د ټولني جوړښت، چي ارو مرو همدغه تاریخي دوره منځ ته راوړي، د هغې دورې د سیاسي او ایډیالوجیک تاریخ اساس جوړوي. په دې ډول نو د مځکي د لومړني ګډ ملکیت د ړنګېدو له زمانې راهیسي ټول تاریخ د طبقاتي مبارزې تاریخ دئ او دا هغه مبارزې دي، چي د اجتماعي انکشاف په بېلا بیلو مرحلو کي د استثماروونکو او استثمار سوو، د حاکمو او محکومو طبقاتو تر منځ سر ته رسېدلي دي. خو دغه

مبارزې اوس داسي مرحلې ته راغلي دي، چي استثمار سوې او مظلومه طبقه؛ يعني پرولتاريا نور نه سي کولای، چي ځان له هغه طبقې څخه خلاص کړي، چي استثمار او ظلم کوي، يعني له بورژوا طبقې څخه؛ تر څو چي په عين زمان کي ګرده ټولنه له استثمار، ظلم او طبقاتي مبارزې څخه خلاصه نه کړي.

د دې دپاره چي د کمونيستي اعلاميې بحثونه په مشخصه توګه څرګند سي، نو وايو چي دغه اعلاميه په څلورو برخو کي ليکل سوې ده، چي په ترتيب سره ئې عنوانونه دا دي: ۱- بورژوازيان او پرولتاريان، ۲- پرولتاريان او کمونيستان، ۳- سوسياليستي او کمونيستي ادبيات، ۴- د کمونيستانو دريځ؛ د موجودو بېلا بيلو هغو ګوندونو سره، چي د واکمنو په مقابل کي مخالف دريځ لري.

## د المان- بروکسل زيتونګ جريده:

مارکس او اينګلس په بروکسل کي د خپلو تبليغاتو دپاره له هغي جريدې څخه د الماني کارګرو د ټولني د اورګان په توګه کار اخيستی، چي د المان- بروکسل جريده Deutsch- Brussler Zeitung نومېده. د انګليسي چارټستيانو سره ئې د جولين هارني Julian Harney په وسيله ارتباط ساتی، چي هغه د نرترن ستار The Northern Star په نامه جريده چلوله او اينګلس مقالې ور لېږلې. په فرانسه کي ئې د سوسيال ډيموکراټانو سره روابط درلودل، چي د هغو جريده لا ريفورم La Reforme نومېده او اينګلس د الماني او برتانوي نهضتونو په باره کي هغې ته خبرونه تهيه کول.

د هغو سختو انتقادي ليکنو په نسبت، چي مارکس د المان- بروکسل زيتونګ په جريده کي د خپل پلارني هيواد د پوليسي رژيم په باب خپرولې، د پروس حکومت دې ته واداره سو، چي له بروکسل څخه هم د مارکس د ايستلو غوښتنه وکړي. خو دا پلا د هغه حکومت غوښتني نتيجه ور نه کړه، ځکه ده وختي لا د پروس تابيعيت پرې ايښی وو.

دغه وخت چي کمونيستي اعلاميه خپرېده، په اروپا کي سرمايه داري نظام انکشاف کاوه او په سياسي سطحه کي انقلابي څپو باداسکي وهلې. د ۱۸۴۸م. کال په جنوري کي په سيسلي Sicily کي يو پاڅون وسو. په همدې کال د فبروري پر ۲۳- ۲۴مه د پاريس کارګران، چي تر شا ئې وړه بورژوا طبقه ولاړه وه، د لويي فيليپ Louis Philippe د لښکر په مقابل کي يوه قهرمانانه توده مبارزه وګټله،

چي «د فبروري د انقلاب» په نامه يادېږي. دوی د فيليپ حکومت دې ته مجبوره کړ، چي جمهوريت اعلان کړي.

د مارچ په پيل کي د انقلاب څپې د غربي او شمالي المان د بادن Baden، ورټمبرگ Wurttemberg، باواريا Bav aria او ساکسوني Saxony برخو ته ورسېدې. په همدې وخت کي د ملي آزادۍ غوښتني انقلابي نهضت په مجارستان کي شروع سو او بيا په اطريش کي يو شمېر شورښونه پېښ سول. څو ورځي وروسته د پروس په مرکز (برلين) کي انقلابي حرکتونه منځ ته راغلل. د مارچ او اپريل په مياشتو کي د انگلستان د چارټستيانو نهضت هم يوه سلسله انقلابي فعاليتونه شروع کړل. دغه واقعات او حوادث ټوله په ۱۸۴۸م. کال کي پېښ سول او همدا سبب دئ، چي بورژوازي مؤرخينو دغه کال د «لېوني کال» په نامه بللی دئ.

د بروکسل خلقي نهضتونو ته هم د فبروري د انقلاب څپې را ورسېدلې. داسي ښکارېده، چي دلته هم بنيادي تحولات را روان دي. مارکس او ملگرو ئې دمخه لا تصميم نيولی وو، چي په يو مساعد فرصت کي بيرته پاريس ته ولاړ سي؛ ځکه هغه ځای د انقلابي مبارزو مرکز گرځېدلی وو. خو د دغه تصميم تر عملي کېدو دمخه د مارچ پر ۳مه د بلجيم حکومت مارکس ته اخطار ور کړ، چي په ۲۴ ساعته کي له هغه ځايه ووځي او د مارچ پر ۴مه، سهار وختي د بلجيم د حکومت سپاهيانو مارکس او د ده مainه دواړه بندي کړل. په دې ترڅ کي د فرانسې د موقتي حکومت له خوا د مارکس د يوه ملگري فلوکون Flocon په وسيله ده ته يو بلنليک را رسېدلی وو، چي پاريس ته ور سي. مارکس ته چي د بلجيم د حکومت له خوا د وتلو امر ور کول سوی وو، نو مجبوره وو، چي په ډېره چټکي د پاريس پر خوا ور رهي سي؛ دونه فرصت هم ور نه کول سو، چي د خپل کور توري ور سره يوسي او ويل کيږي، چي هغه بيا وروسته اينگلس پسي ور ټول کړل.

څه رنگه چي سازماني اختيارات او هدايات د لندن او بروکسل د کمېټو له خوا څخه مارکس ته ور کول سوي ول، نو سمدستي ئې د کمونيستي ليگ يوه نوې مرکزي کمېټه په پاريس کي جوړه کړه. د دې کمېټې مشري د مارکس پر غاړه ور ولوېده، شاپر ئې د منشي‌توب وظيفه اجراء کوله او اينگلس ئې د غړي په توگه وټاکل سو. اليچ باير، مال او ويلهلم ولف هم د دې کمېټې ملگري ول. دا نوې کمېټه د هغو الماني کارگرانو او سياسي فراريانو له مسئلې سره مخامخ وه، چي په زرو زرو په پاريس کي اوسېدل. اينگلس په دې باب کي ليکي: «دغه وخت په پاريس کي د انقلابي ټوليو د جوړېدو دپاره يو لېونتوب شروع وو. هسپانويان، ايټالويان، بلجميان، هالنډيان، پولنډيان او المانيان ټوله غلي

غلي کېدل، چي خپل پلرني وطنونه آزاد کړي.» دغه زمانه په پاريس کي «د المان ډيموکراټيکه ټولنه» يو سازمان وو، چي مشري ئې بورن شتات Bornstedt او هيرويگ Herwegh کوله. لومړی سړی ژورناليسټ او دوهم ئې شاعر وو.
دوی غوښته الماني تهاجمي لښکر جوړ کړي او المان ته ئې په دې منظور ور ننباسي، چي هلته انقلاب را وپاڅوي. مارکس او ملگري ئې له دې کاره سره په ټينگه مخالفه ول او دا ئې له انقلاب سره لوبي بللې. دوی د المان کمونيستي کلب په نامه يو سازمان جوړ کړ او د هغه له لاري ئې الماني کارگرانو ته داسي سلا ور کوله، چي د تهاجمي لښکرو ماجراجويو ټوليو ته ور نه سي؛ بلکي په انفرادي توگه خپلو کورو ته ولاړ سي او هلته کار وکړي. په دې ترتيب ئې درې، څلور سوه کارگران، چي زياتره ئې د کمونيستي ليگ غړي ول، المان ته واستول. مارکس او اينگلس وختي لا دا خبره افشا کړې وه، چي د فرانسې حکومت چي د المان د تهاجمي لښکرو جوړېدو ته ږغ نه کوي، هدف ئې دا دئ، چي پاريس له انقلابي الماني کارگرانو څخه خلاص کړي او د هغي اضافي بشري قوې له پاره ئې اوږې سپکي سي، چي کار نه سي ورته پيدا کولای. همدارنگه د فرانسې واکمن په نظر کي لري، چي د المانيانو دغه تهاجمي لښکر پر سرحد باندي د پروس حکومت ته په لاس ور کړي. وروستنيو پېښو ثابته کړه، چي د دوی خبره ټيک په ټيکه رشتيا سوه؛ خو د کمونيستي ليگ غړي بيا، چي په ځانگړې توگه المان ته ولاړل، هلته د انقلابي نهضت مخکښان سول او د اينگلس په قول؛ دا ئې اثبات ته ورسوله، چي کمونيستي ليگ د انقلابي فعاليتونو د روزني دپاره د يو ډېر ښه مکتب رول لوبولی وو.

## ډيموکراټيک المان:

دا زمانه د ۱۸۴۸م. کال د مارچ له مياشتي سره برابره وه، چي په المان کي انقلابي حالت انکشاف کاوه. د انقلاب عمده وظيفه دا وه، چي د هيواد سياسي ټوټې سره يو ځای کړي او اقتصادي پس‌ماني له منځه يوسي؛ ځکه المان په دغه وخت کي له ۳۸ لويو منځنيو او وړو ټوټو څخه جوړ سوی وو، چي پرته له څلورو آزادو ښارو څخه نورو هر يوه خپله خانداني پاچاهي، محکمه او ځانگړې اردو، د وزن او اندازې ځان ته مقياسونه او داسي نور ځانگړي بېلوونکي موسسات درلودل. سربېره پر دې هر چيري فيوډالي زمين‌داران مسلط ول او د منځنيو پېړيو خصايل د کلتور په ساحه کي غالب ول.

فیوډالي روابطو د هغه انکشاف مخه را گرځاوه، چي د سرمایه‌داري نظام خوا ته ئې زور واهـه. اوس نو د المان د یووالي دپاره دوې لاري موجودي وې: یوه ئې انقلابـي لاره وه، چـي بایـد یـا د المـان د توحید دپاره یو متحد ډیموکراټیک جمهوریت منځ ته راسي او بله ضد انقلابي لار وه، چـي د المـان سیمه (پروس) یا اطریش تر یو غښتلي سلطنت لاندي سره را ټوله سي. پـه دغـه بحرانـي حالـت کـي چي د المان د راتلونکي انکشاف سرنوشت ئې ټاکی، مارکس او اینگلس د هغه متانت له مخي، چي پرولتاري انقلابیان ئې لري، د دې دپاره مبارزه کوله، چي د منځنیو پېړیو ټوله بقایا په بنیادي توگـه لـه منځه یووړل سي او متحد ډیموکراټیک المان جوړ سي.

د المان په انقلابي حالت پوري مربوط مارکس او اینگلس د مارچ په آخره کي یو غوښتنلیک تسوید کړ، چي د پاریس د نوي مرکزي کمېټې تر تصویب وروسته ئې هغه په ټول المان کـي د کمونیسـټي اعلامیې سره یو ځای ووېشی. دغه سند په دې عنوان؛ «په المان کي د کمونیسټي گوند غوښتني» دئ.

په دې غوښتنلیک کي ئې د پرولتاري طبقې هغه سیاسي مرام تدوین کړ، چي د انقلاب په جریان کي ئې کارگرانو ته د خپلي مبارزې لار وښووله. د دې مـرام څـو عمـده ټکـي د معلومـاتو د زیاتېـدو پـه منظور دلته وړاندي کیږي:

لومړۍ ماده: ټول المان باید د یوه واحد او نه تجزیه کېدونکي جمهوریت په توگه اعلان سي.

دوهمه ماده: د خلگو نماینده‌گانو ته باید معاش ور کول سي، څـو چـي د المـان د خلگـو پـه اولسـي جرگه کي کارگران هم برخه واخیستلای سي.

څلورمه ماده: ټول خلگ باید مسلح سي.

اوومه ماده: د شاهزاده‌گانو جایدادونه او نور فیوډالي املاک، ټول کانونه، معدني ذخایر او نور باید په دولتي ملکیت واوړي. پر دغو املاکو باندي باید د لـویي پیمـانې کرهنـه پـه ډېـرو عصـري او علمـي وسایلو د گرده ټولني په گټه سر ته ورسیږي.

اتمه ماده: د بزگرو پر مځکو باندي د گروۍ حقوق باید د دولت ملکیت اعلان سي. د دې گـرو یـوه گټه باید د بزگرو له خوا څخه دولت ته ور کول سي.

نهمه ماده: په هغـو سـیمو کـي چـي د اجـارې کښـتگري انکشـاف کـړی دئ، د مځکـي اجـاره یـا د کښتگرۍ تادیات باید د مالیې په توگه دولت ته تادیه سي.

یوولسمه ماده: د ټرانسپورټ ټول وسایل، لکه: د اوسپني لارې، کانالونه، بېړۍ، سړکان، مخابرات او نور ګرده باید د دولت له خوا واخیستل سي. دوی باید په دولتي ملکیت واوړي او د ناداره طبقې په اختیار کي په وړیا توګه کښېښوول سي.
څوارلسمه ماده: د میراث حقوق باید محدود سي.
پنځلسمه ماده: د مستقیمي تصاعدي درجه بندۍ په اساس باندي مترقي مالیات وضع سي او د استهلاکي شیانو مالیات لغوه سي.
شپاړسمه ماده: ملي ورکشاپونه جوړ سي. دولت باید ټولو کارګرو ته د ژوندانه حقوق تضمین کړي او معیوبو کسانو ته اعاشه ورسوي.
اووه‌لسمه ماده: د ټولو دپاره آزاد لومړني تعلیمات تأمین سي.
تر دې فعالیتونو وروسته مارکس او اینګلس دواړه له څو نورو نژدې ملګرو سره له پاریس څخه مخ د المان پر خوا را رهي سول. د اپریل په سر کښې ئې حرکت را وکړ او پر ۱۱مه نېټه ئې کولون ته راغلل.
اوس نو دوی عملاً د المان په انقلاب کي ور ننوتل. په دغه وخت کي ښورښي کارګرانو، د ښار وړو بورژوازیانو او د کلو بزګرانو پر فیوډالي مطلقه نظام باندي لومړی واری کړی وو او حکومت ئې دې ځای ته رسولی وو، چي د دوی دپاره امتیازات ومني؛ خو د دې بري ګټه لویو بورژوازیانو کش کړه او قدرت په زیاترو برخو کي هغو ته په لاس ورغلی. د قدرت تر نیولو وروسته ئې انقلاب ضد تمایلاتو زور واخیستی. دمخه تر هغه چي د خپلو زړو دښمنانو؛ یعني مطلقه پاچهي، فیوډالي حاکمي طبقې او بیروکراټانو سره حساب تصفیه کړي، د پرولتاري طبقې سره ئې نوي دښمنۍ پیل کړې. د دې خطر د مخنیوي دپاره ئې د پاچهي او غټانو له طبقې سره جوړه وکړه.
د دې ارتجاعي حرکت په نتیجه کي انقلابي حرکت خپل آخرین بري ته و نه رسېد. حقیقي قدرت، لکه: اردو، پولیس او دولتي ماشین ټول د زمیندارو او د هغوی د نماینده پاچهۍ په لاس کي پاته سو؛ نو ځکه لازمه سوه، چي د قاطعانه مبارزې نور پړاوونه وړاندي ووهل سي.

## د کولون ډیموکراټیک سازمان:

په دغه سیاسي وضعه کي چي پرولتاریا طبقه لا پوره د سیاسي رشد ټکي ته نه وه رسېدلې او د خپل تاریخي رسالت په چارو نه پوهېده، نو د دې له پاره زمینه نه وه برابره، چي د یو مستقل گوند په توگه د خپلو طبقاتي غوښتنو دپاره د سیاست په ډگر کي ودریږي؛ یوازي ډیموکراټیکي غوښتني؛ لکه د مطبوعاتو آزادي، د غونډو او ټولنو آزادي د دوی د مبارزو شعارونه ول. اوس نو د مارکس او اینگلس په نظر کي وه، چي د یوې جریدې له لاري خپل سیاسي فعالیتونه جاري وساتي. په همدې منظور «د کولون د ډیموکراټیکي ټولني» له سازمان سره یو ځای سول، چي د یوې پراخي جبهې په ساحه کي د مترقي مبارزاتو پړاوونه ووهي. نورو ملگرو ته ئې هم له دې ټولني سره د یو ځای کېدو توصیه کوله. تر یو لړ کوښښونو وروسته بریالي سول، چي یوه نوې ورځپاڼه د «نوي رینش زیتونگ» په نامه خپره کړي.

دا ورځپاڼه چي مارکس ئې لوی چلوونکی وو، د ډیموکراسۍ د اورگان په توگه ئې د ۱۸۴۸م. کال د جون پر اوله لومړۍ گڼه خپره سوه. د المان په خړو توپاني ورځو کي دغه جریده هغه انقلابي ځلانده ستوری وو، چي د پرولتاري طبقې په گټه ئې د سیاسي مبارزې لاره روښانه ساتله. د جریدې د تحریري هیأت په همکارانو کي ئې اینگلس، هانریش برگرز Heinrich Burgers، ارنسټ ډرونکې Ernst Dronke، گیورگ ویرت Georg Weerth، فېرډیناند وولف Ferdinand Wolf او ویلهلم وولف هم شامل ول.

مارکس او نورو ملگرو ئې په دغه نوې ورځپاڼه کي د ټولو هغو انقلابي جریاناتو په باب تحلیلي څېړني خپرولې، چي په اروپا کښي روان ول. د دې ورځپاڼي تاثیرات ژر تر ژره د المان تر سرحدونو هم واوښتل. دې ورځپاڼي له هغو بورژوازي افکارو سره شدیده مقابله کوله، چي د مارچ د میاشتي الماني انقلاب ئې پای ته رسېدلی گاڼه او غوښتل ئې، چي د هغه ثمر را ټول کړي. دوی د لویي بورژوا طبقې پر هغو ارتجاعي اقداماتو باندي سخت گذارونه کول، چي غوښتل ئې د مترقي نهضتونو مخه ونیسي. د ډیموکراسۍ دغه اورگان چي پرولتاري طبقې په گټه ئې ډیموکراټیکي مبارزې وړاندي بېولې، هر کله ئې د واکمني لویي بورژوا طبقې پر ارتجاعي تلاښ باندي بې دریغه انتقادونه کول.

د دې ورځپاڼې پرولتاري خصلت هغه وخت پوره څرګند سو، چې په پاريس کې د ۱۸۴۸م. کال د جون د مياشتي د کارګري پاڅون په باب ئې خپروني وکړې. مارکس او اينګلس دغه پاڅون ته د ډېر تاريخي اهميت په سترګه وکتل او هغه ئې د بورژوا او پرولتاري طبقې تر منځ لومړی داخلي جنګ وباله. دوی د انقلابيونو بې ساري قهرماني وستايله او د بورژوا طبقې انقلابي ضد ظالمانه اعمال ئې په شدت وغندل.
کله چې په پاريس کې دغه کارګري پاڅون ماته وخوړه او هم د اروپا په نورو هيوادو کې انقلابي ضد عناصرو بری تر لاسه کاوه، نو مارکس د خپلو ملګرو سره جدي اقدامات پيل کړل، چې د خلګو پرګنې را ټولي کړي. مارکس په هغه سيمه‌ايزه کنګره کې فعاله واخيسته، چې د راين‌لينډ Rhineland ډيموکراټيکو ټولنو د ۱۸۴۸م. کال په اګسټ کې په کولون کې جوړه کړه. د اګسټ په آخره کې مارکس برلين او ويانا ته ولاړ. د ده يو مقصد دا وو، چې هلته د مترقي کارګرانو او کيڼو ډيموکراټانو سره وګوري او هغه د پروس او اطريش د پاچهيو په مقابل کې د جدي مبارزې دپاره را وپاڅوي.
بل هدف ئې دا وو، چې د ورځپاڼې دپاره پيسې لاس ته راوړي؛ ځکه د هغه انقلابي تګلاري په نسبت، چې دې ورځپاڼې پالله، هغو کسانو لاس ځني واخيستی، چې وار د واره ئې د پيسو د ور کړې ونډه پر ځان منلې وه. په ويانا کي مارکس د اطريش د ډيموکراټيکو سازمانو او په تېره بيا کارګري سازمانو سره کتني وکړې. ده په هغه غونډه کي ګډون وکړ، چې د ويانا ډيموکراټيکي ټولني جوړه کړې وه او هلته ئې «د کارګرو ليګ» ته د اروپا د اجتماعي روابطو او همدارنګه «د مزدورۍ د کار او سرمايې» په باب کي خبري وکړې.

## د عامه امنيت کمېټه:

مارکس چې کولون ته را غبرګ سو، نو د نورو ملګرو په ګډه ئې جدي فعاليت پيل کړ، څو د خلګو پرګنې متشکلي کړي او د انقلاب ضد حملې شا ته ووهي. د نوي رينش زيتونګ په بلنه ئې يوه عمومي غونډه د ۱۸۴۸م. کال د سيپټمبر پر ۱۳مه په کولون کي جوړه کړه. په دې غونډه کي د عامه امنيت يوه کمېټه وټاکل سوه، چې د هغو په غړو کي مارکس او اينګلس هم انتخاب سول. په دې غونډه کي هغه غوښتنليک بيا ووېشل سو، چې «په المان کي د کمونيستي ګوند د غوښتني» په نامه ئې پخوا ليکلی وو.

بله عمومي غونډه د همدې ورځپاڼي او د کولون د کارګري ليګ تر ګډې سرپرستۍ لاندي کولون ته نژدې په وورينګن Woringen کي د سيپټمبر پر ۱۷مه جوړه سوه. هغې ته په زرو کارګران او بزګران ورغلي ول. د هغه پاڅون په ارتباط چي په فرانکفورټ کي پېښ سو، د کولون د عامه امنيت کمېټې د سيپټمبر پر ۲۰مه بله لويه غونډه جوړه کړه.
څه رنګه چي له يوې خوا په راين کي د خلګو غښتلی نهضت مخ په وړاندي تلی او له بلې خوا د نوي رينش زيتونګ انقلابي حيثيت په خلګو کي په خورا چټکۍ خپرېدی، نو حکومت ته بېره ور ولوېده او د يوې عامي وژني د جوړېدو دپاره ئې خپل عسکر تيارسی کړل. د سيپټمبر پر ۲۵مه حکومت د دې دپاره چي د يوې لمسوونکي انګېزې په وسيله خلګ را وپاروي او د خپلې حملې پلمه جوړه کړي، نو ئې د کولون د کارګرانو مشران بنديان کړل.
مارکس او د ده همکارانو چي په حوصله ئې د اوضاعو ارزيابي کوله، ټول ځښمېدلي خلګ ئې له دې کاره څخه را ګرځول، چي بې وخته په تيت او پرک شکل را وپاڅي. څه رنګه چي د حکومت لمسوونکي اقدام نتيجه ور نه کړه، نو ئې د سيپټمبر پر ۲۶مه په کولون کي نظامي حکومت اعلان کړ. د خلګو له ملېشې څخه ئې وسله واخيسته او تيت او پرک ئې کړل. د اخبارو خپروني ئې بندي کړې؛ چي په دې لړ کي د نوي رينش زيتونګ ورځپاڼه تر هر څه دمخه بنده سوه. د چلوونکي هيأت د ځينو غړو د بندي کېدو امر هم حکومت صادر کړ، چي د هغوی په جمله کي اينګلس هم بندي سو.
نور غړي مجبور سول، چي کولون پرېږدي؛ خو د هغه اعتراض له فشاره، چي حکومت ته پر دې خبره متوجه وو، چي په کولون کي ئې نظامي حکومت اعلان کړی وو، دې ته واداره سو، چي د اکتوبر پر ۳مه هغه پای ته ورسوي. څو ورځي وروسته د اکتوبر پر ۱۲مه بيا د کولون بازار ته نوې رينش زيتونګ ورځپاڼه را ووتله.
مارکس د ورځپاڼي پر کار سربېره د ډيموکراتيکي ټولني او د کارګو د ليګ په سازمانو کي هم فعاليت کاوه. د اکتوبر پر ٦مه د کولون د کارګرو د ليګ مشر وټاکل سو. د دې چوکۍ د نيولو په مراسمو کي مارکس د ليګ د کمېټې غونډې ته د هغه پاڅون په باره کي خبر ور کړ، چي په ويانا کي ئې انکشاف کاوه.
وروسته بيا په هغه مقاله کي مارکس «د ويانا سقوط» تر عنوان لاندي په ۱۸۴۸م. کال کي وکښله، د پاڅون د ناکامۍ واقعي علت ئې څرګند کړ او هغه ئې د بورژوا طبقې خيانت وګاڼه. مارکس هغو جرياناتو ته د خلګو توجه واړوله، چي په پروس کي د يوې کودتا له پاره تياري نيول کېده او هم ئې

د هغه وخت انقلابي ضد پلانونه افشاء کړل. ده له خلگو څخه وغوښته، چي په ډېره مؤثره او جدي توگه د انقلابي ضد حملو په مقابل کي مبارزه وکړي.
کله چي د پروس حکومت امر صادر کړ، چي اولسي جرگه له برلین څخه براندېنبرگ Brandenburg ته نقل کړي، نو د مارکس په ابتکار د ډیموکراتیکي ټولني سیمه ایزي کمېټې له خلگو څخه وغوښته، چي د حکومت سره مالي مرسته و نه کړي او وسله‌والي ډلي جوړي کړي، چي د مالیې د نه ور کولو په مبارزه کي د حکومت له فشاره سره له هري لاري څخه مقاومت وکړي. ده د عامه امنیت محلي کمېټه د فوري غونډې دپاره را وبلل، چي د انقلاب ضد عملیاتو په مقابل کي د خلگو د پرگنو لارښوونه وکړي.
څه رنگه چي لویي بورژوا طبقې د المان له انقلابه سره خیانت وکړ او وړې بورژوا طبقې ته منسوب ډیموکراټان بې زړه عناصر ول، نو اولسي جرگه د ډیسمبر پر ۵مه ړنگه سوه او انقلابي ضد حرکت په پروس کي هم بریالی سو. په هغه مقابله کي چي «بورژوا طبقه او ضد انقلاب» تر عنوان لاندي مارکس د ډیسمبر پر ۱۵مه خپره کړه؛ په المان کي ئې د مارچ د انقلاب د ناکامی درسونه په ژوره توگه تحلیل کړل.

## محاکمه:

کله چي انقلابي ضد قواوو خپلي پښې ټینگي کړې، نو ئې انقلابي ډیموکراټان او د نوي رینش زیتونگ چلوونکي تر عدلي څېړني لاندي ونیول. د ۱۸۴۹م. کال د فبروري پر ۷مه ئې مارکس او اینگلس محکمې ته په دې تور ور کش کړل، چي د عالي مقاماتو سپکاوی ئې کړی دئ. په دا بله ورځ ئې بیا د دوی د ډیموکراتیکي سیمه‌ایزي کمېټې د نورو غړو په مقابل کي دا ادعا هم قایمه کړه، چي د مالیاتو د نه ور کړې په تحریک کي لاس لري. کله چي مارکس خپله دفاعیه په محکمه کي وړاندي کړه، نو د غښتلي منطق او بیان په قوه ئې تبرئه حاصله کړه.
اوس نو د نوي رینش زیتونگ ورځپاڼه نوره هم انقلابي سوه او د انقلابي ضد قواوو سره ئې د مبارزې دپاره د خلگو پرگنو ته بلنه ور کوله. هغه اثر چي «د مزدوری کار او سرمایې» په نامه مارکس پخوا تهیه کړی وو، اوس ئې د ۱۸۴۹م. کال د اپریل په میاشت کي خپور کړ.

د هغه بدلون په وجه چي په سياسي اوضاعو کي روان وو او هم د کارگري طبقې سياسي شعور وده کوله، مارکس او اينگلس خپل تاکتيکونه واړول. زيارکښانو د انقلابي مبارزو په دوران کي زياته تجربه پيدا کړه او مترقي کارگرانو له وړو بورژوا ډيموکراټانو سره، چي سياسي اعتبار ئې له لاسه ور کړی وو، خپل ځان را جلا کړ او په دې ترتيب نو د مستقل پرولتاري سازمان د جوړېدو د عملي طرحي امکانات را پيدا سول. په دې توگه نو مارکس او اينگلس او هم د کولون د کارگرو ليگ، چي دوی ئې لارښوونه کوله، د ۱۸۴۹م. کال د اپريل په اواسطو کي له وړې بورژوا ډيموکراسی او هم د چپي ډيموکراټيکي ټولني سره خپلي اړيکي پرې کړلې. مارکس او د ده ملگرو دې خوا ته مخ را وگرځاوه، چي د کمونيستي ليگ له غړو سره، چي په ټوله المان کي پاشلي وو، تماسونه ټينگ کړي. په همدې منظور مارکس د ويستيفاليا او شمالي المان ځينو برخو ته سفر وکړ او د المان نورو برخو ته ئې نماينده‌گان واستول.

دغه زمانه په المان کي د انقلاب او ضد انقلاب تر منځ د مبارزې اخرين عمليات روان ول. څه رنگه چي د انقلاب په مشری کي واړه بورژوازيان ول او هغوی د دې کفايت نه درلودی، چي په متانت سره انقلابي مبارزې وړاندي بوځي، بلکي هر ځای بې تصميمه او د تردد په حالت کي ول، نو ځکه د دوی دغه حالات د دې سبب سول، چي انقلابي شورښونه د پروس د لښکرو په مقابل کي ماته وخوري. بالآخره کله چي په ۱۸۴۹م. کال کي د مې د مياشتي پاڅونونه په ډريسډن Dresden او د راين په ولايت کي ناکامه سول او د پروس لښکرونه هر چيري را غونډ سول، نو حکومت په خپل قوت ډاډه سو، چي د نوي رينش زيتونگ ورځپاڼه په وچ زر له خپرېدو څخه وگرځوي. حکومت وار د واره مارکس ته لاس واچاوه او په دې تور ئې ونيوی، چي ده په ۱۸۴۵م. کال کي د پروس تابعيت پرې ايښی وو. د ده په باب کي ئې د اخراج حکم په داسي توگه صادر کړ، چي دی د حکومت په نظر کي يو خارجي دئ او د مېلمه پالني اصول ئې مات کړي دي. د چلوونکي هيأت د نورو غړو په مقابل کي ئې هم دا راز ادعاوي محکمې ته وړاندي کړې.

د نوي رينش زيتونگ آخرينه گڼه د ۱۸۴۹م. کال د مې پر ۱۹مه په سور رنگ خپره سوه او په هغې کي چلوونکي هيأت خپله وداعيه د کولون کارگرو ته داسي وليکله: د نوي رينش زيتونگ چلوونکي په داسي حال کي چي له تاسي سره خدای په اماني کوي، ستاسي له همکاريو څخه مننه کوي. د دوی آخرينه خبره به هر کله، په هر ځای کي د کارگري طبقې آزادي وي.

مارکس ته چي حکومت مځکه سره کړه، نو له کولون څخه رهي سو او د المان په جنوب غرب کـې تر لږ توقف وروسته پاريس ته راغی، چې هلته د فرانسې انقلابي مبارزو تـه ځـان ورسـوي؛ خـو د ده ملګري اينګلس پلاټينېټ Palatinate ته ولاړ او هلته د ويليخ Willich په مشرۍ د ايله جاريـانو پـه ډله کي شامل سو او د انقلاب ضد جنګو په څلورو نښتو کي ئې عملي برخه واخيسته.
مارکس چي پاريس ته ورسېد، نو سمدستي ئې خپـل تماسـونه د فرانسـې د ډيموکراټـانو او کـارګري ټولنو سره نوي او پراخ کړل؛ خو کله چي د ۱۸۴۹م. کال د جون پر ۱۳مه په فرانسه کي مظاهره وسوه او د بورژوا ډيموکراټانو عمليات ناکامه سول، نو د فرانسې حکومت د مارکس په باب د اخراج داسي حکم صادر کړ، چي يا بريټاني Brittany (په فرانسه کي د يو ځـای نـوم دئ) تـه ولاړ سـي او يـا لـه فرانسې څخه ووځي. مارکس دا دوهمه خبره خوښه کړه او لندن ته ولاړ. هلته نو د مړيني تر وختـه د يو مهاجر په توګه پاته سو.
په لندن کي مارکس سمدستي د دې دپاره تياري ونيوله، چي د نـوي ريـنش زيتونـګ خپرېـدو تـه د «سياسي- اقتصادي ريويو » په بڼه ادامه ور کړي. د دې جريدې ئې صرف شپږ ګڼې تياري کړې، چي بيا وروسته په کال ۱۸۵۰م. کي په هامبورګ کي له چاپه ووتی، خو په دې نسبت چي ارتجاع ورځ په ورځ شدت کاوه، نو د دې جريدې له تهيه کېدو څخه ئې نور لاس واخيستی.

## کمونيستي ليګ:

په دې وخت کي اينګلس هم لندن ته راغی. د ۱۸۴۹م. کال په پای کي د کمونيسـتي ليـګ مرکـزي کميټې بيا فعاليتونه پيل کړل. د ۱۸۵۰م. کال په مارچ کي مارکس او اينګلس کمونيسـتي ليـګ تـه د مرکزي کميټې له خوا يوه خطابه ترتيب کړه او هغه ئې ټولو ځايو ته ولېږله. په دې بې ساري سند کي ئې د ۴۸- ۱۸۴۹م. کلونو هغه انقلابي جريانات په ژوره توګه وڅېړل، چي په المان کي پېښ سوي ول او همدارنګه ئې د راتلونکو انقلابو په باب رڼا واچوله. د پرولتـاري طبقـې د ګونـد تاکتيکونـه ئـې د انقلاب په دوران کي تشريح کړل او هم ئې د مداوم انقلاب نظريه په تفصيل سره وښووله.
اوس نو مهم سوال دا وو، چي کمونيستي ليګ بايد څه راز فعاليتونه اجراء کړي؟ مـارکس او د ده پـر خوا ملګري په دې نظريه ول، چي په اروپا کي د ارتجاع تسلط او اقتصادي انکشـاف دا امکانـات لـه منځه وړي دي، چي سمدستي انقلاب نور مخ ته ولاړ سي. دوی پر دې خبره ټينګار کاوه، چي د نوو

شرایطو په نسبت د کمونیستي ګوند تاکتیکونه او د مبارزې شکلونه له سره څخه نوي سي. دغو نوو اوضاعو دا ایجابوله، چي په خورا متانت او حوصله د راتلونکو انقلابو دپاره د مبارزې قواوي را غونډې او تنظیم سي؛ خو د لیګ ځیني نور غړي، چي ویلخ او شاپر د هغوی مشران ول، د تاریخ عیني شرایطو ته ئې نه کتل او غوښتل ئې ژر تر ژره په المان کي وسله وال پاڅون ته اقدام وکړي. دغه کیڼ اپورچونیستې ګروپ چي د اوږدې اصولي او پرولتاري مبارزې حوصله ئې نه درلوده، ژر تر ژر ئې په لیګ د انشعاب زمینه مساعده کړه. دې انشعاب په هغه ورځ رسمي بڼه پیدا کړه، چي د ۱۸۵۰م. کال د سیپټمبر پر ۱۵مه مرکزي کمېټې غونډه وکړه او پر دې اختلافي موضوعاتو باندي ئې طوفاني مباحثې سر ته ورسېدې. مارکس دغه انشعابي نظریات تر سخت تنقید لاندي ونیول او په خپل بیان کي ئې وویل: «دغه اقلیت د کریټیسیزم (انتقاد) پر ځای ډوګماټیزم او د ماټریالیزم پر ځای ایډیالیزم تعقیبوي. دوی د واقعي شرایطو پر ځای یوازي انساني اراده د تاریخ محرکه قوه ګڼي؛ په داسي حال کي چي موږ بیا کارګرو ته داسي وایو: تاسي به د پنځلسو یا شلو یا پنځوسو کالو داخلي جنګو او بین المللي شخړو په دوران کي نه یوازي په خپلو شرایطو کي بدلون راولئ، بلکي په خپله به هم تحول وکړئ او هم به د سیاسي قدرت دپاره په ځان کي لیاقت پیدا کړئ. لاکن تاسي بیا برخلاف داسي ورته وایاست: موږ باید ډېر ژر قدرت ته ورسیږو او که داسي نه وي، نو باید وغزیږو او مرګ ته ځان وسپارو.

دغه انشعاب تر دې اندازې شدت واخیستی، چي مخالفینو پر مارکس او اینګلس باندي شخصي تورونه وتړل او هم د کمېټې د غړو تر منځ لاس ولګېدی. د دې دپاره چي مرکزي کمېټه د کیڼو افراطي عناصرو (ویلخ، شاپر او نورو انډیوالانو) د تخریبي فعالیتونو ضرره څخه وساتل سي، نو د غړو اکثریت، چي د مارکس پر خوا ول، دا پرېکړه ئې صادره کړه، چي د دې کمېټې مرکز له لندن څخه کولون ته ولیږي او وظایف ئې د هغه ځای محلي کمېټې ته وسپاري.

په دې وخت کي مارکس پر سیاسي فعالیتونو سربېره د تیورۍ په برخه کي هم اصولي کار ته لاس اچولی وو. د ۴۸- ۱۸۴۹م. کلونو انقلابي جریانونه ئې د عملي نړۍلید له مخي تشریح کړل او هغه اثر ئې ولیکی، چي «په فرانسه کي طبقاتي مبارزه» نومیږي. په دې اثر کي مارکس پر یو شمېر څېړنو سربېره د وړې بورژوا طبقې پر هغه تخیلي سوسیالیزم باندي رڼا واچوله، چي د انقلابي جریاناتو په ترڅ کي هغه بې اساسه ثابت سوي ول؛ خو په مقابل کي ئې د انقلابي سوسیالیزم تاریخي تیوري په دې عبارت کي وښووله: «دا سوسیالیزم څرګندوي، چي انقلاب مداوم دئ او د دې دپاره چي طبقاتي

توپیرونه پر یوه مخ پای ته ورسیږي او ټوله هغه تولیدي روابط، چي پر دې توپیرونو بنا وي، ختم سي او هم ټوله هغه اجتماعي روابط چي له دغو تولیدي روابطو سره مطابقت لري، له منځه ولاړ سي او هم گرده هغه مفکورې په انقلابي توگه پر بل حالت واړي، چي له دغو اجتماعي روابطو څخه ئې نشئت کړی وي؛ نو په کار ده، چي د یوه لازمي عبوري مرحلې په توگه د پرولتاري طبقې دکتاتوري قایمه سي.» دا اثر وار د واره د «سیاسي-اقتصادي ریویو» په شپږو گڼو کي خپور سو. په هغه مقدمه کي چي اینگلس د دې اثر دپاره څو کاله وروسته کښلې ده، داسي وایي: «دغه اثر د مارکس هغه لومړنی کوښښ وو، چي غوښته ئې د معاصر تاریخ یوه برخه د خپلي ماتریالیستي نظریې په وسیله د مشخصو اقتصادي اوضاعو پر اساس باندي تشریح کړي.»

تر انشعاب وروسته کمونیستي لیگ له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ سو. د ویلخ، شاپر او د هغوی د نورو ملگرو تخریبي فعالیتونه د پولیسو له تعقیباتو سره یو ځای سول. د ۱۸۵۸م. کال د مې په میاشت کي د لیگ یوولس تنه لارښوونکي مشران په المان کي بندیان سول. حکومت د پولیسي شبکو له لاري داسي تبلیغات پیل کړل، چي د بندي کمونیستانو محاکمې ته یو خورا هیجاني رنگ ور کړي. مارکس د اینگلس سره یو ځای د راتلونکي محاکمې په ارتباط لاس و پښې وهلې. دوی په انگلیسي او الماني اخبارو کي د دې دپاره مقالې خپرولې، چي د پروس د پولیسو لمسوونکي، جعلي او فتنه اچوونکي اوازې افشاء کړي. همدارنگه ئې داسي مواد او اسناد خپرول، چي بندیان ملگري ئې په خپله دفاع کي استفاده څني وکړي.

له بلي خوا کینو افراطي عناصرو په دوی پسي خولې خلاصي کړي وې، چي د وړې بورژوا طبقې فراریان هم په دې کار کي ور سره ملگري ول. د ۱۸۵۲م. کال د جون په میاشت کي مارکس او اینگلس په دې نامه یوه رساله خپره کړه: «د مهاجرو ستر کسان». په دې لیکنه کي ئې خپل مخالفین د سختو انتقاداتو تر گذار لاندي وټکول. دوی دا خبره افشاء کړه، چي هغوی د دې پر ځای، چي واقعي انقلابي کار وکړي، وخت په خوشي ناوړو چارو باندي تېروي.

د کمونیستي لیگ د غړو محاکمې د ۱۸۵۲م. کال د اکتوبر له ۴مي څخه د نومبر تر ۱۲مي پوري دوام وکړ. د هغو له جملې څخه اووه کسان د بند په بېلا بیلو مودو محکوم سول او څلورو تنو ئې برائت واخیستی.

## بېساري کار:

مارکس همدا وخت د تاریخي جریاناتو د علمي مطالعې په لړ کښې هغه اثر منځ ته راوړ، چې «د لویي بناپارت اتلسم بورومیر» نومیږي. د دې اثر د لیکنې وخت د ۱۸۵۱م. کال له ډیسمبر څخه بیا د ۱۸۵۲م. کال تر مارچ پورې ښوول سوی دئ. په دې اثر کې مارکس د فرانسې ژوندی تاریخ د طبقاتي مبارزې له مخې څېړي او د هغو واقعاتو طبقاتي ماهیت روښانه کوي، چې د ۱۸۴۸م. کال له فبروري څخه بیا د ۱۸۵۱م. کال تر ډیسمبر پورې ادامه لري. اینګلس دې اثر ته یوه مقدمه کښلې ده او په هغه کې داسې وایي:

«رښتیا هم دا اثر د نبوغ په واسطه منځ ته راغی، سمدستي تر هغې پېښې[3] وروسته، چې د اسماني تکي په شان ئې ټوله سیاسي نړۍ ولړزوله او چا و چا د اخلاقي نفرت په لوړو چغو سره غندله او ځیني نورو بیا له انقلاب څخه د نجات او د انقلاب د اشتباهاتو د مجازات په توګه منله او داسې پېښه وه، چې ټوله هک پک ورته پاته ول او هیڅوک نه په پوهېدل؛ څو سمدستي مارکس تر دې پېښې وروسته یوه لنډه لغازي تشریح را میدان ته کړه، چې د فبروري له ورځو څخه را په دې خوا ئې د فرانسې د تاریخ جریانات د داخلي تسلسل او پیوند له مخې وښوول او د ډیسمبر د ۲مې نېټې د طبیعي او تاریخي تسلسل د یوې حتمي نتیجې په توګه تشریح کړه او له اهمیته ئې واچول. په همدې سبب ئې ضرورت پیدا نه سو، چې د کودتا قهرمان وستایي، بلکې هغه ئې لا دونه سپک کړ، لکه څونه چې په ارزېدی.

دا پېښه ئې په داسې ماهرانه توګه تصویر کړه، چې له هغه وخته راهیسې چې هر نوی انکشاف منځ ته راغلی دئ، نور ئې هم د دې خبرې دپاره تازه ثبوت تهیه کړی دئ، چې مارکس د پېښو واقعیت په هغه زمانه کې په خورا صحیح توګه تمثیل کړی دئ. د رواني زمانې د ژوندي تاریخ په باب دغسې بشپړه پوهنه او د پېښې په ګړي کې د واقعاتو دغه شان روښانه ارزیابي رښتیا هم یو بېساري کار ګڼل کیږي.» اینګلس د همدې اثر د ښې لیکنې عامل یو دا شی هم بولي، چې: «دا یوازې مارکس وو، چې د تاریخ د حرکت ستر قانون ئې کشف کړ او له دې قانون سره سم ټولې تاریخي مبارزې که د

---

[3] دا هغه پېښه ده، چې په فرانسه کې لویي بناپارت یا دریم ناپلیون د ۱۸۵۱م. کال د ډیسمبر په ۲مه نېټه کودتا وکړه او خپله امپراطوري ئې قایمه کړه.

سیاست، مذهب او فلسفې په برخو کې وي او که په نورو ایډیالوجیکي ساحو کې، ټوله پـه حقیقـت کې د اجتماعي طبقاتو د مبارزو ډېر یا لږ روښانه انعکاس دئ او په همدې ترتیب نو د دغو طبقاتو تر منځ ټکرونه په خپل وار د دوی د اقتصادي دریځ، د تولید د طرز او د همدې طرز په اثر د مبـادلې د ټاکلي شکل د انکشاف په درجه پوري مربوط دي. دغه قانون د تاریخ دپاره هغونه اهمیت لري، لکه د انرژۍ د بدلون قانون چي ئې د طبیعي ساینس دپاره لري. دلته هم دغه قانون مارکس ته دا کیلي په لاس ور کړه، چي د فرانسې د دوهم جمهوریت په تاریخ پوه سي. د دغه قانون پـر همـدغو تـاریخي پېښو باندي د ازمویني په توګه په کار اچوي او دا دئ موږ دېرش کاله وروسته لا وایو، چي دا ازموینه په شانداره توګه سر ته رسېدلې ده.»

مارکس په دې اثر کي د تاریخ په باب یو ځای داسي وایي: «انسانان خپل تاریخ جوړوي، خـو کـټ مټ ئې هغسي نه جوړوي، لکه څنګه چي د دوی خوښـه وي؛ ځکـه دوی تـر هغـو شـرایطو لانـدي تاریخ نه جوړي، چي دوی په خپله غوره کړي وي، بلکي تر هغو شرایطو لاندي ئـې جـوړوي، چـي سمدم ور سره مخامخ دي او له تېري زمانې څخه ورته راغلي او را رسېدلي وي. د ټولو تېرو پخوانیـو مړو نسلونو عنعنات د ژوندیو پر دماغ باندي د خپسکي په شان خپل دروندوالی اچوي.»

یو بل ځای بیا ماکرس د دولت د زاړه ماشین په باب کي وایي: «ټولو انقلابونو د دې پر ځای چي دغه ماشین دړي وړي کړي، هغه ئې نور لا پسي بشپړ کړی دئ.» لینن په دغه برخه کي ویلـي دي: «دغـه نتیجه د دولت په باره کي د مارکسیستي ښووني هغه عمده او بنیادي ټکي ګڼل کیږي.»

اوس به نو بیرته را سو د سر خبري ته؛ هغه دا وه، چي په کولون کي د بند و زند له پېښي سره یو ځای هلته د کمونیستي لیګ فعالیتونه شنډ سول. د دې لیګ روابط د لندن لـه ډلـي سـره چـي مـارکس او اینګلس ئې مشران ول، پر یوه مخ وشلېدل. څـه رنګـه چـي پـه عملـي لحـاظ د لیـګ فعالیتونـه نـور ودرېدل، نو د مارکس په پیشنهاد د ۱۸۵۲م. کال د نومبر په اواسطو کي د لیګ ړنګېـده اعـلام سـول؛ خو د لیګ هغه غړي چي مارکس او اینګلس روزلي ول، یوازي دې کار ته پاته سول، چي د انقلابي تیورۍ خپرېدو ته ادامه ور کړي او زیارکښي پرګنې راتلونکو انقلابو ته چمتو کړي.

په دې پسي چي د مارکس بله لیکنه منځ ته راغلـه، هغـه «د کولـون د کمونیسـتي محـاکمې پـه بـاب افشاګري» نومېده. دغه لیکنه په ۱۸۵۳م. کال کي خپره سوه او ټوله هغه دسایس ئې برملا کړل، چي د پروس حکومت د کولون د کمونیستانو د محکومولو په برخه کي تر کار لاندي اچولي ول.

## د مارکس گوښه کېده:

وروسته نو مارکس گوښه‌گیره سو. اینگلس په دې باره کې لیکي: «تر هغه را وروسته چې د کمونیستي لیگ غړي به کولون کي محکوم سول، مارکس له سیاسي ښورښونو څخه لاس واخیستی او پوره لس کاله ئې مطالعاتو ته ځان وقف کړ. له یوې خوا ئې د برتانیې د موزیم په کتابخانه کي د سیاسي اقتصاد په باب قیمتي آثار څېړل او له بلي خوا ئې هغه اخبار ته مقالې لیکلې، چي «نیویارک تربیون» نومېدی.» وایي چي د دغو مقالو زیاتره برخه اینگلس تهیه کوله. تر ۱۸۵۳م. کال پوري زیاتره مقالې چي مارکس به په الماني ژبه لیکلې، هغه اینگلس په انگرېزي واړولې؛ خو تر دغه وخت را وروسته د مارکس انگلیسي هم تقویه سوه او کولای ئې وسای، چي خپله ئې په انگلیسي ولیکي.

د دې کلونو په دوران کي ارتجاع په اروپا کي غالبه سوه. زیاتره انقلابي سازمانونه ړنگ سول او د کارگرو مشران یا بندي‌خانې ته واچول سول او یا فرار ته مجبوره سول. دغه د مارکس د ژوند ډېره ناوړه دوره وه؛ له یوې خوا دښمنانو بدي خبري پسي کولې او له بلي خوا ئې د مسکنت سختي شپې تېرولې. که د ده د فداکاره ملگري پرله پسې مالي کومک ور سره نه وای، نو مارکس به له لوږي څخه ژوند د لاسه ور کړی وای.

مارکس د دغو سختو شرایطو سره سره په لندن کي د سیاسي اقتصاد موضوع تر ژوري علمي څېړني لاندي نیولې وه او اینگلس بیا په مانچسټر کي هم د یو تجارتي دفتر کار کاوه او هم ئې علمي مصروفیتونه درلودل. د دوی تر منځ مکاتبات په منظمه توگه جاري ول. په دې مکاتباتو کي ئې هغه ارزښتناکه علمي او سیاسي مطالب یو بل ته لیکل، چي لینن د هغو محتویات ټوله د ډیالیکټیک په نامه بللي دي.

د مارکس پر نورو مشکلاتو سربېره دا هم اضافه سوه، چي په لندن کي ئې درې اولادونه مړه سول. د هغه زوی په مړینه ډېر غمجن سو، چي نوم ئې ادگار Edgar وو، خو په کور کي ئې له نازه مش Mush باله. زوی چي ئې ښخ کړ، نو د دې پېښي په باب کي ئې د خپل خوږمن زړه احساسات انگلیس ته په یوه لیک کي داسي وکښل: «ما ډېري بدمرغۍ لیدلي دي، خو صرف اوس زه پوه سوم، چي واقعي بدمرغي څه شي ده... د هغو ټولو تکالیفو په دوران کي چي ور سره مخامخ یم، ستا او ستا د ملگري فکر ما ته ډاډ را کوي او زه امید لرم، موږ دواړه به بیا هم وکړای سو، چي دا زموږ په نړۍ کي یو باارزښته کار وکړو.»

هغه مختلفي مقالې چي په دې وخت کي مارکس کښلي دي، زیاتره ئې د اروپـا، امریکـا او آسـیا پـر مسایلو ږغیږي. په ټولو کي د مظلومو او تر استثمار لاندي طبقـاتو پـه ګټـه څېړنـي سـوي دي. د دې مقالو له جملې څخه د مثال په توګه «په هندي کي برتانوی حکومت» یادولای سو، چي پـه ۱۸۵۳م. کال کي ئې د جون پر لسمه لیکلې ده. بله هغه مقاله د یادوني وړ ده، چي «په هنـدي کـي د برتـانوي حکومت راتلونکي نتایج» نومیږي او د ۱۸۵۳م. کال د جون پر ۲۲مه ئې کښلې ده.

## چارټیزم:

مارکس په انګلستان کي د کارګرو نهضت په غور څـاره. د ایـنګلس سـره یـو ځـای ئـې د چـارټیزم د نهضت له کینو مشرانو سره همکاري کوله، چي د هغو له جملې څخه د هـارني Harney او ارنیسـټ جونز Ernest Jones نومونه د یادوني وړ دي. مارکس د جونز هغو اخبارو ته مقالې لیکلې، چـي یـو ئې «خلکو ته یادداښتونه» او بل ئې «د خلکو جریده» نومېده. د دې اخبـارو پـه چلوونـه او استنسـاخ کي مارکس له جونز سره مرسته هم کوله.

د مارکس او اینګلس په نظر کي وه، چي د چارټیزم کارګري نهضت له سـره پـه انګلسـتان کـي بیـا را ژوندی کړي، خو تر ډېر زیار وروسته ورته ثابته سوه، چي دغه امید د هغي زمانې پـه جـاري شـرایطو کي سرته نه رسیږي؛ ځکه کارګري نهضـتونه تـر بـورژوازي تـاثیراتو لانـدی ول او د لـږ امتیـازاتو پـه حاصلولو ئې له دې څخه مخ را ګرځاوه، چي د طبقاتي مبارزې تاریخي لاره وړاندي ووهي.

مارکس په هغه لیک کي چي د ۱۸۵٦م. کال د اپریل پر ۱٦مه ئې اینګلس ته کښـلی دئ، دا بیـانوي، چي په هغه محفل کي ئې وړمه ورځ ګډون وکړ، چي «د خلکو د جریدې» د تلین په مناسـبت جـوړ سوی وو او په هغه کي ئې په انګلیسي ژبـه یـوه داسـي لنـډه خطابـه ور کړهـو چـي مضـمون د ټولـو هیوادونو د پرلتاري طبقې له ګټو څخه دفاع وه .دغه خطابه چي د مارکس او اینګلس په غوره آثـارو کي چاپ سوې ده، په دې انقلابي جمله پای تـه رسـېدلې ده: «تـاریخ قاضـي دئ او د هغـه د حکـم اجراء د پرولتاري طبقې پر غاړه ده!»

د ۱۸۵۷م. کال اقتصادي بحرانونه او د سیاسي واقعاتو انکشاف مارکس دې ته واداره کړ، چي نور هم په ډېر دقت سره د سیاسي اقتصاد په موضوع باندي کار وکړي. په نتیجه کي ئې هغـه رسـاله ولیکلـه، چي «پر سیاسي اقتصاد د انتقاد اساسي اړخونه» نومیږي. په دې رسـاله کـي ئـې وار د واره د «اضـافي

ارزښت» په برخه کي د عمومي اصولو خلاصه وڅېړله. دغه رساله تر ۱۸۵۹م. کال پوري چاپ نه سوه او د اینګلس په قول، مارکس په خپله د اضافي ارزښت پر تیوری کار کاوه او نه ئې غوښته تر هغو په دې باب کي کومه لیکنه خپره کړي، څو چي د خپلو نتایجو په صحت ډاډه کیږي.

## سیاسي اقتصاد:

بالآخره د ۱۸۵۹م. کال تر جنوري پوري د مارکس هغه اثر منځ ته راغی، چي د سیاسي اقتصاد په برخه کي د ده د کلونو کلونو د څېړونو نتیجه وه. دا اثر چي «پر سیاسي اقتصاد انتقادي لیکنه» نومیږي، د همدغه کال په جون کي خپور سو او په هغه کي ئې د لومړي ځل دپاره د ارزښت او پیسو په باب د خپلي تیوری عمده ټکي په اصولي توګه بیان کړل. د دې اثر مقدمه چي مارکس په خپل قلم کښلې ده، په هغه کي د تاریخي ماټریالیزم یو لړ بنیادي اساسات په اصولي توګه تدوین سوي دي او په همدغه دلیل دې مقدمې ته د کلاسیک آثارو په ډله کي خورا مهم ځای ور کول سوی دئ. په دې مقدمه کي مارکس لیکي: «زما څېړنو دې نتیجې ته ورسولم، چي حقوقي روابط او همدارنګه د دولت شکلونه باید داسي درک نه سي، چي په اصطلاح د بشري دماغ د عمومي انکشاف محصول وګڼل سي؛ بلکي د هغوی ریښې د ژوند په مادي شرایطو کي دننه دي. همدغه مادي شرایط په مجموعي توګه هیګل د اتلسمي پېړۍ د انګلیسانو او فرانسویانو په تقلید د مدني ټولني تر نامه لاندي را غونډ کړي دي. د دې مدني ټولني اناټومي باید په سیاسي اقتصاد کي ولټول سي. د سیاسي اقتصاد څېړنه ما په پاریس کي شروع کړه او کله چي زه د م. ګیزوټ M. Guizot له خوا د اخراج په امر بروکسل ته را وایستل سوم، نو هلته مي هم ادامه پسي ور کړه. هغه عمومي نتیجه چي زه ورته را ورسېدم او تر لاس ته راوړو وروسته ئې ما ته د خپلو مطالعاتو په چارو کي د لارښوونکي تناب په توګه کار را کړ، کېدلای سي چي په دې لاندي کلماتو کي په لنډه توګه فورمول‌بندي سي: انسانان د خپل ژوند د اجتماعي تولید په جریان کي داسي ټاکلو روابطو ته سره داخلیږي، چي هغه هم حتمي او هم د دوی له ارادې څخه وتلي دي. دغه د تولید روابط دي، چي د دوی د مادي تولیدي قواوو د انکشاف د یوې معیني مرحلې سره سمون لري. د تولید د دغو روابطو مجموعه د یوې ټولني اقتصادي ساختمان تشکیلوي؛ یعني هغه واقعي زیربنا جوړوي، چي حقوقي او سیاسي روبنا ور باندي دریږي او هم د اجتماعي شعور ټاکلي شکلونه له هغه سره مطابقت لري. د

اجتماعي سياسي او مفکوروي ژوند پروسه په عمومي توګه د مادي ژوند د توليدي طرز له خوا ټاکل کيږي. د دې خبري عامل د انسانانو شعور نه دئ، چي د دوی هستي ور ټاکي، بلکي د دوی اجتماعي هستي ده، چي د دوی شعور ور ټاکي. د انکشاف په يوه معينه مرحله کي د ټولني مادي توليدي قواوي د توليد د موجودو روابطو سره يا په حقوقي اصطلاح د تمليکي روابطو سره، چي تر اوسه ئې په هغو کي دننه چلاو درلود، د ټکر په حالت کي را ځي. له دغو روابطو څخه چي په لومړي سر کي د توليدي قواوو د انکشاف اشکال ول، اوس د دغو قواوو د محدوديت ځنځيران جوړيږي. په دې پسي نو د اجتماعي انقلاب يوه دوره پيل کيږي. د اقتصادي زيربنا له بدلون سره ټوله پراخه روبنا په لږ يا ډېره چټکی بدلون مومي. هر کله چي پر دغسي تحولاتو باندي غور کيږي، نو په کار ده، چي د توليد د اقتصادي شرايطو مادي بدلون ته، چي هغه د طبيعي ساينس له خوا په دقيقه توګه اندازه کېدای سي، بايد له هغو حقوقي، سياسي، مذهبي، فلسفي يا په لنډه توګه ايډيالوجيکي اشکالو څخه فرق ور کول سي، چي د هغوی په ساحه کي انسانان له دغه ټکر څخه شعوري احساس کوي او په جنګ ئې پای ته رسوي. کټ مټ لکه زموږ عقيده چي د يو فرد په باره کي پر داسي څه نه وي بنا، چي هغه فرد ئې د ځان دپاره فکر کوي؛ دغه رنګه موږ د تحول د يوې همدغي دورې په باره کي د هغسي دورې د خپل شعور په اساس باندي حکم نه سو کولای، بلکي دغه شعور بايد د مادي ژوند د تضاد په اساس د هغه موجود ټکر له مخي تشريح سي، چي د اجتماعي توليد قواوو او توليدي روابطو په منځ کي وجود لري. هيڅ اجتماعي نظام هيڅ کله تر هغه دمخه چي په ده کي د ټوله توليدي قواوو د انکشاف دپاره زمينه مساعده وه، له منځه نه دئ تللی او نه هم هيڅ کله د توليد نوي عالي روابط چيري منځ ته راغلي دي، تر څو چي دمخه ئې د موجوديت مادي شرايطو د زړې ټولني په رحم کي پوخوالي ته نه دي رسېدلي؛ په دې اسا نو بشر هر کله ځان ته هغه دندي ټاکي، چي د حل تر عهدې ئې وتلای سي. که دې موضوع ته غور وسي، دا نتيجه به هر کله لاس ته را سي، چي يوه دنده په خپله يوازي هغه مهال منځ ته را ځي، چي د حل دپاره ئې وختي لا مادي شرايط يا برابر سوي وي او يا د برابرېدو په حال کي وي. په عمومي الفاظو ويل کېدای سي، چي د توليد آسيايي لرغوني فيوډالي، اوسني بورژوازي طرزونه د ټولني په اقتصادي شکل (فورماسيون) کي د ارتقايي دورو په توګه شوول کېدای سي. د توليد بورژوازي روابط د توليد د اجتماعي پروسې هغه وروستنی شکل دئ، چي په هغه کي لا تخاصم د فردي دښمنی په مفهوم نه دي، بلکي داسي تخاصم دي، چي د افرادو د ژوند له اجتماعي شرايطو څخه را زېږېدلي دي. په

عين زمان کي هغه توليدي قواوي چي د بورژوازي ټولني په رحم کي انکشاف کوي، د دغه تخاصم د حل دپاره مادي شرايط را پيدا کوي؛ نو ځکه دغه اجتماعي فورماسيون بشري ټولني د ماقبل التاريخ دوره پاى ته رسوي.»

د دې اثر تر خپرېدو وروسته مارکس مجبور سو، چي د يو څه وخت دپاره خپلي اقتصادي څېړني پريږدي؛ ځکه له يوې خوا د دې دپاره مبارزې شروع سوې، چي د ايټاليا بېلابيلي برخي يو له بله متحدي سي او د اطريش له سلطې څخه آزادي پيدا کړي او له بلي خوا د وېشل سوي المان د وحدت دپاره هڅي بيا را ژوندۍ سوې. مارکس دغو پېښو ته زياته توجه واړوله. اوس نو بيا لکه په ۱۸۴۸م. کال کي چي مارکس دې لوري ته جدي هڅه کوله، چي د بورژوا ډيموکراټيکو نهضتونو د پراخېدو او ټينګېدو دپاره د زيارکښو لويو پرګنو؛ يعني په عامه توګه د وړو بورژوازيانو او په خاصه توګه د بزګرانو او بالآخره د ناداره طبقو همکاري را جلب کړي. دغه هڅه ئې په هغو ټولو ليکنو کي څرګنده ده، چي ده په همدغه زمانه کي د ايټاليا، المان، پولنډ او روسيې په باره کي کښلي دي.

د ۱۸۵۹م. کال په دوران کي چي اطريش، ايټاليا، فرانسې جنګ وو او لويي بناپارټ غوښته، چي «د ايټاليا د آزادۍ» تر شعار لاندي خپلي ګټي ولټوي، نو مارکس د دغه سياست د افشاء په برخه کي چي بناپارټيزم ئې باله، خپل انتقادات په هغه جريده کي خپاره کړل، چي داس فوک Das Volk نومېدله او په لندن کي په الماني خپرېدله. مارکس وښوول، چي د ايټاليا سوچه آزادي او وحدت يوازي د ملي پاڅون په وسيله سر ته رسېداى سي او له دې لاري به د اطريش له سلطې څخه آزاد سي او ځان ته به ډيموکراټيک دولت جوړ کړي، خو بناپارټيزم غوښته د مظلومو ملتونو د نجات په پلمه د خپل تسلط ساحه پراخه کړي.

په دې وخت کي د پروس د حکومت پاليسي هم د مارکس تر انتقاداتو لاندي وه، ځکه هغه غوښته د بې طرفۍ تر پوښ لاندي په خړو اوبو کي ماهيان ونيسي. مارکس د بناپارټ په ګټه تبليغات نه يوازي د ايټاليا دپاره زيانمن ګڼل، بلکي هغه ئې د المان د انقلاب پر ضد او په اروپا کي د ارتجاعي قواوو په نفعه محاسبه کول. د دې مسايلو په ارتباط لازمه سوه، چي د الماني مهاجر هير کارل وګټ Herr Karl Vogt پر ضد باندي خپروني وسي؛ ځکه دغه سړى د شهزاده ناپليون (پلون پلون Plon Plon) په هدايت او د لويي ناپليون په اجرت د المان سره د همدردۍ په عنوان د بې طرفۍ د سياست په تائيد کي مظاهرې جوړې کړې. کله چي وګټ په مارکس پوري زيات تورونه وتړل او تهمتونه ئې پوري وويل، نو مارکس ئې په جواب کي هغه رساله وکښه، چي «هير وګټ» نومېده او په ۱۸۶۰م.

کال کي په لندن کي خپره سوه. په دې رساله کي ئې وګټ او د وړې بورژوا داسي نور الماني مهاجرین، چي د بناپارټ په ګټه ئې سیاسي فعالیتونه کول، ټول افشاء کړل. وګټ د داخلي او خارجي شواهدو له مخي په دې ملزم سو، چي یو اجیر دئ او خپل فعالیتونه د یو اجرت په بدل کي سر ته رسوي. رشتیا هم لس کاله وروسته بیا د بناپارټ په خپاره سوو اسنادو کي دا څرګنده سوه، چي ده ته ئې ۴۰۰۰۰ فرانکه ور کړي ول.

د همدې زماني خبره ده، چي د مارکس او فېرډیناند لاسل Ferdinand Lassalle تر منځ مخالفتونه پیدا سول. لاسال چي یو المانی سوسیالیسټ وو، د ۱۸۴۸م. کال راهیسي ئې له مارکس سره مکاتبه کوله او ځان ئې د ده له ډلي څخه باله. لاسال په دې عنوان یوه رساله خپره کړه، چي نوم ئې وو: «ایټالوی جنګ او د پروس وظیفه». دا رساله ئې د هغي لیکني پر خلاف وه، چي اینګلس څه وخت دمخه خپره کړې وه. د لاسال نظریه دا وه، چي پروس باید د هغه جنګ طرفداري وکړي، چي فرانسې د ایټالیا د آزادۍ دپاره د اطریش سره شروع کړی وو.

ده فکر کاوه، چي په دې ډول به اطریش ماته وخوري او پروس به وکړای سي، چي تر خپلي حکومتي سلطې لاندي المان متحد کړي. لاسال ولیکل، چي «که د پروس حکومت دغه وظیفه اجراء کړي، نو الماني ډیموکراټان به د پروس تر بیرغ لاندي را ټول سي او ګرده موانع به له منځه یوسي. خو مارکس او اینګلس بیا داسي نظر درلود، چي المان باید په انقلابي توګه د خلګو له خوا متحد سي. لاسال د خپل نظر په اساس د پروس ارتجاعي حکومت ملاتړ کاوه او هغه ئې د متحد المان د جوړېدو اساسي قوت ګاڼه.»

مارکس او اینګلس د فرانسې هغه پالیسي انتقادوله، چي بناپارټ طرحه کړې وه او په نظر کي ئې درلوده، چي اروپا تر تسلط لاندي راولي. دوی د ایټالیا خلګو ته بلنه ور کوله، چي د خپل هیواد آزادي او وحدت په خپل لاس کي واخلي، خو لاسال بیا د بناپارټ «د آزادۍ رسالت» پالیسۍ ته معتقد وو، نو ځکه د فرانسې د امپراطور د لوټماری د سیاست طرفداري ئې کوله. وایي چي مارکس په یوه تنبیهي لیک کي لاسال ته داسي وکښل: «ستا رساله په هیڅ توګه زما نظریات نه بیانوي او نه هم هغه نظریات ښیي، چي په اینګلینډ کي ئې زما ګوندي ملګري لري.»

د دوی تر منځ اختلافات هغه وخت ډېر شدید سول، چي لاسال «د المان د کارګرانو د عمومي اتحادیې» مشر سو او د هغي اتحادیې دپاره ئې داسي پروګرام تدوین کړ، چي د کمونیستي اعلامیې له محتویاتو سره ئې اصولي توپیر درلود. لاسال کارګران له اعتصابونو څخه را ګرځول او یوازي ئې د

مبارزو سوله‌ایزو اشکالو ته را بلل. ده د انتخاباتو د عمومي رای‌گیرۍ سیستم د کارگرو د ټولو بدبختیو دپاره اکسیر باله. ده د کارگرو په منځ کي د پروس د دولت په گټه دا ذهنیت خپراوه، چي هغه دولت به د مولدینو اتحادیې جوړې کړي او دوی به له استثماره څخه خلاص کړي.ده د بزگرو طبقه یوه ارتجاعي پرگنه بلله، په داسي حال کي چي مارکس هغه د پرولتاري طبقې سره متحده گڼله. لاسال د بسمارک Bismarck سره پټي خبري کړي وې او هغه ته ئې ویلي ول، چي د کارگرو طبقه به د ده داخلي او خارجي سیاست تائید کړي. البته په دې شرط چي بسمارک د عمومي رای‌گیرۍ د سیستم وعده ده ته ور کړي. که څه هم مارکس په دغه پټه معاهده او معامله نه وو خبر، لاکن د لاسال له سلوک څخه پوهېدی، چي د ارتجاعي حکومت په پله کي ولاړ وو.
مارکس او اینگلس په خپلو لیکنو کي پر لاسال باندي «د پروس د شاهانه دربار ډیموکراټ» نوم ایښی وو. مارکس او اینگلس په دې سبب چي لاسال په پخوا کي دا مرسته کړې وه، چي کارگران له بورژوازي نفوذه څخه سالم وساتي، نو ئې د ده په مقابل کي په ډاگه څه نه خپرول. خو د لاسال تر مړیني وروسته کله چي د دوی گمان رشتیا سو، چي هغه د بسمارک سره پټه معاهده کړې وه، نو ئې دی د کارگري نهضت سره د یوه خاین په توگه اعلان کړ او د لاسال د طرفدارانو د سیاسي مکتب؛ یعني «د پروس د شاهانه سوسیالیزم» په مقابل کي ئې څرگنده مبارزه پیل کړه.

## مارکس او روسیه:

مارکس سربېره پر هغه چي د غربي اروپا حوادث ئې تعقیبول، په روسیه کي ئې د بزگرو مبارزې هم تر مطالعې لاندي وې. ده امید درلود، چي د روسیې د بزگرانو هغه مبارزه، چي د زراعتي مرئیتوب (سرفډم Serfdom) په مقابل کي ئې را شروع کړې وه، د اروپا د انقلاب سره مرسته کوي. له دې پېښو سره یو ځای د امریکا داخلي جنگ هم د مارکس په نظر کي یوه ستره بین المللي پېښه وه. مارکس منتظر وو، چي دغه حوادث به هغه کارگري نهضتونه بیا د تاریخي فعالیتونو دپاره را ژوندي کړي، چي څو کاله د ارتجاع د غلبې په اثر مړاوي سوي ول.

## د مارکس کاپيټال:

څه رنګه چي مارکس په دې ټينګ باور درلود، چي کارګري نهضتونه بيا په ډېر قوت را ژوند کيږي، نو ئې د خپلو اقتصادي څېړنو او مطالعاتو سلسله خورا زياته چټکه کړه. د اتلسو مياشتو تر وقفې وروسته ئې په ۱۸۶۱م. کال بيا اقتصادي څېړني پيل کړې. د ده په نظر کي وه، چي خپل پخوانی اثر، چي «پر سياسي اقتصاد انتقادي ليکنه» نومېدی، له نوي سره بيا ترتيب کړي او دا پلا ئې د يوه مستقل اثر په توګه خپور کړي. په ۱۸۶۲م. کال کي مارکس خپل ملګري ل. کوګلمان L. Kugelmann ته په يوه ليک کي وکښه، چي د ده د راتلونکي اثر لوی عنوان به کاپيټال Capital وي او وړوکی عنوان به ئې «پر سياسي اقتصاد انتقادي ليکنه» وي.

مارکس د کاپيټال ليکني ته د ژوند د خورا سختو شرايطو په دوران کي ادامه ور کوله؛ ځکه په امريکا کي د داخلي جنګ په سبب هغه سلسله وشکېده، چي مارکس به د «نيويارک تريبيون» ورځپاڼي ته مقالې ور استولې او په حق الزحمه به ئې ګذاره کوله. د مارکس د کورنۍ مالي وضعه ډېره خرابه وه، که د اينګلس مالي مرسته ور سره نه وای، نو نه يوازي چي له ده څخه به د کاپيټال ليکنه پاته سوې وای، بلکي دا د پرولتاري طبقې مشر به له لوږي څخه مړ سوی وای.

## لومړی بين الملل:

د پرولتاري طبقې بين المللي يووالی، چي مارکس او اينګلس ئې په کلونو کلونو ارزو درلوده او د هغه دپاره ئې نه ستړي کېدونکي مبارزې کړي وې، همدا وخت ئې په ۱۸۶۴م. کال کي اساس منځ ته راغی؛ ځکه اوس هغه «بين المللي کارګري اتحاديه» تاسيس سوه، چي د کارګرو د سياسي نهضتونو په تاريخ کي د «لومړي بين الملل» په نامه ياديږي.

د نړۍ د پرولتاريانو د بين المللي سازمان د جوړېدو شرايط په دغه وخت کي برابر سول؛ ځکه د نولسمي پېړۍ په نيمايي کي ارتجاعي استحکامات سست سول. بورژوا ډيموکراتيک تحريکونه او په تېره بيا د ملي آزادۍ غوښتني نهضتونه له سره را ژوندي سول. دې جرياناتو د کارګري طبقې له سياسي بيدارۍ سره مرسته وکړه. هغه اقتصادي بحران چي په ۱۸۷۵م. کال کي پېښ سو، د کارګري طبقې فعاليتونه ئې بيا وښورول. په دې دوران کي بورژوا طبقې هڅه کوله، چي د اقتصادي بحران

بارونه د کارګرو پر اوږو واچوي. کارګرانو اعتصابونه کول، خو سرمایه دارانو بیا د اعتصابو د ناکامولو دپاره له نورو هیوادو څخه د کار قوم را واردوله. دې تجربو کارګرو ته وښووله، چې د سرمایې حملې یوازې د ټولو هیوادو د پرولتاریانو د پیوستون او ګډ فعالیت په وسیله شا ته وهل کېدای سي. کارګرو هر چیري د اقتصادي مبارزو په اړخ کي سیاسي مبارزې هم پیل کړې؛ مثلاً د فرانسې پرولتاریانو بې له دې څخه چې د پرودن هغې توصیې ته اهمیت ور کړي، چې کارګران باید په سیاست کي لاس و نه وهي، سمدلاسه ئې د مبارزې پراخ سیاسي فعالیتونه شروع کړل. الماني کارګران هم پرله پسې د بورژوا طبقې له سیاسي سرپرستۍ څخه را وتل او دا ضرورت ئې احساساوه، چې کارګري اتحادیې جوړې سي، د اعتصابونو دپاره تنظیم منځ ته را سي او د لامال له عمومي اتحادیې څخه جلا د کارګرو ګوند تشکیل سي. په انګلستان کي هم د لیبرالي اتحادیو له ټینګښته سره د کارګرانو انقلابي اعتصابونه او د عامي رای‌ګیرۍ د سیستم دپاره سیاسي حرکتونه په ډېر شدت را پورته سول. د هغې زمانې په سیاسي جریاناتو، مظاهرو او کارګري نهضتونو کي دا نښه څرګنده ده، چې کارګران هر چیري غواړي د یو بین المللي ارتباط په ساحه کي خپلې انقلابي مبارزې تنظیم کړي.

مارکس په صحیح توګه د نړۍ سیاسي او اقتصادي تجولات ارزیابي کړي ول، نو دې نتیجې ته رسېدلی وو، چې د پرمختللو بېلو بېلو هیوادونو د پرولتاریانو تر منځ د بین المللي پیوستون مفکوره اوس عملي کېدای سي. په همدغه دلیل مارکس چمتو وو، چې د جوړېدو سره سم د بین المللي کارګري اتحادیې سازماني فعالیتونه په زیاته چټکۍ وړاندي بوزي.

د لومړي بین الملل د جوړېدو قصه له دې ځایه څخه را شروع کیږي، چې د ۱۸۶۴م. کال د سپټمبر پر ۲۸مه د لندن د مارټن Martin په سالون کي یوه عمومي غونډه په دې مناسبت را بلل سوې وه، چې پر پولنډ باندي د تزاري روسیې د حملې پر خلاف خپله خواخوږي څرګنده کړي. په دې غونډه کي د انګلستان، ایټالیا، فرانسې او المان د کارګرو نماینده‌ګانو ګډون کړی وو، چې د المان په نماینده‌ګۍ مارکس او ایکاریوس Eccarius ورغلي ول. د غونډې په ترځ کي دا تصمیم ونیول سو، چې «بین المللي کارګري اتحادیه» جوړه سي. همدارنګه فیصله وسوه، چې د دې اتحادیې عمومي شورا به په لندن کي وي او د المان، ایټالیا، فرانسې او انګلستان د کارګرو ټولنو تر منځ به ارتباط ساتي. په دې ترځ کي د دغو هیوادو له کارګري نماینده ګانو څخه یوه موقتي کمېټه جوړه سوه، چې په هغې کي مارکس د المان په نماینده‌ګۍ هم غړیتوب درلود. د دغې کمېټې په جلسه کي یوه جرګه‌ګۍ وټاکل سوه، چې د موقتي اصولو یوه اعلامیه تسوید کړي. هغه مسودې چې د کمېټې نورو

غړو ترتیب کړې، زیاتره غیراصولي او له اصلي مفاهیمو څخه خالي وې؛ نو د دې دپاره چې د بین الملل په اسنادو کې د کارګري نهضتونو واقعي اهداف منعکس سي، مارکس دې ته اړ سو، چې دغه مهم کار ته په خپله اقدام وکړي.

څه رنګه چې د لومړي بین الملل په ترکیب کې د ګډو وډو سوسیالیستي تمایلاتو عناصر را غونډ سوي ول، نو د دوی د پیوستون دپاره د ګډو اصولو پروګرام، چې انقلابي محتوا ولري، له خورا سختو کارونو څخه ګڼل کېدی. مارکس په یوه لیک کې، چې اینګلس ته ئې د ۱۸۶۴م. کال د نومبر پر څلرمه کښلی دئ، دغه مشکل ته داسي اشاره کوي: «دا ګران کار وو، چې یو داسي شی تدوین سي، چې په هغه کې د روانو کارګري نهضتونو له دریځه څخه زموږ نظریات د منلو وړ ښکاره سي... د دې دپاره وخت په کار دئ، چې بیا را ژوندي سوي نهضتونه هغي درجې ته ورسیږي، چې د پخوا په شان صریحو بیانو ته زمینه مساعده کړي. اوس دا ضروري خبره ده، چې سړی په عمل سخت او په چلند کې نرم وي.» په هر صورت؛ مارکس دغه مشکل کار په خورا بریالیتوب سره پای ته ورساوه، څکه بې له دې چې یوه ذره له خپلو اصولي نظریاتو څخه انحراف وکړي، د لومړي بین الملل د جوړېدو دپاره ئې افتتاحیه وینا او هم ئې د هغه سازمان د فعالیتونو دپاره موقتي اصول د اکتوبر تر ۲۷مي پوري تهیه کړل. په دې اصولو کې ئې داسي پروګرام ترتیب کړ، چې د بین الملل دروازه ئې د انګلستان د کارګري لیبرالي اتحادیو، د فرانسې د پرودن او د المان د لاسال د طرفدارانو پر مخ بانـدي خلاصه پرېښووله. دغه دواړه آثار چې یو افتتاحیه وینا او بل د بین الملل موقتي اصول دي، په تاریخي لحاظ د هغو اصولي مبارزو څرګندوی دي، چې مارکس د طبقاتي مبارزې په اساس د نړۍ د کارګرو د مستقل نهضت دپاره سر ته رسولي دي.

د ۱۸۶۴م. کال د اکتوبر په اواخرو کې د بین الملل کارونه شروع سول. د عمومي شورا چاري ئې مارکس پر غاړه واخیستې. د دې کارګري سازمان فعالیتونه دې هدف ته متوجه سول، چې کارګره طبقه له بورژوا ډیموکراټانو څخه را بېله کړي او کارګري نهضت له ګډو وډو سوسیالیستي، نیم سوسیالیستي ډلو له نفوذه څخه پاک کړي او د علمي سوسیالیزم لوري ته ئې رهي کړي.

د نړۍ د پرولتاریانو مشر د بین المللي اتحادیې اساس پر ډیموکراټیکو اصولو بانـدي کښېښوی. د شخصیت پرستۍ هغه تمایلات، چې د وړې بورژوا طبقې ځینو مشرانو په خپلو سازمانو کې خپاره کړي ول، مارکس ئې په لومړي سر کې مخ ونیو او پوچې ئې کړل. د دې مطلب په تائید کې باید هغه څو خبري دلته را نقل کړو، چې مارکس د ۱۸۷۷م. کال په یوه لیک کې کښلي دي: «څه رنګه چې

زما د فرد له پرستش څخه ښه نه را ځي، نو د بين الملل په ټوله دوره کي چي ما ته پيغامونه راغلي دي او زما خدمتونه ئې ستايلي دي، ما نشر ته نه دي سپارلي. که څه هم د ېلا بيلو هيوادونو څخه پـه دې سبب تر اعتراض لاندي راغلی يم، چي بايد دغه پيغامونه خپاره کړم؛ ما حتی دوی ته جواب لا هم نه دئ ور لېږلی، پرته له هغه استثنايي مواردو څخه، چي ما ئې ليکونکي توبيخ کړي دي. کله چي زه او اينگلس وار د واره د پټي کمونيستي ډلي سره يـو ځـای کېـدو، نـو مـو دا شـرط کښېښـووی، چـي د واکمن مقام هر خرافاتي پرستش بايد له اصولو څخه حذف سي.»

په بين الملل کي د مارکس تاکتيک دا وو، چي د پرگنو د عملي تجربو پر اساس باندي کـارگرو تـه د وړې بورژوا طبقې د سوسياليزم ټوله بې اساسه شکلونه تشريح کړي او مفکرين ئې څرگندي رسوايۍ ته را وباسي. په همدې ډول ئې نـو ورو ورو د پرولتـاري طبقـې د رښـتيني علمـي او رښـتيني انقلابـي تيورۍ او تاکتيک مرامونه په خلکو کي خپاره کړل.

د بين الملل د جوړېدو له لومړي سره څخه د مارکس مقابله د تخيلي يا واړه بورژوازي سوسـياليزم لـه بېلا بيلو تمايلاتو سره ونښته. له دې جملې څخه په فرانسه کي د پرودن طرفداران ول، چي په بلجـيم، ايټاليـا او نـورو ځـايونو کـي ئـې هـم پـالونکي درلـودل. پـه انگلسـتان کـي بيـا د کـارگري اتحـاديو اپورچونيستي مشران ول، چي د اووين نظريات ئې پالل، په ايټاليا کي د مېزيني Mazzini د نظريـاتو پالونکي او په المان کي د لاسال د مکتب پيروان ول. کله چي بين المللـي کـارگري اتحاديـه تاسـيس سوه، نو تر هغه وروسته د المان د کارگرو د عمـومي اتحـاديې يـو مشـر، چـي شـويتزر Schweitzer نومېد، مارکس ته ئې بلنـه ور کـړه، چـي د هغـي جريـدې سـره همکـاري وکـړي، چـي ده غوښـته د سوسيال ډيموکراټ په نامه ئې خپره کړي. شويتزر په خپل ليک کي مارکس د يو وتلي مشر په توگه د المان د کارگري گوند موسس بللی وو او د همدې راتلونکي جريدې يو مـوډل ئـې ورتـه را لېږلـی وو، چي په هغه کي د لاسال شعارونه نه ليدل کېدل. مارکس په دې فکـر کـي سـو، چـي ښـايي دغـه جريده به په المان کي د بين الملل فعاليتونه مخ ته بـوزي، نـو ئـې ځکـه د همکـارۍ بلنـي تـه مثبـت جواب ووايه. ده شويتزر ته د بين الملل د افتتاحيـه وينـا مـتن ور واسـتوه، خـو کلـه چـي د سوسـيال ډيموکراټ لومړۍ امتحاني گڼه لندن ته ورسېده، نو مارکس او اينگلس هک پـک ورتـه پاتـه سـول؛ ځکه هغه د بسمارک د اشرافي حکومت په ستاينه ډکه وه. مارکس په هغه مقاله کي، چي د پـرودن د مړيني په مناسبت ئې کښلې وه، له موقعې څخه دا استفاده وکړه، چي د سوسيال ډموکراټ په جريـده کي هر هغه عمل وغندي، چي د موجوده حکومت سره د جوړې روغي حتـی تـش شـباهت ولـري.

مارکس او اینګلس یوه سلسله کوښښونه وکړل، چې دغه جریده پر سمه لار روانه کړي، خو هیڅ نتیجه ئې ور نه کړه. بالآخره دوی مجبور سول، چې د ۱۸۶۵م. کال د فبروري پر ۱۳مه یوه ابلاغیه خپره کړي او په هغې کي له سوسیال ډیموکراټ سره د خپلې همکارۍ مقاطعه اعلان کړي.
د همدې زمانې خبره ده، چې د عمومي شورا په یو دوو جلسو کي، چې د ۱۸۶۵م. کال د جون پر ۲۰مه او ۲۷مه جوړې سوې، مارکس «د مزدوریو قیمت او ګټې» تر عنوان لاندي په ساده ژبه هغه اقتصادي روابط وځېړل، چې د بورژوا طبقې د حاکمیت اساس جوړوي. ده د همدې څېړنې په مقدمه کي داسې وویل: «اوس په ټوله اروپا کي اعتصابونه خپاره دي او د معاش د زیاتېدو دپاره عامې چیغې ختلې دي. دا مسئله به زموږ کنګرې ته را وړاندي سي. تاسې چې د بین الملل د اتحادیې مشران یاست، باید اوس لا د دې مهمې مسئلې په باب کي خپل نظریات تثبیت کړئ. زما خو په خپل روڼ دا وظیفه ده، چې دغه موضوع په بشپړه توګه وڅېړم؛ که څه هم دا خطر ور سره دئ، چې ستاسې حوصله به مي د یو سخت ازمایښت سره مخامخ کړې وي.»
د بین الملل د جوړېدو په لومړۍ ورځ داسې پرېکړه وسوه، چې د سازماني فعالیتونو په سلسله باید د کارګرو عمومي کنګره په ۱۸۶۵م. کال په بلجیم کي غونډه وکړي؛ اما کله چې هغه وخت را ورسېد، نو د ځینو معاذیرو له کبله هغه کنګره د لندن د کنفرانس په نامه په انګلستان کي جوړه سوه. په دې کنفرانس کي پر یو شمېر سازماني مسایلو باندي تر خبرو وروسته تصمیمونه ونیول سول. وایي چې په همدې غونډه کي د پرودن له طرفدارانو سره د کارګري نهضتونو پر اصولي خبرو باندي یو پلا بیا د مارکس مبارزې را شروع سوې. هغه لومړنۍ اختلافي مسئله چې په بین الملل کي د پرودن د طرفدارانو او مارکس تر منځ مطرح سوه، د پولنډ د خپلواکۍ پر سر وه، چې تزاري روسیې تر خپل تسلط لاندي کړې وه. د پرودن طرفدارانو نه غوښته، چې د پولنډ د خپلواکۍ مسئله د ۱۸۶۶م. کال د جینوا د راتلونکي کنګرې په اجنډا کي شامله سي. دوی ویل، چې دا یوه سیاسي موضوع ده او له کارګرو سره هیڅ اړه نه لري؛ خو مارکس او ملګرو ئې په جواب کي ویل، چې د پرودن طرفداران ملي مسئله په نظر کي نه نیسي او د پولنډ له خلکو سره مرسته نه کوي، بلکي په عمل کي لا د تزاریزم ظالمانه سیاست حمایه کوي.

## د کاپیټال چاپ ته تیاریده:

په دې ترڅ کي باید وویل سي، چي د سیاسي اقتصاد په برخه کي د مارکس ژوري څېړني د ۱۸۶۵م. کال په آخره کي دې نتیجې ته ورسېدې، چي د کاپیټال لومړی مسوده ئې تیاره کړه. د دې لـه پـاره چي لومړی جلد ئې چاپ ته وسپاري، نو ئې تر دوهم نظر تېر او د ښه سمېدو په سبب ئې لاس پکښې وواهه.

وروسته نو د ۱۸۶۶م. کال د سیپټمر له دریمي تر اتمي پوري په جینیوا کي د بین الملل بله کنګره جوړه سوه. دې کنګرې ته مارکس ور نغی، ځکه د کاپیټال په کار زیات مصروف وو. خو د عمومي شورا هغه نماینده‌ګانو ته، چي په دې کنګره کي ئې د لندن له خوا ګډون کاوه، یو شمېر لنډ هـدایات ئې د عمده مسایلو په باب کي ور کړل، چي یو څو ئې دلته د نمونې په توګه وړاندي کیږي:

۱- باید له دې عمله سره مقابله وسي، چي سرمایه‌داران د کارګرو د اعتصابو پـه وخـت کـي لـه نـورو هیوادو څخه د کار قوه واردوي.

۲- د اته ساعته کار دپاره باید مبارزه وسي.

۳- د کمکیانو او ځوانکیانو د کار ساعتونه باید لږ سي او د دوی د ذهني او بدني روزني دپاره شـرایط برابر سي.

۴- د پولنډ د خلکو د خپلواکۍ حقوق پر ډیموکراټیکو اساسانو باندي له سره اعاده سي.

لنډه ئې دا چي په دې کنګره کي تر یو لړ تودو مباحثاتو وروسته د نماینده‌ګانو اکثریت د هغه عملـي پروګرام په تائید کي رایه ور کړه، چي مارکس د لندن د نماینده‌ګانو دپاره ور تهیه کړی وو. همدارنګه د بین الملل هغه موقتي اصول تائید سول، چي مارکس دمخه تدوین کړي ول. پـه دې کنګـره کـي د پرودن پلویانو هم سخته ماته وخوړه.

د کاپیټال د تاریخي اثر لومړی جلد تیار سو. د ۱۸۶۷م. کال په اپریل کي مارکس په خپله دغـه جلـد هامبورګ ته یووړ، چي هلته ئې د چاپېدو دپاره ناشر ته وپاري. وایي د همدغه کال د مې پر ۵مه چي د مارکس ۴۹مه کلیزه وه، لومړی پروب ئې ده تـه را ورسـېد. نـور پروبونـه ئـې د چـاپوونکي لـه خـوا وځنډېدل او مارکس هم د هغو تصحیح د ډېر وخت له پاره وځنډول. ده هر کله په متن کي الفاظ او کلمات تبدیلول او هم ئې پروبونه د مشورې او نور تصرف دپـاره اینګلس تـه ور اسـتول. د دې اثـر آخرین پروب د شمېر له مخي ۴۹ وو، چي مارکس امضاء کړ او د اګست پر ۱۶مه ئې چاپوونکي تـه

وسپاره. د کاپیټال د لومړي جلد د بشپړېدو په مناسبت مارکس خپل ور تېر ملګري اېنګلس ته د ۱۸۶۷م. کال د اګسټ پر ۱٦مه په يوه ليک کي داسي وليکل: «دا جلد بشپړ سو؛ يوازي ستا په برکت دا کار امکان پيدا کړ. که ستا فداکاري زما سره نه واى، ما ته دا امکان نه برابرېدى، چي د درو جلد کار دي سر ته ورسوم. په غېږ کي دي نيسم له ډېري منني سره..»
د کاپيټال د لومړي جلد بشپړېده نه يوازي دا چي د مارکس د ژوند لويه پېښه وه، بلکي د ټوله کارګري نهضتونو او د پرولتاري طبقې د انقلابي تيورى دپاره ئې ستر تاريخي اهميت درلود. اېنګلس وايي: «تر هغه وخته چي د مځکي پر مخ باندي سرمايه‌داران او کارګران پاته وي، بل دغه راز مهم کتاب به د کارګرو دپاره منځ ته را نه سي.»
۲۵ کاله پرله پسې نه ستړي کېدونکي څېړني دې نتيجې ته ورسېدې، چي د مارکس اقتصادي دکتورين په پاخه او پوره شکل د کاپيټال په اثر کي تدوين او تنظيم سو. په دې ستر اثر کي ليدل کيږي، چي ډېر ژور علمي دقت له انقلابي حرارت سره يو ځاى سوى دئ. بايد وويل سي، چي کاپيټال يو ساده کتاب نه دئ او نه هم په اسانى څوک په پوهېداى سي. د دې خبري يو دليل، چي مارکس په خپله هم د کاپيټال د فرانسوى ترجمې په مقدمه کي اشاره ورته کړې ده، دا دئ، چي ده د اقتصادي موضوعاتو د تحليل په برخه کي کار ځني اخيستى دئ، يو نوى او بې سابقې مېتود دئ، چي پخوا چا کار نه دئ ځني اخيستى. خو سره له دې هم که چا غوښتي واى، چي په پوه سي؛ نو دا کار له امکانه نه دئ وتلى.
مارکس دغه مطلب ته په همدې مقدمه کي داسي اشاره کړې ده: «ساينس ته شاهانه سړک نه دئ ورغلى، يوازي هغه څوک چي نيغو لوړو لارو ته د ختلو له ستړيا څخه ډار نه کوي، دا چانس سته، چي ځلانده څوکو ته ور وخيژي.»
د مارکس اقتصادي دکتورين د سياسي اقتصاد په ساحه کي يو بنيادي انقلاب منځ ته را وست. يوازي د مارکس په شان د پرولتاري طبقې يو نابغه، چي د حاکمو استثماري طبقاتو په ګټه ئې د نفعي تمايلاتو او محدوديتو څخه فکري آزادي درلوده، وکړاى سواى چي د سرمايه‌داري ټولني اناټومي يعني د اقتصادي جوړښت تشريح تر سوچه علمي څېړني لاندي ونيسي.
مارکس د سرمايه‌داري ټولني د حرکت اقتصادي قوانين کشف کړل او دغه ټولنه ئې د را پيدا کېدو، انکشاف او ړنګېدو د درو ګونو مرحلو په سلسله کي تر څېړني لاندي ونيوله. ده د بورژوازي اقتصادي پوهانو پر خلاف په علمي توګه ثابته کړه، چي دغه ټولنه په تاريخي لحاظ يو محدود او

عبوري خصلت لري. د هغو نه رغېدونکو تضادونو لـه مخـي، چـي پـه سـرمايه‌داري ټولنـه کـي دننـه فعاليت لـري، مـارکس دا خبـره اثبـات تـه ورسـوله، چـي د هغـو ټولـو کوښښـونو سـره سـره چـي پـه سرمايه‌داري نظام کي د لويي بورژوا او وړې بورژوا طبقې اصلاح‌غوښتونکي ئې د دې له پاره کـوي، چي دغه تضادونه پڅ او بې اثـره کـړي، بيـا هـم ارو مـرو همدغـه تضـادونه د سـرمايه‌داري ټـولني د انکشاف په جريان کي تېزيږي او تېره کيږي. ده وښووله، چي سرمايه‌داري نظام د خپل انکشـاف پـه دوران کي د راتلونکي سوسياليستي ټولني مادي شرايط منځ ته راوړي. همداسـي ئـې څرګنـده کـړه، چي پرولتاره طبقه هغه اجتماعي قدرت دئ، چي پر سرمايه‌داري نظام به د تاريخ فتواوي وچلوي.

## اضافي ارزش:

د سرمايه‌داري نظام د مېکانيزم په تشريح کي مارکس د اضافي ارزش ماهيت روښانه کړ. ليـنن وايـي: «د اضافي ارزش دکتورين د مارکس د اقتصادي تيورۍ اساس دئ!» په کاپيټال کي مارکس ثبوت ته ورسوله، چي د سرمايه‌داري نظام ټول معايب، لکه په توليد کي ګډوډي (انارشي)، بحرانونه، بېکاري، د پرولتاريانو خواري، د وړې بورژوا طبقې ورانېدل او داسي نور د سرمايه‌داري نظام لـه داخلـي هغـو تضادو څخه نشئت کوي، چي د توليد د اجتماعي خصلت او د تمليک سرمايه‌داري شـکل پـه مـنځ کي وجود لري.

چي خبري را ټولي کړو، نو ويلای سو، چي د مارکس دغه ستره کارنامـه (کاپيټـال) د پرولتاريـانو پـه هغو مبارزو کي، چي له سرمايه‌داري نظام سره ئې لري، يوه ډېره غښتلې معنوي وسله ګڼل کيږي.

د کاپيټال د لومړي جلد تر خپرېدو وروسته مارکس بيا د اقتصادي مطالعاتو سلسله پرېښووله؛ څکه د لومړي بين الملل سياسي فعاليتونه ډېر سوه. د ۱۸٦۷م. کال په آواخرو کي د بـين الملـل بلـه کنګـره د سـويتزرلنډ د لـوزان Lausanne پـه ښـار کـي جـوړه سـوه. وايـي چـي پـه دې کنګـره کـي د پـرودن طرفدارانو اکثريت واخيست او ځيني اړ و ګړنګ پيشنهادونه ئې ومنل سول؛ خـو سـره لـه دې هـم دا اصل تصويب سو، چي «د کارګرو اجتماعي آزادي د دوی له سياسي آزادۍ څخه نه بېلېدونکې ده!»

د دې خبري دپاره چي په المان کي د لاسال سياسي نظريات شا تـه ووهـي، نـو مـارکس او ايـنګلس هڅه وکړه، چي د ويلهلم ليبکنخت په وسيله هلته د کارګري طبقې يو داسي ګوند جوړ کړي، چـي د لاسال د طرفدارانو له ګونده څخه جلا وي. په هغه کنګره کـي چـي د کـارګرو د ښـووني او روزنـي د

اتحاديو له خوا د لیبکنخت او ببېل Bebel تر مشرۍ لاندي د ۱۸٦۸م. کال د سیپټمبر پـه میاشـت پـه نورمبرگ Nuremberg کي جوړه سوه، نو دا فیصله ئې تصویب کړه، چي دوی په بین الملل پـوري پیوند سي. اوس نو د کارگرو بین الملل اتحـادیې پـه المـان کـي د خلگـو پرگنـو تـه هـم د نفـوذ لار ومونده.

همدا زمانه د ۱۸٦۸م. کال د سیپټمبر له ٦مي نېټې څخه تر ۱۳مي پوري په بروکسل کي د بـین الملـل بله کنگره جوړه سوه. که څه هم مارکس گډون نه وو پکښي کړی، لاکن د هغې په اداره کي ئې مهم رول درلود. دې کنگرې ته ایکاریس او ف. لیسز د لندن له خوا ورغلي ول. مارکس په یو لیـک کـي دوی ته هدایت ور کړ، چي په دې کنگره کي باید صرف دا شی تصویب کړئ، چي «د کارگرو طبقه په کافي اندازه نه ده تنظیم سوې، چي د یو چا پله دېره په درنـه سـي، خـو کنگـره بیـا هـم د کـارگري طبقې په نامه اجتماع کوي او د جنگ لمسوونکي بـد بـولي. همدغسـي د فرانسـې او المـان تـر مـنځ جنگ یو داخلي جنگ دئ، چي دواړو هیوادو ته زیان رسوي او هم په عمومي توگه ټولـه اروپـا تـه تاوان لري...» په همدې لیک کي چي د دغه کال د سیپټمبر پر ۱۰مه ئـې کښـلی دئ، ایکـاریس تـه لارښوونه کوي، چـي کـه د پـرودن د طرفـدارانو نظریـات مطـرح سـول، نـو بـه تـه دا ووایـې، چـي د انگلستان، المان او متحده ولایاتو کارگران له دغو دوگماتیکو احکـامو سـره کومـه اړه نـه لـري او پـه دوهمه درجه اهمیت ورته گوري.

## ایزناخران:

بل شی چي د بین الملل د سیاسي فعالیتونو په سلسله کي منځ ته راغی، هغـه دا وو، چـي پـه ۱۸٦۹م. کال کي د المان سوسیال ډیموکراټیک کارگري گوند په ایزناخ Eisenach کي جوړ سو، چي له هغـه سره د لیبکنخت او ببیل تر مشرۍ لاندي کارگري سازمانونه یو ځای سول او هم د لاسال د ډلـي هغـه کسان ورته راغلل، چي د المان د کارگرو د عمومي اتحادیې سره ئې روابط شـلولي ول. بایـد وویـل سي، چي دغه گوند په سیاسي ادبیاتو کي د ایزناخرانو په نامه یادېږي.

د کارگرو د بین المللي اتحادیې د عمومي شورا څلرمه کنگره د کال ۱۸٦۹م. د سیپټمبر له ٦مي څخه تر ۱۱مي پوري په بازل Basle کي جوړه سوه. په دې کنگره کي تصـویب سـوه، چـي «ټولنـه دا حـق لري، چي د مځکي خصوصي تملیک لغوه کړي او پـه عمـومي تملیـک ئـې واړوي او دغـه بـدلون

ضروري کار هم دئ.» همدارنگه د ټرانسپورټ، کانو او نورو د ملي کولو په باب کي پرېکړه لیکونه تصویب سول. د پرودن د نظریې طرفدارانو په دې کنگره کي سخته ماته وخوړه.

## د سوسیال ډیموکراسی اتحاد:

کله چي د بین الملل په سازمان کي د مارکس انقلابي نظریاتو د پرودن پر افکارو غلبه پیدا کړه او د لاسال ایډیالوجي ئې شا ته ووهله، نو یو بل نوی خطرناکه جریان د باکونین او د هغه د پیروانو له خوا منځ ته راغی. باکونین یو روسی مهاجر وو، د خپل انارشیستي سازمان اتکاء ئې، چي د سوسیال ډیموکراسی اتحاد نومېد، غوښتل د بین الملل مشري ونیسي. که څه هم کله چي باکونین بین الملل ته شاملېدی، نو دا ئې اعلان کړه، چي ده خپل نوموړی سازمان ړنګ کړ، لاکن په حقیقت کي ئې په پټه په بین الملل کي دننه هغه ته ادامه ور کوله. د بازل تر کنگرې وروسته د باکونین ډلي سربېره پر هغه چي په بین الملل کي ئې دننه تخریبي فعالیتونه کول، په رډه ئې هم د عمومي شورا او د هغې د مشر (مارکس) په مقابل کي مخالفتونه پیل کړل. دوی زیار ایستی، چي د پروس شاهانه سوسیالیستان؛ یعني د لاسال ډله او د برتانیې د کارگري اتحادیو غیرانقلابي عناصر، چي له مارکس سره ئې شدید اختلافات درلودل، د انارشیزم تر بیرغ لاندي ور ټول کړي.
باکونین او د ده انډیوالانو ادعا کوله، چي دوی د انقلاب مخالف نه دي، خو په حقیقت کي ئې انقلابي نهضت ته ډېر زیان رساوه. دوی د توطیو د جوړولو او بغاوتونو د لمسولو له لاري کارگران له ماتي سره مخامخ کول، ځکه هغو لا د انقلاب دپاره پوره چمتووالی نه درلود. دوی د انقلاب د بریالیتوب دپاره د اقتصادي شرایطو لزوم په نظر کي نه نیوی او دا ئې ویل، چي د انقلاب بری یوازي په دې پوري مربوط دئ، چي کارگران پر خپلو حقوقو باندي عقیده ولري او یو لږ شمېر مشران د ارادې کافي قوت په کار واچوي. باکونین والا په دې نظریه ول، چي د بدی لوی عامل سرمایه‌داري نظام نه دئ، بلکي دولت دئ او نو ځکه ئې د پرولتاریا دیکتاتوري ردوله. مارکس او اینگلس د دې ډلي ذهني‌گري انتقادوله او ویله ئې، چي دوی د اجتماعي انکشاف قوانین په نظر کي نه نیسي او دا خبره ئې، چي بشري اراده د تحولاتو اساسي عامل بولي، د ټولني د انقلابي تحول له اساساتو سره سمون نه خوري.

## د ایرلېنډ مسئله:

همدا وخت دئ، چې د ایرلېنډ Ireland ملي مسئلې د انګلستان په سیاسي جریاناتو کي زور اخیستی وو. د بین الملل عمومي شورا د مارکس په ابتکار د ایرلېنډ د ملي آزادۍ غوښتني نهضت د برتانوي حاکمیت په مقابل کي تائید کړ. مارکس په دې پوهېدی، چې د ایرلېنډ ملي نهضت یو داسي قدرت دئ، چې نه یوازي د برتانیې د لویي زمینداره طبقې، بلکي د برتانیې د بورژوا طبقې په مقابل کي هم انقلابي ماهیت لري. پر ایرلېنډ باندي تسلط بورژوا طبقې ته دا امکانات برابر کړي ول، چې خپل مزدورکاران پر دوو متخاصمو محاذو باندي ووېشي؛ یعني یوې خوا ته برتانوی کارګر او بلي خوا ته ایرلېنډی کارګر د دښمنۍ په حالت کي وساتي. مارکس دغه جلاوالی د دې عامل باله، چې برتانوی کارګر د برتانیې د بورژوا طبقې په مقابل کي کمزوری پاته کوي. ده دا خبره تشریح کړه، چې د ایرلېنډ آزادي د برتانویانو د خپلي آزادۍ اساسي شرط دئ. مارکس په همدې مناسبت لیکلي دي، چې «یو ملت چې بل ملت مریی کوي، نو هغه خپل ځنځیران له یاده باسي!» د ایرلېنډ د خلکو له ملي مبارزو څخه مارکس دا نتیجه واخیسته، چې د ملي او استعماري مسئلې په باب هغو بنیادي اساساتو ته انکشاف ور کړي، چې پخوا ئې لا په خپلو مقالو کي د اروپا، هند او چین د ملي آزادۍ غوښتونکو نهضتونو په برخه کي تدوین کړي ول. مارکس کارګري طبقې ته وښووله، چې دغه مسئله باید د انقلاب د منافعو له نظره وکتل سي. ده د پرودن د طرفدارانو هغه نظریات انتقاد کړل، چې له مي مسئلې څخه ئې سترګي پټولې او «ملت» ئې یو «تر وخت تېر تعصب» ګاڼه. له بلي خوا بیا ده له بورژوازي ناسیونالیزم Nationalism سره هم مخالفت درلود او پرګنو ته ئې د ثابت پرولتاري انترناسیونالیزم Internationalism ښوونه کوله. لینن لیکلي دي: «د ایرلېنډ په مسئله کي د مارکس او اینګلس پالیسي د هغه برخوردیو ځلانده مثال دئ، چې د مظلومو ملتو پرولتاره طبقه ئې باید د ملي نهضتونو په نسبت غوره کړي او همدا مثال تر نن ورځي خورا زیات عملي اهمیت لري.

## د روسي څانګي افتخاري مشري:

هغه وخت چې مارکس د باکونین د پیروانو په مقابل کي مبارزه کوله، نو د لومړي بین الملل روسي څانګه، چې د ۱۸۷۰م. کال په سر کي جوړه سوې وه، په ډېر قوت د مارکس په پله کي ودرېده.

روسي څانګي له مارکس څخه غوښتي ول، چي په بین الملل کي د هغې نمایندهګي پر غاړه واخلي او مارکس هم په ویاړ سره منلي ول، چي په عمومي شورا کي دغه نمایندهګي وکړي. د روسي څانګي همکاري له مارکس سره او هم ده ته خپله نمایندهګي ور سپارل، یوه تصادفي خبره نه وه؛ ځکه د مارکس نوم وختي لا د روسیې په انقلابي ځوانانو کي خپور سوی وو. د کاپیټال د کتاب د خارجي ترجمې په باب لومړی پیشنهاد له روسیې څخه مارکس ته راغلی وو او ده په هغه لیک کي، چي دغه موضوع ئې کوګلمان ته کښلې ده، دا هم زیاته کړې ده، چي د ده نوم او آثار، لکه د فلسفې فقر او پر سیاسي اقتصاد انتقادي لیکنه تر بل هر هیواد په روسیه کي زیات شهرت لري. مارکس نو د همدې ارتباطاتو په وجه د روسیې په هیواد، اقتصاد، کلتور او ادبیاتو کي زیاته علاقه اخیسته او هم ئې هغه مبارزې په غور تعقیبولې، چي د روسیې خلکو د تزار او لویو ملاکانو په مقابل کي سر ته رسولې. مارکس روسي ژبه زده کړې وه او وایي، چي د پوشکین Pushkin، ګوګول Gogol، سالتیکوف Saltykov، چیدرین Schedrin، فلیروفسکي Flerovsky، هرزن Herzen، دوبرولیوبوف Dobrolyubov، چرنیشیفکسي Chernyshevsky او نورو روسي لیکوالو آثار ئې په روسي ژبه کي مطالعه کړي ول.

## افشاګري:

د ۱۸۷۰م. کال د جولای پر ۱۹مه د فرانسې او پروس تر منځ جګړه ونښته. دې پېښې نو د بین الملل سازمان له سخت ازمایښت سره مخامخ کړ. څلور ورځي وروسته؛ یعني د جولای پر ۲۳مه د بین الملل عمومي شورا په خپله یوه جلسه کي د ټولو هیوادو د کارګرانو په نامه د مارکس په قلم یوه ابلاغیه صادره کړه. په دې ابلاغیه کي مارکس وښووله، چي د لویي بناپارټ جګړه د المان په مقابل کي یوه د لوټماری جګړه ده او غواړي په دې وسیله د خپل حاکمیت ساحه ډېره پراخه کړي. ده وویل، دغه جګړه به په خپله د بناپارټ سر وخوري او د خپل تخت په قیمت به ورته تمامه سي. مارکس د المان له خوا د جګړې موضوع داسي تفسیر کړه، چي په دې جګړه کي د المان د حقیقي منافعو او د پروس د ارتجاعي او لوټماري منافعو تر منځ توپیر موجود دئ. ده په ډاډ سره وویل، چي مترقي کارګران که په فرانسه کي دي او که په المان کي، یو سم بین المللي دریځ ئې غوره کړی دئ. «دغه ستر واقعیت چي په تېر تاریخ کي سابقه نه لري، د یوې ځلانده آیندې زیری ور کوي. د دې

واقعیت له مخي ثابتیږي، چې زړه ټولنه له خپلو اقتصادي بدمرغیو او سیاسي لېونتوبو سره لـه منځـه ځي او پر ځای ئې داسي نوې ټولنه منځ ته را ځي، چې د هغې بین المللي اصل به سوله وي؛ ځکه د دې ټولني ملي واکمني به هر چیري پـر یـوه شـي؛ یعنـي کـار بانـدي ولاړه وي. د دغـي نـوي ټـولني مخکښ د کارګرو بین المللي اتحادیه ده.»

څه وخت چې د فرانسې عسکر د سیدان په محاذ کـي المانیـانو تـه تسـلیم سـول او د لـویي بناپـارټ دوهمه امپراطوري ړنګه سوه او پر ځای ئې په فرانسه کي جمهوریت اعلان سو، نو مارکس د لومړی ابلاغیې محتویات، چې هلته د بناپارټ د سقوط پیش‌بیني سوې وه، را په زړه کړه او د عمـومي شـورا په یوه جلسه کي ئې، چې د ۱۸۷۰م. کال د سیپټمبر پر ۹مه ئـې جـوړه کـړه، بلـه ابلاغیـه خپرېـدو تـه وسپارله. د المان فاتحانه جګړې چې د لوټماری شکل اخیست، په مقابل کـي ئـې مـارکس د المـاني کارګرانو دپاره دا شعار تدوین کړ: «د فرانسې دپاره شـرافتمندانه سـوله او د فرانسـې د جمهوریـت پـه رسمیت پېژندنه!» خو په دې باب کي، چې د فرانسې کارګران څـه ډول دریـځ غـوره کـړي، مـارکس عقیده درلوده، چې هغه ټوله وسایل، چې جمهوري آزادی ورته مهیا کړي دي، بایـد پـه دې لار کـي ئې په کار واچوي، په اساسي توګه د خپلي طبقې سازمان او تشکیل غښتلی کړي. مارکس پیش‌ګویي وکړه، چې په فرانسه کي طبقاتي مبارزې مخ پر شدت دي او د فرانسې پرولتاریـان ئـې لـه دې خطـره څخه خبر کړل، چې باید بې وخته پاڅون ته لاس وا نه چوي.

## لومړنی پرولتاري انقلاب:

د ۱۸۷۱م. کال د مارچ اتلسمه وه، چې د پاریس پرولتاریانو د نړی لـومړی پرولتـاري انقـلاب سـر تـه ورساوه او د کارګرو هغه دولت ئې جوړ کړ، چې د پاریس د کمون پـه نامـه شـهرت لـري. د پـاریس کمون د راتلونکي زمانې دپاره د هغه راز دولت نمونه وه، چې له زړې بورژوا ټولني څخه نوي ټـولني ته د انتقال سلسله په سر رسولای سي.

کله چې له پاریس څخه د کارګري انقلاب خبرونه لندن ته را ورسېدل، نو مارکس بېـړه وکـړه، چـې د نړی ټولو هغو برخو ته لیکونه واستوي، چې هلته د بین الملل څانګي موجودي وې او په دې لیکونو کي ئې د مارچ د اتلسمي انقلاب واقعي مفهوم د نړی پرولتاري طبقې تـه تشـریح کـړی او د پـاریس کمون په دفاع کي ئې مبارزې ته را وهڅوي.

له مارکس سره په دې فعالیتونو کي اینګلس هم جدي برخه اخیسته؛ ځکه هغه له دفتري کاره څخه اوس را فارغه او له مانچیسټر څخه لندن ته راغلی وو. ده خپل ټوله وخت د عمومي شورا په چارو کي په مصرف رساوه.

مارکس او اینګلس د لیکونو په ذریعه او د شفاهي هدایاتو له لاري د اعتمادي خلکو پر لاس کمون‌والو ته مشورې ور کولې او زیار ئې ایستی، چي له اشتباهاتو څخه ئې وژغوري؛ خو د دوی لارښووني پاریس ته پر وخت نه رسېدې، ځکه په سخته کلابندۍ کي را ښکېل وو. د دوی د لارښوونو په مخ کي دا خنډ هم وو، چي د پاریس د کمون مشري یا د پرودن او یا د بلانکوی Blanquiد طرفدارانو په لاس کي وه او هغو ډېر ناوخته او یا په سړه وضعه هغه راز تدابیر عملي کول، چي د دوی له فرقوي دوګماتیکو احکامو سره به ئې سر نه خوړی.

په پاریس کي لا کلابندي روانه وه او د توپکو خولې له دودانو څخه ډکي وې، چي مارکس په ځلاند او روښانه توګه د کمون جریانات په هغه ابلاغیه کي تحلیل کړل، چي «په فرانسه کي داخلي جنګ» تر عنوان لاندي ئې د بین الملل د عمومي شورا په غوښتنه د هغې په یوه غونډه کي د ۱۸۷۱م. کال د مې پر ۳۰مه ولوستله. دغه اثر چي د ابلاغیې په توګه په اروپا او امریکا کي د بین الملل ټولو غړو ته لیکل سوی وو، داسي مهم سیاسي سند وو، چي د نړۍ پرولتاري طبقه ئې د کمون له تجربو سره شناخته کړه. مارکس په دې سند کي د کمون تاریخي اهمیت وښود. ده د خلقي پرګنو د مبارزانو تجربې د تیورۍ له مخي را ټولي کړې او د پرولتاري طبقې د دولت او د دیکتاتورۍ په باب ئې د خپلي تیورۍ په تائید کي مهم نتایج لاس ته راوړل. مارکس د کمون چاري په ژوره توګه تجزیه کړې او خپل هغه پخوانی حکم، چي په اتلسم برومیر کي را منځ ته کړی وو، بیا هم تائید کړ، چي پرولتاره طبقه چي کله قدرت ته ورسیږي، نو باید د دولت زوړ ماشین دړې وړې کړي؛ ځکه کارګره طبقه نه سي کولای، له تیار زاړه دولتي ماشین څخه د خپلو مقاصدو د پوره کېدو دپاره کار واخلي. سربېره پر هغه مارکس د کمون له تجربو څخه دا نتیجه هم واخیسته، چي د پرولتاري طبقې د دولت پر نوي طرز باندي ورغیږي. ده وویل، چي کمون هغه شکل دئ، چي بالآخره کشف سو او تر هغه لاندي د کار اقتصادي آزادي په سر رسېدای سي.

مارکس او اینګلس سره له هغه چي د کمون اشتباهات ئې انتقادول، خو د کمون‌والو قهرماني ئې هم ستایله. دوی که څه هم په دې پوهېدل، چي امکان لري کمون به ناکامه سي، خو بیا ئې هم په زیات اهمیت ورته کتل. دوی د کمون پېښه د نړۍ په تاریخ کي یوه نوې مرحله بلله.

له بده مرغه په کمون ماته گډه سوه او ناکامي ئې یو شمېر عوامل درلودل. په دې جمله کې اساسي عامل داسي ګڼل سوی دئ، چي کاګره طبقه له سازماني او تیورتیکي پلوه پوخوالي ته نه وه رسېدلې او پرولتاري ګوند ئې نه درلود. د بزګرو سره نه ارتباط همدارنګه د کمون په ناکامۍ کي اغېزمن ښوول سوي دي.

## د پاریس تر کمون وروسته:

د کمون تر ناکامېدو وروسته د بین الملل په چارو کي زیات مشکلات را پیدا سول. د بېلا بیلو ارتجاعي حکومتو واکمنو د بین الملل څانګي، هر چیري چي وې، تر سختي څارني لاندي ونیولې او د هغې د مشر؛ یعني مارکس په نسبت ئې خپلي ورانکارۍ شدیدي کړلې. په بین الملل کي دننه هم، کله چي «په فرانسه کي د داخلي جنګ» ابلاغیه خپره سوه، نو د عمومي شورا د غړو تر منځ ناوړو اختلافاتو زور واخیست. په هغه غونډه کي چي د ۱۸۷۱م. کال د جون پر ۲۰مه عمومي شورا جوړه کړه، د برتانیې د صنفي اتحادیو دوو اپورچونیستو مشرانو، چي یو ئې اوډګر Odger او بل ئې لوکرافټ Lucraft نومېد، دا اعلان وکړ، چي دوی له دغې ابلاغیې څخه خپله امضاء واخیسته. د دوی د بې زړه توب پر ضد مارکس په اخبار کي اعلان کړل، چي دغه ابلاغیه ده په خپله لیکلې وه او د محتویاتو ټوله مسؤلیت ئې په ده اړه لري.
د ۱۸۷۱م. کال د سیپټمبر له ۱۷مي څخه تر ۲۳مي پوري د بین الملل یوه غونډه «د لندن د کنفرانس» په نامه جوړه سوه. په دغه غونډه کي پر دې مسایلو غور وسو، چي باید بین المللي سازمان غښتلی سي، مرکزیت ئې پیاوړی سي او د رهبري شورا د رهبرۍ نقش اغېزمن سي. همدارنګه پر دې ضرورت خبري وسوې، چي د پرولتاري طبقې خپل ګوند را منځ ته سي او دا موضوع وڅېړل سوه، چي د اقتصادي او سیاسي مبارزو په منځ کي نه بېلېدونکی پیوند موجود دئ. په دې لړ کي د باکونین د هغې فرقوي ډلي پر تصفیه هم پرېکړه وسوه، چي «اتحاد» نومېدله. همدارنګه هغه عمومي اصول چي مارکس په موقتي ډول د کارګرو د بین المللي اتحادیې دپاره په ۱۸۶۴م. کال کي تهیه کړي ول، دلته په تصویب ورسېدل.
اوس نو د باکونین د طرفدارانو مخالفت ډېر زور واخیستی او د عمومي شورا په باب کي ئې ډېري بدي خبري کولې. دوی غوښته چي د بین الملل سازمان د مستقلو ډلو اتحادیه وي او عمومي شورا د

مکاتباتو یوه ارتباطي او اطلاعاتي اداره وي. دوی په عمومي شورا پوري دا تور پوري کاوه، چي قدرت ئې غصب کړی دئ او دا چيغي ئې وهلې، چي د المانيانو او په تېره بيا د مارکس ديکتاتوري ده.

د لندن تر کنفرانس وروسته مارکس او اينگلس د باکونين د ډلي په مقابل کي هغه متحد الماله ابلاغيه خپره کړه، چي عنوان ئې داسي وو: «په بين الملل کي تخيلي انشعاب». په دې ابلاغيه کي دوی د باکونين د ډلي توطيې، دوه مخيزه کارونه او انشعابي فعاليتونه ټوله افشاء کړل. دوی هغه حرکتونه رسوايي ته را وايستل، چي غوښتل ئې بين الملل له دننه څخه تخريب کړي. مارکس او اينگلس د باکونين د انارشيزم د شعار خاينانه ماهيت وښود او د هغه خطرناکه نقشې ئې څرگندي کړې، چي غوښته ئې پرولتاره طبقه د هغي بورژوا طبقې په مقابل کي خلع سلاح کړي، چي تر پزي پوري په وسله سمباله وه.

د باکونين د ډلي په مقابل کي مبارزه هغه وخت ډېره سخته سوه، چي د ۱۸۷۲م. کال په سيپټمبر کي د بين الملل آخره کنگره په هاگ Hague کي جوړه سوه. د کانگرې اکثريت د عمومي شورا خبري تائيد کړې او له همدې لاري ئې د مارکس طرفداري وکړه. مارکس په خپله بيانيه کي د کانگرې غړو ته افشاء کړه، چي د باکونين غيراصولي متحدين، چي د برتانيې د صنفي اتحاديو مشران دي، د بورژوا طبقې او حکومت له خوا رشوتونه اخلي او کارگري نهضتونه کږې خوا ته بيايي.

د لندن د کنفرانس هغه پرېکړه، چي د کارگري طبقې د مستقل سياسي فعاليت په باب ئې کړې وه، په دې کنگره کي تر بحث لاندي ونيول سوه او د بين الملل په عمومي اصولو کي د اوومي مادې د دوهم جز په توگه شامله سوه. د هغه راپور تر اورېدو وروسته، چي د يوې ټاکلي جرگې د څېړنو په اساس د باکونين د ډلي د انشعابي فعاليتونو په باره کي ترتيب سوی وو، د هاگ د کنگرې په غټ اکثريت سره د اتحاد مشران، چي يو باکونين او بل گويلامي Guillaume وو، د بين الملل له غړيتوب څخه اخراج کړل. په دې کانگره کي دا فيصله هم وسوه، چي د عمومي شورا مرکز نيويارک ته ولېږدول سي؛ ځکه د يوې خوا اروپايي حکومتونو د بين الملل ځانگي تر سختي څېړني لاندي نيولي وې او بل د وړې بورژوا طبقې عناصرو د ځينو ځانگو په دننه کي تخريب کاوه. له دې انتقاله سره نو د بين الملل اتحاديه هم له صحنې څخه ووته.

## په امسټرډم کي ځيني مهم توضيحات:

د هاګ تر کنګرې وروسته په امسټرډم Amsterdam کي يوه غونډه جوړه سوه، چي په هغې کي مارکس هم برخه واخيسته. ده د خپلې بيانيې په ترڅ کي دې تاريخي ضرورت ته توجه واړوله، چي پرولتاره طبقه بايد د سوسياليستي ټولني د جوړښت دپاره سياسي قدرت په لاس کي واخلي او هم ئې دا پر زياته کړه: «موږ هيڅ کله نه دي ويلي، چي دغه هدف ته کورټ له يوې لاري څخه څوک رسيږي. موږ په دې ضرورت پوهيږو، چي بايد د بېلا بيلو هيوادونو موسسات، رسومات او عنعنات په پام کي ونيول سي. موږ له دې څخه انکار نه کوو، چي ځيني داسي هيوادونه سته، لکه امريکا او انګلستان، چي هلته به کارګر ښايي خپل هدف ته له سوله‌ييزي لاري څخه ورسيږي. که چيري زه ستاسي په موسساتو پوهېږم، نو په دې لړ کي هالنډ هم شاملوم. خو د دې خبري له منلو سره موږ بايد دا حقيقت هم ومنو، چي د اروپا په زياترو هيوادو کي به قوه زموږ د انقلاب رافعه وي او دا قوه ده، چي موږ به بالآخره په ټاکلي فرصت کي د حاکميت د تاسيس دپاره هغې ته لاس واچوو.»

د نړۍ د پرولتاريانو ستر مشر د خپلې بيانيې په ادامه کي وويل: «خو تر کومه ځايه چي خبره په ما اړه لري، زه به د کارګرو د پيوستون دپاره په نه ستړي کېدونکي ډول خپل هغه فعاليتونه جاري وساتم، چي په آينده کي به خورا ډېره ګټه پر بنا سي. داسي نه ده، چي زه د بين الملل څخه لاس پر سر کوم، بلکي زما پاته ژوند به هغه راز لکه دمخه چي وو، د هغو اجتماعي افکارو بري ته وقف وي، چي ژر يا وروسته به موږ د ټينګ باور سره مطابق پر ټوله نړۍ باندي د پرولتاري طبقې حاکميت منځ ته راوړي.»

څه رنګه چي د هاګ کانګرې پرېکړه کړې وه، چي د اتحاد په نامه د انشعابي ډلي اسناد خپرېدو ته وسپارل سي، نو په ۱۸۷۳م. کال کي مارکس او اينګلس د لافارګ Lafargue په ملګرۍ يوه رساله ترتيب کړه، چي عنوان ئې داسي وو: «د سوسياليستي ډيموکراسۍ اتحاد او د کارګرو بين المللي اتحاديه». په دې سند کي دوی د اتحاد تاريخچه او په بېلا بيلو هيوادو کي د هغوی د ورانکارۍ فعاليتونه وښووله. دا رساله له هغه راپور سره يو ځای خپره سوه، چي د اتحاد د انشعابي فعاليتونو پاره کي تهيه سوی وو. د دې رسالې له خپرېدو سره د باکونين پر انارشيزم باندي کاري ضربه وارده سوه او باکونين په خپله له سياسي ژونده څخه ګوښه سو.

د هاګ کانګره په حقیقت کې د لومړي بین الملل آخرینه کنګره وه. د اتو کالو پـه دوران کـې د بـین الملل سازمان د مارکس په مشـرۍ د انقلابـي مبـارزو سـتر بریالیتوبونـه وګټـل. ایـنګلس د مـارکس د فعالیتونو په باره کې لیکي، چې: «د بین الملل زیاتره اسناد له افتتاحیه وینا څخه نیولې، بیا د فرانسـې د داخلي جنګ تر ابلاغیې پورې ټوله مارکس تسوید کړي دي او د دې له پاره چې په بین الملل کې د ده فعالیتونه وښوول سي، په کار ده، چې د دې اتحادیې تاریخ ولیکل سي.» د ایـډیالوجۍ لـه پلـوه د پرودن، لاسال او باکونین د نیمګړو سوسیالیستي او نیم سوسیالیستي نظریاتو په مقابل کـې د مـارکس علمي سوسیالیزم د بین الملل د مبارزو په دوران کې ستر بري ته ورسېد. لینن د بـین الملـل د سیاسـي اهمیت په ارتباط داسې ویلي دي: «لومړی بین الملل خپل تاریخي نقش سر ته ورساوه او د نـړۍ پـه ټولو هیوادونو کې ئې د کارګري نهضت د بې اندازې لوی انکشاف د یوې دورې دپاره لار هواره کړه او دا رشتیا هم هغه دوره وه، چـې پـه ځـانګړو ملـي دولتونـو کـې کـاګري نهضـت پـوره وده وکـړه او توده‌یي سوسیالیستي کارګري ګوندونه منځ ته راغلل.»

## د تیورتیکي څېړنو ادامه:

تر دې پېښو وروسته نو مارکس بیا د دې دپاره وخت پیدا کړ، چې د سیاسي اقتصاد په برخـه کـې پـه خپل تیورتیکي کار لاس پورې او د کاپیټال دوهم جلد د چاپ دپاره چمتو کړي.

اوس نو د اروپا په هره برخه کې سیاسي وضعه ارامه سوه. د لینن له تشریح سره سم «غرب بـورژوازي انقلابونه سر ته ورسول او شرق لا تر اوسه دې مرحلې ته نه وو را رسـېدلی.» اروپـا داسـې مرحلـې تـه داخله سوه، چې د تحول د یوې راتلونکي دورې دپاره پـه آرامـه وضـعه کـې تیـاری ونیسـي. پـه دې حالت کې د مارکس هڅه دا وه، چې په هر هیواد کې د هغه ځای د ممیزاتو، اقتصـاد، سیاسـي ژونـد، طبقاتي مبارزې، د کارګري نهضت د فکـري رشـد او محلـي موانعـو لـه موازینـو سـره سـم پرولتـاري ګوندونه منځ ته را سي.

په دې سبب چې مارکس د بین الملل په چارو کې ځان ډېر ستړی کړی وو او هم ئـې پـه وړې نـس زیات دماغي کار کړی وو، نو ئې صحت مـخ پـر خرابېـدو دئ. پـه ۱۸۷۴م. کـال کـې د خپلوانـو او ملګرو په ټینګار کارلسباد Carlsbad ته په سفر ولاړ، چې هلته د تـودې چینـې پـه معـدني اوبـو کـې

ولمبيږي. وايي چي همدغه ځای ته بيا په ۷۵- ۱۸۷٦م. کلونو کي دوه پلا نور هم ولاړ. خو وروسته ئې د پروس او اطريش د حکومتو د څارني په خاطر د دغه کلني سفرونو سلسله پرېښووله.
د دې زمانې په دوران کي مارکس او اينګلس المان ته پاملرنه کوله، چي هلته پرولتاري ګوند منځ ته را سي؛ ځکه همدا وخت المان د کارګري نهضت مرکز ګرځېدلی وو، خو د دې کار په مخ کي لوی خنډ د لاسال د ډلي نفوذ وو. اوس نو هلته دوو ګوندونو فعاليت کاوه؛ يوې خوا د کارګري سوسيال ډيموکراټيک ګوند وو، چي ايزناخان ئې بلله. د دې ګوند مشري د ليبکنخت او بيبل په غاړه وه. بلې خوا ته د المان د کارګرو عمومي اتحاديه وه، چي د لاسال طرفدارانو ئې رهبري کوله. داسي شرايط را پيدا سول، چي دغه دوه ګوندونه سره ګډ سي او د المان د سوسياليستي کارګرانو واحد ګوند منځ ته را ولي. په عمومي صورت مارکس او اينګلس د دې يووالي مخالف نه ول، خو د تلواري او غيراصولي وحدت سره ئې مخالفت کاوه. دوی د ايزناخ مشرانو ته څو څو کرته ويلي ول، چي تلواري اتحاد د المان د کارګرو نهضت ته تاوان رسوي، خو له دې ټولو خبرو سره د دغو دوو ګوندو مشران خپل تر منځ مفاهمې ته سره رسېدلي ول او په نتيجه کي ئې د وحدت دپاره يو پروګرام تسويد کړی وو، چي وروسته د هغي مشترکي کانګرې په نسبت، چي د ۱۸۷۵م. کال د مې له ۲۲مي څخه تر ۲۷مي پوري په ګوتا Gotha کي جوړه سوه، د ګوتا د پروګرام په نامه وپېژندل سو.
کله چي مارکس او اينګلس ته د دغه پروګرام يوه کاپي ورسېده او په هغه کي ئې وليدل، چي د لاسال ډلي ته ډېر امتيازات ور کول سوي ول او پر غيراصولي مرام باندي د وحدت خښته ايښوول سوې وه، نو ئې سمدستي د ايزناخ مشرانو ته احتجاجي ليکونه واستول. د ايزناخ مشرانو په خپله دفاع کي دوی ته هم دلايل را وليږل او دې مباحثې ايجاب کړه، چي پر دغه موضوع باندي په اساسي توګه يو تحليلي انتقاد منځ ته را سي.

## د ګوتا پر پروګرام انتقاد:

هغه وو چي د ۱۸۷۵م. کال د مې په اوايلو کي مارکس د نوموړي پروګرام محتويات ماده په ماده په دقيقه توګه تحليل کړل او هغه اثر ئې منځ ته راوړ، چي «د ګوتا پر پروګرام انتقاد» نوميږي. په دې اثر کي مارکس نه يوازي د لاسال د ډلي غيرعلمي دوګماتيک احکام تر انتقاد لاندي ونيول، بلکي په همدې ترڅ کي ئې يو شمېر مهم تيورتيکي مسايل روښانه کړل او خپلي انقلابي تيورۍ ته ئې نور هم

انکشاف ور کړ. مارکس په همدې انتقادي اثر کـي «د سـرمايه‌داري ټـولني»، «راتلـونکي کمونيسـتي ټولني»، «دولت» او «د پرولتاريا ديکتاتوري» پر مسايلو باندي د تيوری له مخـي وړغـېـد او يـو شـمېر خبري ئې په پوره وضاحت څرګندي کړې. ده وويل چي د سرمايه‌داري ټولني او کمونيسـتي ټـولني تر منځ به يوه سلسله انقلابي تحولات وي، چي انتقالي مرحله جوړوي او له دې مرحلې سره مطابق به همدارنګه يوه سياسي انتقالي دوره وي، چي په هغه کي به دولت صـرف د پرولتـاري طبقـې انقلابـي ديکتاتوري وي.

مارکس د کمونيستي ټولني پر دوو مرحلو هم وړغېد، چي په لومړۍ کي به د کارګرو حقوق يو له بله سره يو شی نه وي. د دې خبري علت ئې داسي وښووی، چي کمونيستي ټولنـه خـو لـه خپلـو ريښـو څخه منځ ته نه را ځي، بلکي د سرمايه‌داري ټولني څخه را زيږي او نو ځکه له هره پلوه د هغي زړې ټولني اقتصادي، اخلاقي او ذهني خصوصيات ور سره وي، چي دا ئې له رحم څخه منځ تـه را ځـي. مارکس دغه موضوع په خپلو خبرو کي داسي تشريح کړه: «خو دا نيمګړتياوي د کمونيستي ټولني په لومړۍ مرحله کي حتمي دي، ځکه چي دا ټولنه د لنګون تر اوږدو دردونو وروسـته لـه سـرمايه‌داري ټولني څخه را زيږي. حق هيڅ کله د ټولني تـر اقتصـادي سـاختمان او د هغـه تـر اغېـزې لانـدي لـه کلتوري انکشاف څخه نه سي لوړېدای.

د کمونيستي ټولني په يوه پورتنۍ مرحله کي، چي پر فرد باندي د کار د تقسيم غلامانه اطاعت پای ته ورسيږي او له هغه سره سم د دماغي او بدني کار تر منځ توپير له منځه ولاړ سي او کـار نـه يـوازي د ژوند وسيله وي، بلکي د ژوند اساسي ضرورت وګرځي او د فرد له هر اړخيزه انکشـاف سـره توليـدي قواوي هم زياتي او د دې ګډي همکارۍ د ثروت چينې په پرېمانۍ را وبهيږي، نو صرف هغه وخت به د بورژوازي حق له محدود افق څخه يو مخيزه را وتل امکان پيدا کړي او ټولنـه بـه پـر خپـل بيـرغ وليکي: «له هر چا څخه د استعداد په اندازه او هر چا ته د احتياج په اندازه!»

له هغو ټولو انتقاداتو سره چي مارکس او اينګلس پر درلودل، بيا هم د المان دوو ډلو د ۱۸۷۵م. کـال د مې له ۲۲- ۲۷مي پوري په ګوتا کي مشترکه کانګره جوړه کړه او خپل پروګرام ئې له لـږو تعـديلاتو سره تصويب کړ. دوی په ګډه توګه «د المان د سوسياليستي کارګرانو واحد ګوند» منځ ته را وست. په دې نسبت چي المـاني کـارګرانو همدغـه مشـترک پروګـرام تـه اميـد درلـود او د هغـه محتويـات ئـې کمونيستي تفسيروله، نو مارکس او اينګلس هم دا مناسبه و نـه ګڼلـه، چـي خپـل مخالفـت تـه علنـی شکل ور کړي او مقابله ور سره شروع کړي.

لکه مارکس او اینګلس چي وختي لا ویلي ول، د ګوتا د وحدت پروګرام په ګوند کي د وړې بورژوا طبقې عناصرو ته لار خلاصه کړه او له همدې سببه د ګوند تیورتیکي او سیاسي سویه را کښته سوه.
دا وخت په برلین پوهنتون کي د پوهاند مرستیال ډاکټر یوګن ډیورینګ Eugen Duhring را میدان ته سو او د نوي واحد ګوند په دننه کي ئې د یوې بلي ډلي د جوړولو په هڅه د خپلي ایډیالوژۍ یو ارت سیستم وړاندي کړ، چي د فلسفې، سیاسي اقتصاد او سوسیالیزم ټولي مقولې ئې په ځان کښي ایستلې. د ده ټوله سیستم په ذات کي د وړې بورژوا طبقې له هر راز ګډو وډو نظریاتو او افکارو څخه یوه بې سره او بې ښکره مجموعه وه. د المان سوسیال ډیموکراټ مشرانو غوښته، چي د ډیورینګ نظریات د کارګرو تر منځ خپاره کړي او په سوسیالیستي مطبوعاتو کي د دې نوي اجتماعي مصلح د ستاینې غزلي پیل کړي. مارکس او اینګلس دا ضروري وګڼله، چي د دې غیراصولي افکارو مخه ونیسي او لیبکنخت هم له دوی څخه وغوښته، چي د ډیورینګ په مقابل کي ژر تر ژره خپل انتقادات ولیکي.

## انټي ډیورینګ:

دا زمانه مارکس پر کاپیټال باندي کار کاوه او د دې دپاره چي له دغه اساسي کاره څخه ئې لاس و نه خیژي، نو اینګلس پر خپله ذمه واخیسته، چي د ډیورینګ ټوله نظریات په اصولي توګه انتقاد کړي. هغه یوه سلسله انتقادي مقالې، چي اینګلس د ډیورینګ پر خلاف ولیکلې، ټوله ئې د مارکس تر نظر تېري کړې. لکه څنګه چي د دوی تر منځ عادت وو، چي په تخصصي برخو کي به ئې یو د بل سره مرسته کوله، نو مارکس په دې جمله کي هغه ټوټه ولیکله، چي د سیاسي اقتصاد په باب یوه لنډه، اما جامع تاریخچه ګڼل کیږي.
وروسته نو د ۱۸۷۷م. کال د سره څخه دغه انتقاد مقالې په هغه اخبار کي را شروع سوې، چي فور وارټس نومېدی او د سوسیال ډیموکراټیک ګوند د اورګان په توګه له لیپزیک څخه خپرېدی. دا مقالې تر دې ټوکي عنوان لاندي چاپېدې، چي: «په ساینس کي د ښاغلي یوګن ډیورینګ انقلاب».
په دې مقالو د ډیورینګ طرفداران خوابدي سول او د ۱۸۷۷م. کال د مې په میاشت کي چي د ګوتا کانګرې غونډه وکړه، نو جوهان موسټ او د ده ملګرو پیشنهاد وکړ، چي فور وارټس باید دغه سلسله مقالې نوري خپرې نه کړي؛ ځکه دوی ادعا کوله، چي د لوستونکو د علاقې وړ نه دي. خو کانګرې

دا فیصله وکړه، چي په اخبار کي دي نه چاپیږي، لاکن په هغه ضـمیمه کـي دي خپـرې سـي، چـي د ساینس په باب کي را وځي. په هر صورت د ۱۸۷۸م. کال تر اواسطو پـوري ټـولي چـاپ سـوې او د هغه کال په دوران کي د انټي ډیورینګ تر نامه لاندي د کتاب په شکل را ووتلې.

مارکس او اینګلس هر کله د المان سوسیال ډیموکراټ ګوند ته دا اخطار ور کاوه، چي د هغـه ګونـد په صفوفو کي تیـورتیکي ګـډوډۍ بـه خـورا خطرناکـه سیاسـي عواقـب مـنځ تـه راوړي او دا خبـره د ۱۸۷۸م. کال په اکتوبر کي رشتیا هم وخته؛ ځکه کله چي بسمارک سوسیالیستي ضد قـانون مـنځ تـه راووړ، نو نوموړی ګونـد لـه سـخت ازمایښـت سـره مخـامخ سـو او داسـي څپڅپانـده اپورچونیسـتي تمایلات د ګوند په صفوفو کي را پیدا سول، چي د هغه موجودیت ئې د یو کارګري ګوند په توګه له تهدید سره مخامخ کړ. مارکس او اینګلس پر یو شمېر لیکونو سـربېره، چـي د ګونـد مشـرانو تـه ئـې وکښل، د ۱۸۷۹م. کال د سیپټمبر د ۱۷-۱۸مو په نېټه ئې متحدالماله ابلاغیه د بیبل، لیبکنخت، برېک Bracke او نورو ته د خطاب په توګه خپره کړه. په دې ابلاغیه کي ئې د سوسیال ډیموکراټانو له ډلـي څخه هم ښکاره اپورچونیستان، لکه: هوخبرګ Hochberg، برنسټین Bernstein او نور او هم ئـې د انقلابي کلماتو قهرمانان، لکه ج. موسټ او نور تر انتقاد لاندي ونیـول او و ئـې غنـدل. دوی د المـان سوسیال ډیموکراټ ګوند ته وښوول، چي د دغو عناصرو له پلوه لوی خطر ګوند ته متوجه دئ، ځکه دوی غواړي، چي کارګري ګوند د وړې بورژوا طبقې په یو ریفورم غوښتونکي ګوند واړوي. مارکس او اینګلس د دې له پاره چي د المان سوسیال ډیموکراټ نهضت سره په دې برخه کي مرسته وکـړي، چي د بسمارک د سوسیالیستي ضد قانون په شرایطو کي سمه انقلابي لار په مخه واخلي، نـو ئـې پـر دې ټینګار کاوه، چي انقلابي تیوري سوچه وساتل سي او له هر داسي تبارز سره مقابله وسي، چي په تیوري او عمل کي اپورچونیستي خاصیت ولري.

مارکس او اینګلس همدغه راز پاملرنه د نورو هیوادو سوسیالیستي ګوندونو ته اړولې وه او په تېره ئې بیا د فرانسې د کارګرو ګوند تر ډېري توجه لاندي وو. دوی له هغو څخـه هـم دا خبـره غوښـته، چـي انقلابي تیوري او عمل په ګوند کي له اپورچونیستي تمایلاتو څخه پاک وساتي. د فرانسې د کـارګرو په ګوندي چارو کي مارکس په مستقیمه توګه برخه اخیسته او د همـدې ګونـد د پروګـرام او د هغـه د مقدمې په تسوید کي ئې له جولیس ګویسدي Jules Guesde سـره مرسـته وکـړه، چـي هغـه د دغـه مطلب دپاره په ۱۸۸۰م. کال کي لندن ته راغلی وو.

په هغه وخت کي چي د جوليس ګويسدي او لافارګ مبارزه د ريفورم غوښتونکو په مقابل کي روانه وه، نو مارکس او اينګلس د دوی پر پله ودرېد او حمايه ئې کړل، خو له دې طرفداری سره بيا هم دوی د جوليس ګويسدي او لافارګ پر هغه خوی لاندي انتقاد کاوه، چي انقلابي کلمات به ئې د خپل دوګماتيزم په نسبت په زياته مبالغه استعمالول.
څه رنګه چي دا وخت د فرانسې کارګره طبقه د وړې بورژوا طبقې تر ډېر نفوذ لاندي وه او هلته د کارګري ګوند جوړېده له دې مشکلاتو سره مخامخ ول، چي په دننه کي ئې شديدي مبارزې منځ ته راتلې نو په برتانيه کي بيا تر هغه لا زيات مشکلات موجود ول، ځکه دلته د برتانوي کارګرو مبارزې يوازي په دې پوري محدودي وې، چي اقتصادي غوښتني وکړي او د سرمايه‌داري چوکاټ په دننه کي اصلاحات وغواړي. د دې خبري دليل دا وو، چي برتانيې استعماري انحصارات درلودل او برتانوي سرمايه‌دارانو کولای سوای، چي زياتي ګټي لاس ته راوړي او په يوه برخه ئې د کارګرو مشران ور سره شريک کړي. مارکس عقيده درلوده، چي په سياسي لحاظ د برتانيې د کارګرو تر شاپاته‌والی په دې سبب دئ، چي د تيوری په نسبت بې‌تفاوته دي.

## مارکس د ناروغی په بستر کي:

د مارکس صحت مخ پر زوال وو. په هغه ليک کي چي د ۱۸۸۱م. کال د مارچ پر ۸مه ئې زاسوليچ Zasulich ته کښلی دئ، هغه ته وايي، چي دا لس کاله کيږي، چي کله کله د عصبي رنځ تکليف را پېښيږي او د هغه په نسبت مي و نه کړای سول، چي ستا مکتوب ته پر وخت جواب ووايم. د همدغه کال د جون پر ۲۰مه ئې سورج Sorge ته يو خط کښلی دئ او د هغه په ترڅ کي ئې ويلي دي، چي مايندئ ئې په سخت رنځ ناروغه ده او د جوړېدو اميد نه ورته کيږي. همدغه کال وو، چي د ډيسمبر پر ۲مه د مارکس مايندئ مړه سوه او دې پېښي د ده صحت ته نوره صدمه هم ورسوله. دی چي پر عصبي تکليف سربېره د پلوريزي (ذات الجنب) او مزمن (برونشيټ) په رنځ اخته وو، د معالجې دپاره ئې الجزاير او د فرانسې جنوب ته ولاړ او هغه هم ګټه ور و نه رسوله. په دې پسي ئې د درو لوڼو له جملې څخه مشره لور مړه سوه، چي جيني Jennie نومېدله. د ۱۸۸۳م. کال په جنوري کي د برونشيټ بله حمله پر راغله او د روغتيا حالت ئې د وخامت حالت ته ورسېد. د ده د بدن سېک مخ پر کمېدو وو او د ۱۸۸۳م. کال د مارچ پر ۱۴مه، په داسي حال کي چي د ماپښين درو بجو ته پنځه‌لس دقيقې

پاته وې، مارکس د خوب له خوني څخه را ووت او د مطالعې خوني ته ولاړ. هلته د استراحت په چوکۍ کي کښېنسی او د ابد دپاره ئې په آرام خوب له نړۍ څخه سترګي پټي کړې. اینګلس سمدستي د نړۍ ټولو برخو ته لیکونه او ټیلیګرافونه واستول او د دې لویي ضایعې غمجن خبر ئې د مارکس ټولو ملګرو او پیروانو ته ورساوه. د ۱۸۸۳م. کال د مارچ پر ۱۷مه مارکس د لندن د های ګېټ Highgate په هدیره کي خاورو ته وسپارل سو. د ده پر هدیره لاندي اینګلس دا لاندي بیانیه ایراد کړه، چي موږ دلته د هغې په را ترجمه کېدو سره د مارکس د ژوند قصه پای ته رسوو:

«د مارچ پر ۱۴مه د ماپښین درو بجو ته یو پاو لا پاته وو، چي دې ستر ژوند مفکر خپل تفکر ته خاتمه وویله. دی مو تر دوو دقیقو لا لږ په خونه کي یوازي پرېښود او کله چي له ها خوا ورته راغلو، نو مو ولیده، چي د ناستي په چوکۍ کي په آرام خوب بیده سوی وو، خو د تل دپاره.

د دې انسان په مړینه هم د اروپا او امریکا مبارزي پرولتاري طبقې ته او هم د تاریخ علم ته بې اندازې لویه ضایعه رسېدلې ده. هغه خلا چي د دې غښتلي روح په تلو سره منځ راغلې ده، خورا ژر به ځان محسوس کړي.

کټ مټ لکه ډاروین چي د عضوي طبیعت د انکشاف قانون کشف کړ، همدغه راز مارکس بیا د بشري تاریخ د انکشاف قانون کشف کړ. دا ساده خبره تر اوسه د ایډیالوجۍ تر ګڼو ښاخلو لاندي پټه پاته وه، چي بشر دمخه تر هغه چي سیاست، ساینس، هنر، مذهب او داسي نور شیان وپالي، باید تر هر څه لومړی وخوري، وڅښي، ځای او کالي ولري او نو هم ځکه د ژوندي موجود مادي لوازم او پر هغو باندي د را بنا سوي اقتصادي انکشاف درجه، چي یو ټاکلی اولس ور رسېدلی وي او یا په یو ټاکلې دوره کي لیده کیږي، هغه بنسټ زیر بنا تشکیلوي، چي پر ده باندي د نوموړي اولس دولتي موسسات، حقوقي نظریات، هنري افکار او حتی مذهبي عقاید را بنا کیږي او په همدې سبب نو دوی باید د هغه بنسټ په رڼا کي تشریح سي؛ نه دا چي سرچپه کار وسي، لکه تر اوسه پوري چي همدا ډول کیږي.

خو په دې سره ټوله خبره پای ته نه رسیږي، ځکه مارکس سربېره پر دې د هغه حرکت مخصوص قانون هم کشف کړ، چي د نن وخت د تولید سرمایه‌داري طرز او هم هغه بورژوازي ټولنه اداره کوي، چي دغه تولیدي طرز منځ ته راوړې ده. د اضافي کشف ارزش ناڅاپه پر هغه مسئلې باندي رڼا واچوله، چي په حل کي ئې هم د بورژوازي اقتصادپوهانو او هم د سوسیالیستي نقادانو ټولي پخوانۍ څېړني داسي وې، لکه په تیاره کي چي څوک په یو شي پسي ټپریږي.

د یوه سړي د ژوند په زمانه کي دغه راز دوه کشفونه کافي ګڼل کیږي. هغه څوک نېکمرغه دئ، چي حتی دغسي یو کشف ئې لا په برخه سوی وي؛ خو په هر ځانګړې ځانګه کي چي مارکس څېړني کړي دي او ده ډېري ځانګي تر لاس لاندي نیولي دي، خو یوه ئې لا په سرسري توګه تر څېړني لاندي نه ده څېړلې، بلکي په دا هره ځانګه کي ئې؛ حتی تر ریاضیاتو پوري مستقل کشفیات سرته رسولي دي.

دغه راز وو دغه ساینسي شخصیت. خو دا خبري د دې شخصیت د ښووني نیم بیان لا نه ګڼل کیږي. مارکس ساینس ته د یوې تاریخي محرکي انقلابي قوې په سترګه کتله. مارکس د نظري ساینس په برخه کي په یو داسي نوي کشف ډېر خوشاله کېدی، چي که څه هم د هغه عملي تطبیق به تر اوسه لا امکان نه درلودی، چي تر غور لاندي ونیول سي. خو داسي کشف به بیا بېخي بل راز خوند ور کاوه، چي هغه به په صنایعو کي او په عمومي ډول په تاریخي انکشاف کي سمدستي انقلابي تغیرات را وستل. مثلاً ده هغه کشفیات په غور تعقیبوله، چي د برق په ځانګه کي منځ ته راتله او هم دا اوس د مارسل ډیپرز Marcel Deprez له خوا سر ته رسېده.

مارکس تر هر څه لومړی یو انقلابي شخصیت وو. په ژوندون کي د ده واقعي رسالت دا وو، چي په یوه یا بله وسیله په دې لار کي مرسته وکړي، چي سرمایه‌داري ټولنه او هغه دولتي موسسات، چي دې ټولني منځ ته راوړي دي، ټوله را نسکوره کړي او د اوسني پرولتاري طبقې له آزادئ سره کومک وکړي، چي دا طبقه ده د لومړي پلا له خپل دریځ او خپلو اړتیاوو څخه باخبره کړه او د خپلي آزادئ په شرایطو ئې وپوهوله. مبارزه د ده مرام وو. ده په داسي عشق، ټینګار او بریالیتوب سره مبارزه کوله، چي لږو کسانو سیالي ور سره کولای سوای. ده په لومړي رینش زیتونګ (۱۸۴۲م.)، د پاریس فور وارټس (۱۸۴۴م.)، د المان بروکسل زیتونګ (۱۸۴۷م.)، د نوي رینش زیتونګ (۴۸- ۱۸۴۹م.)، نیویارک تریبیون (۵۲- ۱۸۶۱م.) او د پاریس، برکسل او لندن په سازمانو کي ډېر فعالیتونه سر ته ورسول او بالآخره تر ټولو مهم دا وو، چي د ستري بین المللي کارګري اتحادیې تشکیل ئې منځ ته را وستی او دا رشتیا هم داسي موفقیت وو، چي د هغه موسسې که بل کار هم نه وای کړی، یوازي دغه ویاړ ئې بس وو.

بالآخره مارکس په دې برخه کي هم تر نورو وړاندي وو، چي د مخالفینو خورا ډېر بد ځني راتله او زیات تورونه ئې پوري تړل. حکومتونه که مطلقه وه او که جمهوري، دی ئې له خپلي خاوري څخه ایستی. بورژوازیان که محافظه کار ول او که افراطي ډیموکراټ پر ده باندي ئې د تهمتو په کوټه کولو

کي يو د بل سره سيالي کوله. خو ده به داسي ټوله تورونه او تهمتونه لکه د غني تارونه له ځانه پاکول او سر به ئې نه په گرځاوه. يوازي به ئې هغه وخت جواب ور کاوه، چي زيات ضرورت به دې کار ته مجبوره کړ.
د سايبريا له کانو څخه نيولې تر کاليفورنيا پوري د اروپا او امريکا په ټولو برخو کي په مليونو انقلابـي کارگرو په ده پسي د يو گران او محترم شخصيت په توگه د وير تاثيرات ښکاره کـړه. زه پـه جـرأت دا ويلای سم، چي که څه هم ده زيات مخالفين درلودل، خو يو شخصي دښمن ئې لا نه درلودی.
د ده نوم به په پېړيو کي پاته سي او همدارنگه د ده کار!

**د مارکس آثار چي په دې کتاب کي ئې نومونه راغلي دي:**

۱- د مسلک په ټاکنه کي د يوه ځوان خيالات (مقاله)، ۱۸۵۳م.
۲- د ډيموکريټس د طبيعي فلسفې او د اپيکور د طبيعي فلسفې تر منځ توپير (رساله)، ۱۸۴۱م.
۳- د راين په اولسي جرگه کي د الوارو د غلا پر قانوني لايحه باندي مباحثات (مقاله)، ۴۲- ۱۸۴۳م.
۴- د موزيل د خبريال په دفاع کي (مقاله)، ۴۲- ۱۸۴۳م.
۵- د حقوقو په باب د هيگل پر فلسفه تنقيد، ۱۸۴۳م.
٦- د يهودو مسئله (مقاله)، ۱۸۴۴م.
۷- مقدسه کورنۍ يا د برونو باير او شرکاوو په مقابل کي د انتقادي انتقاد تنقيد (د اينگلس سره په گډه ليکنه)، ۱۸۴۴م.
۸- د المان ايډيالوجي (د اينگلس سره په گډه ليکنه)، ۱۸۴۴م.
۹- د فلسفې فقر، ۱۸۴۷م.
۱۰- کمونيستي اعلاميه (د اينگلس سره په گډه ليکنه)، ۱۸۴۸م.
۱۱- په المان کي د کمونيستي گوند غوښتني (د اينگلس سره په گډه ليکنه)، ۱۸۴۸م.
۱۲- د مزدورۍ کار او سرمايه، ۱۸۴۸م.
۱۳- د ويانا سقوط (مقاله)، ۱۸۴۸م.
۱۴- بورژوا طبقه او ضد انقلاب (مقاله)، ۱۸۴۸م.
۱۵- په فرانسه کي طبقاتي مبارزې، ۱۸۵۰م.
۱٦- د مهاجرو ستر کسان (د اينگلس سره په گډه ليکنه)، ۱۸۵۲م.
۱۷- د لويي بناپارټ اتلسم برومير، ۱۸۵۲م.
۱۸- د کولون د کمونيستي محاکمې په باب افشاءات، ۱۸۵۳م.
۱۹- په هند کي برتانوي حکومت (مقاله)، ۱۸۵۳م.
۲۰- په هند کي د برتانوي حکومت راتلونکي نتايج (مقاله)، ۱۸۵۳م.
۲۱- پر سياسي اقتصاد د انتقاد اساسي اړخونه، ۱۸۵۷م.
۲۲- پر سياسي اقتصاد انتقادي ليکنه، ۱۸۵۹م.
۲۳- هروگټ، ۱۸٦۰م.

۲۴- افتتاحيه وينا (د لومړي بين الملل د تاسيس په مناسبت)، ۱۸٦۴م.
۲۵- د بين الملل موقتي اصول، ۱۸٦۴م.
۲٦- مزدوري، قيمت او ګټه، ۱۸٦۵م.
۲۷- کاپيټال، ۱۸٦۵م.
۲۸- په فرانسه کي داخلي جنګ، ۱۸۷۱م.
۲۹- په بين الملل کي تخيلي انشعاب (د اينګلس سره په ګډه ليکنه)، ۱۸۷۱م.
۳۰- د سوسياليستي ډيموکراسۍ اتحاد او د کارګرو بين المللي اتحاديه (د اينګلس او لافارک سره په ګډه ليکنه)، ۱۸۷۳م.
۳۱- د ګوتا پر پروګرام انتقاد، ۱۸۷۵م.
۳۲- د اينګلس د انتي ډيورينګ په کتاب کي د سياسي اقتصاد تر عنوان لاندي لسمه برخه، ۱۸۷۷م.

**ماخذونه:**

١- **Karl Marx**, by Fredrick Engels.

٢- **On the history of the Communist League**, by F. Engels.

٣- **Critique of the Gotha**, program by K. Marx.

٤- **German Ideology**, by K. Marx and F. Engels.

٥- **Preface to a contribution to the critique of political economics**, by K. Marx.

٦- **The holy Family**, by K. Marx.

٧- **Selected Works,** Vol I & II, by K. Marx and F. Engels.

٨- **Selected Correspondence of K. Marx and F. Engels**.

٩- **Marx, Engels, Marxism**, by V. I. Lenin.

١٠- **Karl Marx Short Biography**, by E. Stepanova.

١١- **Fredrick Engels**, by E. Stepanova.

١٢- **Fundamentals of Scientific Communism**, by V. G. Afanaseyev.



”مارکسیزم زموږ د عصر هغه پیاوړې ایډیالوجي ده، چې د نړۍ په خورا پرله پیچلو سیاسي، اقتصادي او فلسفي جریاناتو کې موږ ته د علمي حقایقو او علمي مبارزو لوری را ښوولای سي. دا ایډیالوجي په خپل وخت کې د فلسفې، سیاسي اقتصاد او سوسیالیزم د هغو درو لویو جریاناتو له تکاملي ترکیب څخه منځ ته راغله، چې په ترتیب سره ئې د آلمان، انګلستان او فرانسې په پرمختللو هیوادو کې یو شمېر انکشافي مراحل وهلي ول. د دې ایډیالوجي ډېر غټ توپیر له نورو سره دا دئ، چې ټولنې ته د طبقاتي تنازع په هنداره کې ګوري او ټولنیز تحولات د همدې تنازع پر بنا باندې د تاریخ پر لار وړاندې بیایي“